www.sikaram.com



www.sikaram.com

# اکبرخان مینه او جګړه

## تاریخي ناول

اکمل داوی

۲۰۲۰

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: **اکبر خان، مینه او جګړه**

لیکوال: **اکمل داوی**

خپرندوی: **سروش کتابپلورنځی**

پښتی: **عبدالواسع هیوادمل**

د خپرونو لړ: **۵۷**

شمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

چاپ وار: **لومړی**

چاپ کال: **۲۰۲۰**

ISBN 978-9936-647-31-2

**د دې کتاب د چاپ، پر ویبپاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**

ادرس: سروش کتابپلورنځی، مینه یار مارکېټ، د درېیمې ناحیې کوڅې ته نږدې، میرویس میدان (کوټه سنګي) کابل - افغانستان.

Sorosh Bookstore

۰۷۸۵۲۰۰۲۱۲

**جلال آباد:** مومند، ختیځ او مازیګر کتابپلورنځي **کندهار:** افغان، کروړ او صداقت کتابپلورنځي **پکتیا:** روحاني بابا، لمر، ماشاءالله اوعلمي کتابپلورنځي **پکتیکا:** مجاهد، شال او پکتیکا کتابپلورنځي **خوست:** ژوندون، رحیمي، قریشي او رڼا کتابپلورنځي **هلمند:** تاج منورکتابپلورنځی **غزني:** انصاري او جدید کتابپلورنځي **زابل:** خیرخواه کتابپلورنځی **مزارشریف:** ثقافت کتابپلورنځی **کابل، احمدشاه بابا مېنه:** بدلون او علمي کتابپلورنځی، **لوګر:** مدقق کتابپلورنځی

## د ناول په اړه:

په ۱۹۳۹-۱۹۴۰ میلادي کلونو کې د افغانانو او انګرېزانو تر منځ د لومړۍ جګړې په ډګرونو کې د اتلولیو او سربښندنو ترڅنګ، په څېنو ځوانو زړونو کې د مینې ګلونه هم غوړېدل. ډېرى انګرېزان له یوه شل کلن افغان ځوان څخه وېرېدل، خو دوو انګرېزو پېغلو ورسره پاکه مینه کوله. د جګړې اتل اکبرخان مینې ته څه ځواب ورکړ؟ د ریښتونو تاریخي پېښو په دې ناول کې یې ولولئ.

## د لیکوال په اړه:

اکمل داوي، خبریال او ژباړونکی دی. پر ټویټر د افغانستان او افغانانو په اړه خبرونه او خپل اندونه لیکي: @akmaldawi

## د ناول په اړه:

په ۱۹۳۹-۱۹۴۰ میلادي کلونو کې د افغانانو او انګرېزانو تر منځ د لومړۍ جګړې په ډګرونو کې د اتلولیو او سربښندنو ترڅنګ، په ځینو خوانو زړونو کې د مینې ګلونه هم غوړېدل. ډېری انګرېزان له یوه شل کلن افغان ځوان څخه وېرېدل. خو دوو انګرېزو پېغلو ورسره پاکه مینه کوله. د جګړې اتل اکبرخان مینې ته څه ځواب ورکړ؟ د ریښتونو تاریخي پېښو په دې ناول کې یې ولولئ.

## د لیکوال په اړه:

اکمل داوی، خبریال او ژباړونکی دی. پر ټویټر د افغانستان او افغانانو په اړه خبرونه او خپل اندونه لیکي: @akmaldawi



# وینځه

زلیخا کری شپه ویښه تېره کړې وه. د پیشلمي ټول تیاری یې وختي لا کړی و، خو پخپله یې هیڅ نشو خوړلای. اصلاً مړی یې تر ستونې نه تېریده. پدې هم نه وه ډاډه چې سبا به روژه ونیسي که نه. که ورځ وای نو تکې سپینې بنې ته به یې د هر چا پام شوی وای او ترې پوښتلي به یې وای چې ناروغه ده که کوم بل څه ورپیښ شوي.

لا تیاره وه چې زلیخا چادري تر بغل لاندې کړه او کرارکرار له خونې راووتله. د انګړ په منځ کې یوه شیبه تم شوه او شاته یې ودانی ته د خدای په امانی په توګه د وروستي ځل لپاره وکتل. د کلا له دروازې نه تر وتلو دمخه یې چادري پر سر راکښې کړه او دباندې راووتله. هوا سړه وه، خو دې یې پروا نلرله او چابکه روانه شوه. د کوڅې په سر کې یې دوه نارینه ولیدل چې تر دې لا چټک روان و. زلیخا پوهیده چې هغوي ولې په بیړه کې دي. د سهار د جماعت

د لمانځه وخت و او هر سړي هڅه کوله چې پر سم وخت د پل خشتي جامع جومات ته ځان ورسوي.

زليخا د پل خشتي د جومات په اړه ډېر اوريدلي و خو پخپله يې دننه هيڅ نه و ليدلی. ډېرو خلکو ويل چې د دې جومات د بنسټ ډبره پخپله حضرت سليمان (ع) ايښې ده، خو ځينو نورو بيا ويل چې د حضرت سليمان په وختونو کې جوماتونه نه و. د پل خشتي جومات په هر لمانځه کې سلګونو نارينه و ګڼون کاوه او د کابل ښار او شاوخوا سيمو ډېر مشران هم ورتلل. تر يوې مياشتې دمخه د جومات امامت حاجي ميرمسجدي خان کاوه چې په خلکو کې يې ډېر نفوذ درلود او هيڅا يې خبره پر مځکه نغورځوله. حاجي صاحب به تل ويل چې مسجدي خان ډېر ديندار او پوه سړی دی. حاجي صاحب هم په پل خشتي جومات کې لمونځ کاوه او د مسجدي خان ديني تقرير ته به يې غوږ نيوه. کله چې مسجدي خان امامت پريښود او کوهستان ته ولاړ، نو ټول مقتديان يې خوابښيني و او شاه (شاه شجاع) او انګرېزانو ته به يې ښکنځلې کولې چې د پل خشتي امام يې پسې واخيست. کابليانو به ويل:

از دست انگليس بدطينت -- امام مسجدي از کابل برآمد

حاجي صاحب به نه پيژنئ؟ اصلي نوم يې عبدالله خان اڅکزی و خو په کور کې ټولو حاجي صاحب باله. حاجي صاحب ډېر مالداره او شتمن و او د زليخا په خير يې ډېرې نوکرانې لرلې، خو زليخا د خپل ښائست او ځيرکتيا له کبله په ټولو کې جلا وه او له همدې کبله پر حاجي صاحب هم تر نورو ډېره ګرانه وه.

عبدالله خان اڅکزی په رښتيا هم خان و. په چمن، کندهار او کابل کې يې ډېر جايدادونه لرل او په سخا او ميړانې مشهور و. عبدالله خان دوې ماندينې درلودې او د کور دباندې يې هم دوه شيان ډېر خوښيدل - آسونه او اتڼ. عبدالله خان په خپل قوم کې هم کلک نفوذ درلود او اڅکزي به تل ده ته د خپلو شخړو او دعواو د حلولو لپاره ورتلل. عبدالله خان په سياست ډېر نه پوهيده نه يې هم د وينا کولو وړتيا لرله خو د حالاتو او خلکو په پيژندنه کې نه

د جنگ لپاره راټول شول او ځکه خو یې چا سیالي نشو کولای. د عبدالله خان په یوه غږ به درې-څلور سوه خوانان
تېروته.

زلیخا ۹ کلنه وه چې په لومړي ځل له خپلې انا سره په کندهار کې د عبدالله خان کور ته ورغله. د زلیخا مور څو کاله دمخه د شپږم اولاد د زیږولو په مهال مړه شوې وه او پلار یې بل واده کړی و. د زلیخا پلار غلام حسین نومیده او پخپلو قزلباشو کې په پنډي حسين مشهور و. پنډي حسين له ملا آذان نه تر ماښامه پر اوږو بارونه وړل خو د خیلخانې پوره ډوډۍ به یې نشو برابرولای. د نیستۍ سربیره د حسين په کور کې د مړوور او خواښې تر منځ تل شخړې هم روانې وې. د حسين میرمنې خپلو دوو وړو زامنو ته ښه ډوډۍ غوښته خو د حسين د مور بیا د حسين پر شپږو یتیمو انجونو د میرې ظلم ته زړه نه ټینګیده. د میرې، خواښې او نیستۍ تر منځ به قرار چیرته وي؟

د حسين مور له ګاونډیو ښځو نه د عبدالله خان په اړه اوریدلي وه چې خورا بډای او د ستر زړه خاوند دی. هغه مهال ډېرو نیستمنو ښځو او انجونو د خانانو په کورنو کې خدمت کاوه. دغه ډول کار موندنه اسانه نه وه، ځکه نیستمن ډېر او خانان په شمیر کې لږ وه. حسين د خپلې مور سره هوکړه وکړه چې زلیخا د عبدالله خان کورته د کارموندنې لپاره ورولي. مور یې زَړه وه او د کارکولو نه وه، ماندینې یې د کور او ماشومانو پالنه کوله -یوازې ۹ کلنه زلیخا د کارکولو وړ وه. زلیخا د عبدالله خان کور ته د نوکرۍ لپاره ورغله خو ورو-ورو او له هغه وروسته چې یې انا مړه شوه، د هماغه کور شوله. د عبدالله خان په کور کې ښه خواړه ور-رسیدل، له یخنۍ او ګرمۍ خوندي وه او تر ټولو مهمه دا چې پخپله عبدالله خان هم نازوله. پنډي حسين هم بده ونه منله کله چې عبدالله خان څو روپۍ په لاس ورکړې او زلیخا یې ترینه کابل ته یووړه. کابل زلیخا بدله کړه. هغه پیغله شوه، نوره هم ښکلې شوه او شوخه او هوسبازه شوله.

د پل خشتي جومات له څنګ نه د تېریدلو په مهال د زلیخا د زړه دربا چټکه شوه او پښې یې وریږدیدلې. که حاجي صاحب یا د کور کوم حاضرباش ولیده او شک یې پر راغی، نو څه به وکړي؟ لدغه فکر سره یې پر بدن د ویرې

سړه شپه نوره هم خپره شوه. خو د جومات شاوخوا خلک ټول په بیړه کې وه چې جماعت ته ځان ورورسوي او چا دې «عاجزې» ته پام ونکړ چې پدې وختي سهار کې چیرې روانه ده.

شاوخوا شل دقیقې به یې مزل کړی و چې زلیخا د شوربازار په سیمه کې د یوه کور مخې ته ودریدله خو لا یې پر دروازې لاس نه و ایښې چې غږ پرې وشو «ادې، څه غواړئ؟ چیرې ځئ؟» د هر چا غږ چې و پدې نه پوهیدی چې زلیخا ادې نه وه، ۱۸ کلنه او ډېره ښکلې پیغله وه. له غږ سره سم زلیخا احساس وکړ چې ساه یې له بدن نه ووتله. بې ارادې سملاسي ودریده خو بیرته وخوځیده او په غیرارادي توګه یې پر دروازې دواړه لاسونه وپړکول.

دروازه خلاصه شوه او دوه سپاهیان راښکاره شول، خو بیله دې چې له زلیخا وپوښتي چې څوک ده او څه غواړي، د سراې دننه یې پریښوده. دننه یو سپاهي یې دمخه او بل یې تر شا روان شو او دا یې مستقیماً د دالان خوا ته بوتله. د دوې تر منځ هیڅ خبرې نه کیدې، داسې چې ګواکې هرچا ته لا له وړاندې ویل شوي و چې څه باید وکړي. د کوټې مخې ته یو سپاهي ودرید او دروازه یې په چپه لاس لا نیمچه خلاصه کړې نه وه چې زلیخا لکه بې وزرې مرغۍ خونې ته ورټوپ کړل.

کوټه نیمه روښانه و، یوه شمع د بخارۍ څنګته بله و او یو کټ یې نږدې پروت و. هیڅوک نه و، چوپه چوپتیا وه. زلیخا مخ لوڅ کړ او د کوټې شاوخوا یې وکتل. یوه شیبه ولاړه پاتې وه او نه پوهیده چې څه وکړي، بیا کټ ته ورنږدې شوله او پر څنډه یې کښینستله. د کوټې ګرمې هوا او چوپتیا آرامه کړه او زلیخا له چادرۍ سره پر کټ پریوتله او په څو شیبو کې خوب یوړه.

زلیخا د عبدالله خان اڅکزي له کور دباندې چا نه پیژندله، خو د همدغې وینځې تیښته په کابل او ټول افغانستان کې د سترو تاریخي پیښو پیلامه شوه. حاجي صاحب چې د زلیخا په تیښتې خبر شو، سخت په غوسه شو او پر حاضرباشانو یې امر وکړ چې «پته یې وکړئ چې چیرته تللې ده.»

غرمه وه چې حاضرباشانو عبدالله خان ته خبر وکړ چې «زلیخا د سکندر کور ته تښتیدلې ده.» عبدالله خان لومړی هک پک پاتې شو چې یوه وینځه څنګه د انګرېزانو د مشرجاسوس کور ته تللې، خو لږ شیبه وروسته یې پدې فکر کولو وینه په جوش راغله چې د ده له حرمسرای نه یوه پیلغه د الکساندر برنس کور ته تښتیدلې وه. کابلیانو انګرېز جاسوس او سیاستوال الکساندر برنس «سکندر» باله. سکندر په دوو چارو مشهور و، لومړی په شیطنت کولو او شراندازۍ کې او دوهم په فحشا او زنکه بازۍ کې. سکندر د کابل د شوربازار د سیمې په یو غټ سرای کې اوسیده او کابلیانو به ویل چې د سکندر کور د رنډیو کاروانسرای دی چې ډېر انګرېزان ورته د جنسي تندې د ماتولو لپاره ورځي.

۳۵ کلن الکساندر برنس په خټه سکاټ (د سکاټلنډ) و او افغانستان او بخارا ته د څو سفرونو او د یوه اثر تر لیکلو وروسته، د افغانانو د چارو کارپوه بلل کیده او هند او انګلستان کې یې ډېر شهرت یې موندلی و. برنس په فارسي، عربي او هندي ژبو پوره بلد و او د افغانانو په دود-دستور، تر ګڼو نورو انګرېزانو، ښه پوهیدی. برنس خړې سترګې، شیرچایي مخ، خرمایي وریښتان او لنډکی ږیره لرله. د ده تر ټولو ښه مهارت په خبرو او شخصي اړیکو کې و، هر چا سره به یې چې ایله پنځه دقیقې بانډار وکړ نو خپل به یې کړ. د برنس تر ټولو ستر ضعف ښځې وې. د ځوانو ښځو هوس به کله برنس دومره بیخوده کړ چې خپل موقف او د افغانانو سختدریځه دودونه به یې ترینه هیر کړل. برنس د ګڼو خبرچیانو او جاسوسانو تر څنګ څو دلالان هم لرل چې د کابل او شاوخوا سیمو د ښکلو ښځو په اړه به یې خبرونه ورته راوړل. دلالانو به برنس ته ښځې هم راوستلې. زلیخا هم له برنس سره د یوه دلال د ماندینې له لارې اړیکې نیولې وې او یو ځل یې په پټه ورسره لیدلي و. برنس زلیخا ته پیغام لیږلی و چې د ده کورته ورسي او دی به یې تر عبدالله خان ډېره ښه وساتي او شتمنه به یې کړي. د زلیخا د تیښتې انتظام د برنس دوو دلالانو کړی و. دوې د برنس د کلا ساتونکو ته خبر ورکړی و چې پدغه سهار وختي به زلیخا ورځي او دوی به یې بیله پوښتنې او ګرویرنې کلا ته بیایي او د برنس خاصې کوټې ته به یې بیایي.

عبدالله خان خپل دوه حاضرباشان د برنس کور ته واستول چې زلیخا بیرته کورته راولي. برنس پوهیدی چې عبدالله خان به خپله وینځه بیرته وغواړي، خو ده پریکړه کړې وه چې داسې غانښ ماتونکی ځواب به ورکوي چې بیا څوک د زلیخا پسې رانشي. مازدیگر مهال و چې حاضرباشان د برنس مخې ته ودریدل او زلیخا یې ترې وغوښتله.

یوه حاضر باش مخې ته شو او وې ویل «حاجي صاحب وایي که مو زنانه بیرته رانکړه نو موږ چې هرڅه وکړل بیا به مو ملامت نه بولې.»

پر برنس د عبدالله خان د حاضرباشو گواښنه بده ولگیده او پر خپلو سپاهیانو یې امر وکړ چې «داسې سزا ورکړئ چې بیا هیڅکله یوه انگریز ته د گستاخی ژبه ونلري.»

د برنس سپاهیانو د عبدالله خان حاضرباشان دومره ووهل چې یوه یې ځای پرځای ساه ورکړه او بل یې په وینو سور د عبدالله خان تر کلا ځان ورساوه. عبدالله خان چې له پیښې خبر شو، نو سد یې له سره پوره وخوت، توره یې راوایستله او پداسې حال کې یې چې په لوړ غږ ښکنځلې کولې له کلا راووت، خو حاضرباشانو راتینگ کړ او بیرته یې کلا ته راووست. په کلا کې ماتم خپور و، تا به ویل چې د کور ځوانان مړه شوي یا کومه بله آسماني تکه پرې رالویدلې ده. یو ساعت وروسته چې په ښکنځلو ستړی شو او یو څه یې سد سرته ورغئ، عبدالله خان خپلې حجرې ته ننوت او له ځان سره یې فکر وکړ چې څه وکړي.

روژه ماتي ته لا وخت پاتي و چې عبدالله خان د عاشقان او عارفان په سیمه کې د امین الله خان لوگري کلا ته ورننوت. امین الله خان تر عبدالله خان مشر و، خو دواړو یو بل ته د کلکو اندیوالانو په سترگو کتل او تل به یې له یو بل سره په لویو چارو کې سلامشورې کولې. دوی دواړه د یو بل په نفوذ او ځواک ښه پوهیدل او پدې یې هم سرخلاص و چې که په گډه کوم کار ته ملا وتړي نو هرومرو به یې ترپایه رسوي.

امین الله خان د لوګر په برکي راجان کې زیږدلی و او لومړنی خان و چې هم په نایب او هم په لوګري مشهور و. د امین الله خان پلار په کشمیر کې د تیمورشاه حاکم و او دی له ماشومتوب نه د شاهي دربار له آدابو او سیاستونو سره اشنا شوی و. لوګري امین الله خان په خبرو او اړیکو پاللو کې ساری نه درلود. په بدن ډنګر خو په ونه جګ و او پنځه وخت لمونځ به یې په جماعت کاوه. امین الله خان له ټولو واکمنو او ملکانو سره ښې اړیکې پاللې او د هر چا د قوت او ضعف نښې ورته څرګندې وې.

هغه مازدیګر چې د امین الله خان سترګې پر عبدالله خان ولګیدې نو پوه شو چې کومه ناوړه پېښه شوې ده، ده لا نه و پوښتلي چې عبدالله خان ورته وویل «خان لالا، زما پر حرم انګرېزانو یرغل کړی او زه ستا کلا ته د دې لپاره راغلی یم چې مرسته راسره وکړې چې له سکندر نه مې غچ واخلم.» عبدالله خان بیا ټول احوال ورته بیان کړ چې څنګه زلیخا د برنس کور ته تښتیدلې او برنس یې د بیرته سپارلو غوښتنه رد کړې ده.

د انګرېزانو په مټو واک ته د شاه شجاع له رسیدلو شاوخوا یو کال تېرېده. په لومړیو میاشتو کې امین الله خان او عبدالله خان د شاه کلک ملاتړي و. دوی له سدوزو او بارکزو دواړو سره ښې اړیکې لرلې او هر قوم به چې برلاسی او زورور و، دوی به یې بیعت کاوه. خو په تېرو څو میاشتو کې حالات داسې شوي وه چې دغو دواړو مشرانو ځانونه په زیان کې لیدل او ورځ تر بلې یې د ځان او دربار تر منځ د بې اعتمادۍ واټن پراخ لیده. د شاه ټولې مهمې او سترې پرېکړې انګرېز استازي، ویلیام مکناټن، کولې او مکناټن د قومي مشرانو او مخورو سره سوړ او غیردوستانه چلند کاوه. مکناټن د قومي مشرانو او ملکانو درې میاشتنۍ تنخواوې او بخششې ډېرې کمې کړې وې او د محکمو له ویش نه نیولې تر قضایي پرېکړو، د شاه پر ټولو چارو یې واک غوړولی و. لنډه دا چې د دواړو مشرانو زړونه لا له وړاندې انګرېزانو ته ډک و او د زلیخا تیښته ورته ښه پلمه شوه چې د یوه ستر کار پرېکړه وکړي.

هماغه ورځ په روژه ماتي د امین الله خان کور ته د سیمې څو نور مشران هم
وروبلل شول او ټولو په یوه خوله د برنس پر کور د برید پریکړه وکړه. دوی آن
یو بل ستر گام هم واخیست او پر یوه قرآن یې لوړه وکړه چې د برنس او
انگرېزانو په ضد به جهاد کوي. پریکړه داسې وشوه چې د عبدالله خان او امین
الله خان ۵۰ حاضرباشان به سبا د سهار تر لمانځه وروسته د برنس پر کلا برید
کوي او د سیمې نور خلک به یې ملاتړ وکړي. عبدالله خان هغه شپه هیڅ خوب
ونکړ. هره شیبه یې زلیخا او برنس سترگو ته درېدل او له ځانه سره به یې ویل
«اوس به دوی څه کوي؟»

«««««««

برنس تېره شپه په پوځي چوڼۍ کې تېره کړې وه. ډېر یې څښلي وه او کور
ته د تگ نه و. برنس ته د پوځي چوڼۍ قیوداتو کې ژوند خوند نه ورکاوه او تل
به یې ډېره هڅه کوله چې شپه په شوربازار کې خپل کور کې تېره کړي. مازدیگر
چې کور ته راورسید نو خاص جامه دار یې ورته وویل چې زلیخا راغلې ده. د
دې خبر له وریدلو سره د برنس سترگې وځلیدې او د تېرماښام د شرابو نه راپاتې
سردردي یې هېره شوه.

«چیرې ده؟ رایې ولئ.»

څو شیبې وروسته زلیخا یوازې کوټې ته راننوتله. تور پړونی یې پر سر و او
له منځه یې سپین مخ روښانه معلومیدی. سترگې یې نرۍ توري کړې وې او غوږ
خو پاسته تور وریښتان یې د تندي پر یوې خنډې ځوړند و.

برنس ورته ولاړ شو او وې ویل «خوش آمدی، ای مهرو!»

زلیخا ورته موسکۍ شوه خو څه یې ونه ویل. برنس د زلیخا مخ په دواړو
لاسونو کې ونیوه او د څو شیبو لپاره یې سترگو، شونډو او باړخوگانو ته وکتل، بیا
یې پر شونډو ښکل کړه. زلیخا هم شونډې د برنس پر شونډو کښیکاږلې او هغه
یې د شونډو په زبیښلو پیل وکړ. زلیخا دا ډول ښکلول هیڅکله نه لیدلي وه او نه
یې کړي وه، خو خوند یې ترې اخیست او ټول ځان یې د برنس په غیږ کې
وغورځید. د برنس لاسونه ورو-ورو د زلیخا له غوړېچینو کښته شول، لومړی یې

تېنګه کړه او بیا یې چپه لاس کرارکرار د بر پر اوږو ونیوله او پر خپل خیګر یې کښېښود او پر مښلو یې پیل وکړ. دغه نور هم کښته شو او د زلیخا پر کوناټو یې کښېښود او پر مښلو یې پیل وکړ. دغه شیبه دروازه وټکېده او د یو چا غږ راغی. زلیخا د برنس له غیږې خان وایست او وارخطا شوه، خو برنس لکه چا چې په زوره له خوبه راویښ کړی وي، ناراحته شو. یوه شیبه یې سترګې پټې کړې او اوږد نفس یې وکیښ بیا یې غږ وکړ «څه خبر دی؟»

د دروازې له بلې خوا غږ وشو «د عبدالله خان اڅکزي حاضرباشان راغلي او غواړي فوراً تاسو ووینی. وایي بیړنی پیغام درته لري.»

د عبدالله خان د نوم له اوریدلو سره د زلیخا وارخطایي نور هم ډېره شوه او بڼه یې تکه سپینه واوښته.

برنس په لوړ غږ وویل «د خاصه دار کوټې ته یې بوځي، زه درځم.» بیا یې زلیخا ته وکتل او په ټیټ غږ یې ورته وویل «مه ډاریږه! ته دلته پاتېږې او هیڅوک دې بیرته نشي وړلای.»

برنس پر مخ لاسونه کښ کړل چې د زلیخا د ښکلولو آثار پاک کړي، جامې یې سمې کړي او له کوټې تر وتلو دمخه یې شاته وکتل او زلیخا ته یې په موسکی لهجه وویل «ماښام به سره ګورو!»

برنس معمولاً له افغانانو سره تریخ چلند او زورزیاتی نکوه، خو دغه ورځ د تېرې شپې د شرابو سردردي وه که له زلیخا سره نیمګړې معاشقه، ماغزو یې سم کار ونکړ او ډېر ژر په غوسه شو او د عبدالله خان د حاضرباشو د وهلو او شړلو پریکړه یې وکړه. که یې حالت سم وای، له حاضرباشو سره به یې بل ډول چلند کړی وای، ښایي ورته ویلي وای چې «عبدالله خان ته مې سلامونه ورسوئ او ورته ووایاست چې زه یې د لیدلو تمه کوم.» او بیا به یې عبدالله خان په خبرو دې ته راضي کړی وای چې زلیخا ده ته وروبخښي. عبدالله خان، خان سړی و او په سخا مشهور و. د یوې وینځې غوښتل تري کومه ناممکنه خبره نه وه، مخصوصاً دا چې غوښتونکی یو مشر انګریز چارواکی وای. افغانان که څه هم له انګریزانو د مالي بخششیو او ملاتړ تمه کوله، خو پر همدغو انګریزانو یې

خرابات هم کاوه. بیله سر او ناموس نه، ملکانو او خانانو انگرېزانو ته هر څه چې یې په وس کې لرل، د خرابات او انډیوالۍ په توګه ترسره کول.

همدغه مازدیګر د برنس کشر ورور، چارلز، هم کابل ته راورسید او له پوځي چونۍ نه د ده کلا ته ورغی. چارلز تر برنس پنځه کاله کشر و او د ده په خیر د ځیرکتیا او هوښیاری نمونه و. برنس د شپې تر ناوخته له خپل ورور سره په بانډار اخته و، او چې زلیخا یې ورپه یاد شوه نو چارلز ته یې وویل «ته به ستړې یې، اوس آرام وکړه. سبا به نورې مهمې خبرې درته ووایم.» د برنس مهمه خبره چې تر اوسه یې خپل ورور ته نه وه کړې دا وه چې دی ډېر ژر هغه مقام ته رسیدی چې له کلونو راهیسې یې ورته خواری کړې وې. له ډهلي نه خبرونه راسیدلي و چې لارد اکلنډ غواړي چې مکناټن د بمبي ایالت حاکم وټاکي او برنس به په افغانستان کې د انګرېزانو مشر استازی شي. برنس له ډېرې پخوا د دغه مقام د ترلاسه کولو لپاره زیار ایستلی و، خو ډهلي کې لارد اکلنډ ته نږدې ځینو سیاستوالو له ده نه ښه نه راتله او د پرمختګ مخه یې نیوله.

برنس چې له ورور نه راجلا شو نو سملاسي یې خپل خاص جامه دار ته وویل چې زلیخا یې د خوب کوټې ته وروليي. برنس د خپل خاصو شرابو ډبه راواخیسته او ګیلاس یې ترې ډک کړ. غوښتل یې چې د زلیخا تر راتګ یې یو څه سر ګرم شي، دوه-درې غوړپه یې کړي وه چې زلیخا راننوتله. برنس و ولاړ شو او تر زلیخا یې لاسونه راتاو کړل او بیله خبرو یې په ښکولولو او د شونډانو په زیبنلو پیل وکړ. تا به ویل چې وږي لیوه ته پسه په لاس ورغلی دی، پخپل غیږ کښې یې مړوړله. برنس خپل د ویسکي ګیلاس راپورته کړ او یو غوړپ یې وکړ، بیایې ګیلاس د زلیخا مخې ته ونیوه «وځینبه! دا د مینې خوند دوه چنده کوي.» زلیخا ته چې د ویسکي توند بوی تر پزه شو نو سر یې شاته کښ کړ او بیله ارادې یې وویل «نه، شراب حرام دي. زه یې نشم څښلای!» برنس وخندل او ورته یې وویل «ګناه دې زما پغاړه! وې ځینبه!» خو زلیخا یې خبره ونه منله. برنس ګیلاس پر سر پورته کړ او پاتې ویسکي یې یو دم تر ستوني تېر کړل.

د ۱۸۴۰ میلادي کال د نوامبر پر ۲ د سهار تر لمانځه وروسته، عبدالله خان او امین الله خان د پل خشتي جومات انګړ کې خپل کسان راغونډ کړل او ورته یې وویل چې په ښار کې خلک د قیام کولو لپاره راټول کړي. امین الله خان خلکو ته وویل «برنس ټول ښار کې داسې فساد او فحشا خپره کړې چې د هیڅ عزت او ناموس خوندي ندی. د هغه دلالان اوس ښځې او انجونې له کورونو تیښتوي او بیا یې په زوره له انګرېزانو سره زنا کولو ته اړې باسي.»

امین الله خان د برنس د فحشا سربیره بله ستونزه هم یاده کړه «موږ شاه ته بیعت کړی او د هغه اطاعت کوو، خو انګرېزان د شاه بې عزتي کوي او د دربار له امر پرته کارونه کوي.» امین الله خان پر شاه شجاع ډېره نیوکه ونکړه نه یې هم د هغه په خلاف د جهاد اعلان وکړ. ده داسې ګڼل چې ګواکې شاه د انګرېزانو له ناوړو کړنو خبر ندی یا ځینو نااهلو درباریانو له انګرېزانو سره لاس یو کړی او د شاه واک یې ترې قبضه کړی. د امین الله خان په څېر د نورو مشرانو په اند هم د شاه مشروعیت پر خپل ځای و او دوی یې اوس هم بیعت ته ځانونه ژمن بلل، خو د شاه له بې کفایتی او بې توجهی نه خوابښیني و.

عبدالله خان ته چې د خبرو وارې ورکړل شو نو لومړی یې وویل «مال تر سر جار، سر تر ناموس!» او بیا یې برنس داسې زناکاره او ظالم کافر وباله چې د کابلیانو د دین، عزت او ناموس سره سخته دښمني کوي. «هر څوک چې غواړي چې سبا ته یې ناموس د انګرېزانو له زناکارو منګولو خوندي وي، نن باید د جهاد توره راوباسي او برنس ته د هغه د ظلمونو سزا ورکړي.» عبدالله خان پخپلو خبرو کې د خپلې وینځې زلیخا هیڅ یادونه ونکړه چې د ده له کوره تښتیدلې وه او پخپله خوښه د برنس کور ته تللې وه. د عبدالله خان او امین الله خان په خبرو کې د دې یادونه هم ونشوه چې سر که تر ناموس جاروئ نو لږ تر لږه له ناموس سره مو - له ماندنیو، خویندو، لوڼو، میندو او وینځو سره مو - ښه او د مهربانۍ چلند وکړئ. د دوی ویره دا هم وه چې که د خانانو وینځو د انګرېزانو د کور او چوڼۍ لاره وموندله نو یوه به هم د خان پر کور پاتي نشي. په اصل کې انګرېزانو له ښځو سره نرم او له زورزیاتیو پرته چلند کاوه؛ ښځې یې نه وهلې او آن خبرو

ته به یې غوږ نیوه. د افغان خانانو او نارینه و چلند بل ډول و. دوی ښځې او انجونې ناقص العقله او ناتوانه بللې. په افغانانو کې د ښځو وهل ټکول عامه او عادي خبره وه، او هیڅا د ښځو پر خبرو غوږ نه نیوه.

عبدالله خان خپله وینا پدې خبرو ختمه کړه «د روژې په مبارکه میاشت کې د خدای او رسول لپاره د دریدلو ثواب سل چنده دی. نن د دنیا او آخرت د ګټې او ثواب فرصت دی، له لاسه یې مه ورکوئ! الله اکبر!» او لدې سره په ټولو خلکو کې هم د «الله اکبر» چغې پورته شوې.

چا تورې له غلاف راوایستلې او چا سلاخې په لاس کې لرلې، ټوله د شوربازار په لور د «یا چهاریار، یا علي، الله اکبر!» نارو وهلو سره روان شول. ګام پر ګام نور خلک هم له قیام کوونکو سره یوځای کیدل او شیبه په شیبه یې شمیر ډېریده. هر چا چې به واوریدل چې د برنس پر کور برید کیږي - مال یې غنمیت او سر یې چټ و پټ دی - نو بیله ځنډه به یې ځان له نورو سره یوځای کړ او سملاسي به یې د الله اکبر نارې وهلې.

پاینده خان تازه خپل د ترکاڼي دوکان پرانستلی و چې د خلکو شورماشور یې تر غوږ شو. له دوکانه بهر راووت او د خلکو ګڼه ګوڼه یې ولیدله چې مخ په ډېریدو وه. له یو چا یې وپوښتل «څه خبره ده؟ دا خلک څه کوئ؟» سړي ورته داسې ځواب ورکړ چې ګواکي د کوم ښه خبر زیری وروباندې کوي «د سکندر پر کور حمله کیږي. دوکان دې وتړه، زموږ سره راځه، نن د دوکانداری او پیسو ګټلو ورځ نده. نن د دین د ګټلو ورځ ده.» پاینده خان یوه شیبه تم شو، داده نه و چې څه وکړي. یو بل ځوان پرې غږ وکړ «ترکاڼ اکا دوکان دې بند کړه، نن د جهاد ورځ ده. د انګرېزانو د وژلو ورځ ده. مالونه یې غنمیت، سرونه یې چټ و پټ دي!» پاینده خان چې شاوخوا وکتل ټول دوکانونه بند و. نور یې صبر ونکړ، دوکان ته ورننوت شاوخوا یې وکتل چې د وسلې په ډول څه له خان سره واخلي. سترګې یې پر هغه تبرګي ولګیدې چې پرون یې یوه ګیراک ته جوړ کړی و. کوچنی تبرګی و چې ښه کلک لاستی یې درلود. هغه یې راواخیست. د دوکان پلې یې سره وتړلې او د خلکو په ډله کې ورګډ شو.

د پخته فروشي کوڅې په سر کې يعقوب خان د عمومي حمام په خوله کې ولاړ و چې سترګې يې پر ډلوډلو راروانو خلکو ولګيدې. تېره شپه د ۱۸ کلن يعقوب د واده شپه وه. ټوله شپه يې له خپلې ناوې سره په بې خوبۍ کې تېره کړې وه، خو د بې خوبۍ احساس يې نه کاوه ځکه په زړه کې ډېر خوشحاله و. د اکا لور ډېره پر ګرانه وه او پس له دوو کالو پله پسې مرکو يې دا ته ورکړې وه. له يو چا يې وپوښتل «څه خبره ده، دا خلک چيرې روان دي» هغه ورته وويل چې نه پوهيږي. د يعقوب د کور لاره د هغه مسير برعکس وه چې خلک روان و. دی د کور په لور روان شو خو يو څه چې ولاړ ورپه ياد شول چې روژه ده او په کور کې نه چاې شته او نه هم له ميرمنې سره خلوت کولې شي. شا ته يې وکتل، د خلکو ګڼه ګوڼه ډېره شوې وه. بېرته وګرځيد او د خلکو په لور روان شو.

د لمر له لومړنيو وړانګو سره د خلکو د قيام خبره تر چنداول، مرادخانې، رکها خانې، پل باغ عمومي او زاړه ښار پورې ورسيده او ځوانان، سپين ږيرې او آن هلکان ډله ډله د شوربازار په لور خوځيدل. د خلکو شمير آن د عبدالله خان او امين الله خان له تمو ډېر وخوت. دوې د قيام کولو نيت نه درلود. عبدالله خان يوازې برنس ته د سزا ورکولو نيت درلود او امين الله خان غوښتل چې انګرېزانو ته د خلکو د ناراضي توب ځرک وښيي. دوی نه پر بالاحصار، چې شاه پکښې پوځي چونۍ د بريد هيڅ نيت نه درلود. دواړو مشرانو په لاره کې څو ځلې پر له خپلو نږدې انګرېز سالاکارانو او ساتونکو سره اوسيده، او نه هم د انګرېزانو پر خلکو غږ کړی و چې د قيام يوازنې موخه او هدف د برنس کور دی. امين الله خان د شوربازار په سر کې خلک ودرول او د آس له سره يې غږ وکړ «زموږ دښمن يوازې سکندر دی. موږ د شاه رعيت يو او بد يې نغواړو.» خو د خلکو په ژبه دوه ټکي وه - جهاد او غنيمت. بيله عبدالله خان نه چا له برنس سره کومه شخصي شخړه نلرله چې اوس يې حساب او کتاب وکي، خو د انګرېزانو غنايمو ته هر چا حرص درلود. د جهاد خبرې بيا د روژې په مبارکې مياشتې کې خپل

اثر درلود او هر چا غوښتل چې د کافر او مفسد د وینو په تویولو سره خان غازي او اتل کړي.

د موهن لال کور د شوربازار په سر کې و. موهن لال کشمیري چې په کابل کې په آغا حسن کشمیري مشهور و د خپل وخت اعجوبه و. د افغانانو او انګرېزانو د لومړی جګړې په کلونو کې ښایي هیچا، آن پیژندل شوو انګرېزانو، له استخباراتي او معلوماتي اړخونو د بریتانیا امپراطورۍ ته دومره خدمت نوي کړی چې موهن لال وکړ. موهن لال چې اصل کې هندو و له ۱۸۳۲ میلادي کلونو راهیسې په افغانستان او ایران کې د مسلمان په جامه کې استخباراتي سفرونه کړي و. پر افغانستان د انګرېزانو د یرغل په مهال، موهن لال له سیمیزو ملکانو او خانانو سره د انګرېزانو د اړیکو په ټینګولو او د حاکمانو په نسکورولو کې ستر فعالیتونه ترسره کړي وه. دی دا مهال د الکساندر برنس منشي او ډېر معتمد شخص و. موهن لال په کابل کې د خبرچینانو، اجنټانو او جاسوسانو تر ټوله ستره او پیچلې ځاله لرله. د کابل د هرې کوڅې او د هر خان او ملک د کور حال ورسره و. ۲۹ کلن موهن لال په فارسي ژبه تر ډېرو افغانانو ښه غږېدی او په کتابت کې یې جوړه نلرله. موهن لال دوه ورځې وړاندې برنس ته خبر ورکړی و چې په روژې کې ښایي په ښار کې ځیني کړی د انګرېزانو او شاه شجاع په خلاف خلک وپاروي. د مکناټن ته پخپل راپور کې دا هم لیکلي و چې د ښار نږدې ټول آهنګران تورې، غشي چړې او سلاخې جوړوي او ډېر خلک یې رانیسي، خو مکناټن د موهن لال راپور جدي ونه ګڼلو.

دغه سهار موهن لال د خپل جامه دار په وارخطا نارو له خوبه راویښ شو «آغا صاحب، په ښار کې خلکو قیام کړی. ټول ښار کې د الله اکبر نارې دي او وایي پر انګرېزانو جهاد پیل شوی.» موهن لال فکر وکړ چې ښایي ځیني خلک په کابل کې د ګرانی له کبله په غوسه شوي او خوشې د الله اکبر نارې وهي. د ۱۸۴۰ کال په ژمي کې په کابل کې د خوراکي توکو بیې څو چنده لوړې شوې وې. علت یې دا و چې انګرېزانو د ښار غله، څاروي او نور خوراکه په ښه نرخ

او ډېره اندازه رانیوله او دې کار د کابل د خلکو لپاره په بازار کې د رانیولو لپاره څه نه و پرېښي او څه که موندل کیدل هم د انسان په بیه وه.

موهن لال ژر راولاړ شو، جامې یې بدلې کړې او دوه حاضرباشان یې ولیږل چې له دباندې نه خبرونه ورته راټول کړي. حاضرباشان لا له کوره نه و وتلي چې د موهن لال یو جاسوس ساه نیولی راغی او داسې احوال یې ورته بیان کړ: عبدالله خان او امین الله خان خلک راټول کړي چې سکندر (برنس) ووژني او کور ته یې اور واچوي. موهن لال په بیړه ترې وپوښتل «څومره خلک دي؟ وسلې ورسره شته؟» سړي ورته وویل «سلګونه خلک دي. ځینو سره ټوپک، تورې او چړې شته، خو ځینو نورو بیا ډبرې او سوټې رااخیستي دي.»

موهن لال خپل ایجنټ رخصت کړ او سملاسي یې برنس ته خبر ولیکلو «عبدالله خان او امین الله خلک مسلح کړي او ستا د کور په لور در-روان دي. ښه به دا وي چې چونې ته ځان ورروسوئ او له هماغه ځایه پوځیان راولیږئ چې دوې ته ښه سبق ورکړي.» لیک یې د حاضرباش په لاس ورکړ او امر یې ورباندې وکړ چې په بیړه یې برنس ته ورسوي. له موهن لال نه آرام وتلی و. د خپل کور بام ته وخوت چې وګورئ دباندې څه روان دي.

عبدالله خان او امین الله خان د پل خښتي په جومات کې له لمانځه وروسته له یو بل نه جلا شول. د دوې هر یو د خلکو د جلا جلا ډلو په مخکې روان و او تر یو څه مزل وروسته به ودرید او لنډه وینا به یې وکړه. دوې به ویل «انګرېز سکندر بې ناموسۍ ته لاس اچولې. د هیچا ناموس خوندي ندي. موږ باید شاه ته خپل غږ اوچت کړو او سکندر پرې نږدو چې لدې وروسته پر موږ ملنډې ووهي.»

د برنس کور د شوربازار په تخته پل سیمه کې و. د ده د کور مخامخ د هیو جانسن کور و چې په کابل کې د انګرېزانو د پوځ خزانه دار و. جانسن ډېر صادقه خزانه دار و. ورځ که به د کار لپاره چونۍ یا بالاحصار ته تلو خو شپه به یې هرومرو کورته رارسوله. خو تېره شپه یوه استثنا وه. هیو جانسن په یوې میلمستیا کې دومره ځنډلي وه چې د یوه سلګري پوځي په کور کې بیسده شوی

و. سهار چې يې په شوربازار کې د خلکو د ګڼه ګوڼې او احتمالي بغاوت خبر واوريد نو په بيړه يې خپل آمر ته وليکل: زما په کور کې د شاه شجاع د پوځيانو يو نيم لک روپۍ معاشونه او لس زره پونډه نغدي په صندوق کې شته. دغه راز، د تېرو پنځو کلونو د مالي حسابونو او رسيدونو اسناد دي. که ياغيان زما په کور کې د پيسو د شتون په هکله خبر شي، نو هر څه به لوټ کړي. هيله کوم، د پيسو او اسنادو د ساتنې لپاره بيړنی اقدام وکړئ.

برنس د خپلې کوټې د دروازې په ټکولو له خوبه راويښ شو. د دروازې له ټکولو سره حاضرباش بيله څنډه دغه جمله تکرارول «سکندر صاحب، سکندر صاحب، راکښينه، مهم خبر درته لرم.» برنس له کټ نه غږ وکړ «يوه شيبه صبر وکړه، درځم.» او بيا يې خپل څنګته پرتې زليخا ته وکتل چې د ده له لوړ غږ سره په ځاى کې وخوځيده. کوټې کې پوره رڼا نه وه خو د زليخا لوڅې سپينې اوږې له برستنې دباندې ښکاريدلې. برنس نيمه تنه پر زليخا پريوت او پر اوږو او غاړې يې ښکل کړه. د زليخا بدن ډېر تود و. «اوه، تبه دې ده؟ ته ښه يې؟» د برنس دې پوښتنو ته زليخا په ضعيف غږ ځواب ورکړ «ټول ځان مې خوږيږي، خو ساړه مې نه کيږي.» برنس لاس د زليخا پر تندي کيښود او بيا يې وويل «هو، تبه دې ده. ته آرام وکړه. زه به درمل درته راوليږم.» او بيا له کټ نه راکښته شو او جامې يې بدلې کړې.

حاضرباش د کوټې مخې ته ولاړ و او د برنس له ليدلو سره سم يې ورته وويل «خلکو قيام کړئ. ستاسو نوم اخلي. دوه درې سوه کسان دي چې ځينې يې وسلې هم لري.» پدغه وخت کې يو بل کس برنس ته د موهن لال ليک ورکړ.

برنس غافلګير شوی و. د عبدالله خان د دغه ډول ښساري او چټک غبرګون تمه يې نه کوله. برنس خپل دفتر ته ولاړ او په بيړه يې مکناټن ته په ليکلو پيل وکړ: عبدالله خان شاوخوا درې سوه ياغيان راټول کړي چې زما پر کور بريد وکړي. زه له خپل کور نه د ياغيانو غږونه اورم، ځيني پکښې مسلح دي. زه د

خطر احساس کوم. لطفاً د یاغیانو د خپلو لپاره ژر تر ژره سرتېري راولېږئ.
ستاسو چټک ځواب ته انتظار یم.»

برنس د دوهم لیک په لیکلو پیل وکړ. «عبدالله خانه! کومه غوټه چې په گوتو خلاصیږي غاښونو ته څه اړتیا شته؟ زه به له شاه او مکناټن نه وغواړم چې د بغاوت کولو له گناه دې سترگې پټې کړي، خو پدې شرط چې بلوا سملاسي ختمه کړئ. زما د کور ور ستا په مخ پرانیستی دی، راځه چې خبرې وکړو.»

دریم لیک یې موهن لال ته ولیکه: خان خوندي کړه. له کوره مه وځه. ما د مرستې غوښتنه کړې او ډېر ژر به سرتېري راشي چې بلواگر وځپي.»

د لیکونو له لیږلو وروسته یې د آرامۍ نفس وایست. باور یې دا و چې یا به عبدالله خان له بلوا په شا شي او یا به د انگرېز پوځیانو لخوا سخت وځپل شي - په هر حالت کې، حالات به ډېر ژر سم شي. خو له دباندې نه د خلکو د شورماشور غږونه لا پسې اوچتیدل. د برنس زلیخا هیره شوه. دا یې هم هېر شول چې هغه په تبه کې ایشي او ده ورته د درملو ژمنه کړې وه.

د برنس درې سره لیکونه خپل مقصد ته ورسیدل. لومړی لیک مکناټن ته ورسید او هغه سملاسي د برنس د ژغورلو لپاره په افغانستان کې د انگرېز لښکر مشر قوماندان ویلیام الفنستون ته خبر ولیږه چې د بلوا د ځپلو لپاره پوځیان برابر کړي.

دوهم لیک موهن لال ته ورسید.

د دواړو لیکونو ځواب بیرته راورسید. خو د دریم لیک ځواب رانغی.

عبدالله خان چې د برنس لیک ولوست نو د ځواب د لیکلو پر ځای یې پر خپلو سپاهیانو امر وکړ چې د قاصد غوږونه او پزه غوڅ کړي او بیرته یې ولیږي.

برنس چې په وینو تک سو قاصد ولید نو عبدالله خان ته یې په ښکنځلو پیل وکړ. بیا یې مکناټن ته دوهم لیک ولیږه چې عبدالله خان د سولې او خبرو بلنه په وینو ورکړې او باید ژرترژره سزا ورکړل شي. دا یې هم ولیکل «زه د ویرې

احساس کوم. ډاېرېږم چې که سرتېرې ژر راونه رسېږي نو یاغیان ښایي زما انګړ ته راننوځي. لطفاً بیړه وکړئ!»

پدغه وخت کې د برنس ورور، چارلز، وارخطا راننوت او وې پوښتل «بهر بلوا پیل شوې. موږ باید لدې کور نه ووځو او چونې ته ولاړ شو.» برنس چې غوښتل خپل کشر ورور آرامه کړي ورته وې ویل «سرتېرې په لاره کې دي او ډېر ژر به دغه لنډغران تارومار کړي. مه وارخطا کېږه!» خو چارلز ورغبرګه کړه «په هر حالت کې دلته پاتې کېدل سلا نه بولم. موږ باید ووځو.» خو برنس ورغبرګه کړه «یاغیان د کور شاوخوا دي، له کور نه وتل خطرناکه دي. موږ دلته خوندي یو.»

د یاغیانو غالمغال اوس د برنس د کور په هره برخه کې اورېدل کېده. د انګړ دننه څو تیرې هم راولوېدې خو وړې وې او داسې ښکارېدل چې بلواګرو به په غولکو او پلخمان له لرې راویشتلې وي. هغه مهال چې افغانانو نورې وسلې نلرلې، نو څینو به په ډله ایزو جنګونو کې پلخمان او غولکې کارولې. داسې خلک هم وه چې ویل یې د پلخمان په واري یې خلک وژلي. د پلخمان ډېره که پر چا موښتې وای نو که یې وژلی نه وای، هرومرو به یې سخت خوږوي.

د سهار لس بجې وې او له چنداول نه نیولې بیا د رکها خانې او مرادخانی له لورې خلک ډلې ډلې د الکساندر برنس د کور په لور روان و.

دغه مهال د بالاحصار له لوري پر آسانو سپاره سپاهیان د شوربازار په تخته پل کې د برنس د کور په لور وخوځېدل. د دوې په منځ کې دوه انګرېز منصبداران او د شاه شجاع مشر زوی شهزاده فتح جنګ و. دوی د شاه په امر راوتلي وه چې په ښار کې راپورته شوي بلواګر وځپي او برنس له احتمالي برید نه وژغوري. شاه د بلواګرو د کوټلو پریکړه له مکناټن سره له مشورې پرته کړې وه. شاه شجاع دوه هدفه لرل؛ لومړی یې غوښتل چې انګرېزانو ته خپله کاروایي او اغیزمنتوب وښیي، او دوهم هدف یې دا و چې خپلو خلکو ته وروښیي چې دی واکمن دی او هرڅوک چې د شاه یا د هغه د انګرېز متحدینو په وړاندې بغاوت وکړي نو شاه به ورته غابښ ماتونکی ځواب ورکړي.

د شاه لښکر د بالاحصار له غونډۍ پوره راکښته شوی لا نه و چې تر غلچکي بریدونو لاندې راغی. یو بریدګر چې د یوې سترې تیرې شاته پټ و تر هغو تم شو چې د سپاهیانو د کتار په نیمایي کې پر انګرېز منصبدارو برید وکړي. توره په لاس دغه بریدګر د الله اکبر چغه وکړه او د انګرېز پوځیانو مخې ته یې ورټوپ کړل او د سترګو په رپ کې یې یو انګرېز په ورانه کې سخت ټپي کړ. بریدګر خپله توره بیا پورته کړه چې بل واری وکړي. خو له شانه پرې ډز وشو او پړمخې پر مځکه ولوید. لښکر ونه درید، ګواکي هیڅ نه و پیښ شوي. او د بریدګر مړی د وروستیو آسانو تر پښو لاندې ومړوړل شو. تخته پل سیمې ته نارسیدلی د شاه لښکر د بلواګرو او نورو غازیانو په پراخو بریدونو کې ایسار شو. ځینو بریدګرو ټوپکونه لرل او دغه کار د لښکر پرمختګ ډېر سوکه کړی و. که له یوې خوا بلواګرو په تورو، پلخمان او ساتولونو بریدونه کول له بل لورې ډزې هم کیدې. شهزاده فتح جنګ چې دغه حال ولید نو د سنګرنیولو امر یې وکړ او دوه سپاهیان یې ولیږل چې د ښار حال ورته راوړي.

جنګ شیبه په شیبه زور اخیست او د شاه له لښکر نه یې لکه د منی له ونې چې باد پاڼې رږوي، سرتېري اخیستل. پرمختګ څه چې مقاومت هم ډېر نکیده. د دوو استول شوو خبرچیانو نه یې یو راستون شو او شهزاده ته یې وویل چې ملګری یې په مرادخانی کې ووژل شو «شوربازار کې سور اور بل دی.» جګړن اندریو ویلسي چې د شهزاده فتح جنګ سره د بلواګرو د ځپلو په مقصد راوتلی و شهزاده ته د بیرته تګ وړاندیز وکړ «موږ باید له ډېرو سرتېرو او توپخانې سره راشو. بلواګر ډېر دي او وسلې هم لري، موږ یې اوس نشو ماتولې.» خو شهزاده نغوښتل چې بالاحصار ته په خالي لاسونو ورشي. شهزاده خپل د اعتماد وړ مشرسپاهي څراغ علي ته وویل چې له لسو ټوپکوالو سپاهیانو سره ورشي او الکساندر برنس او د کور کسان یې په یو نه یو ډول د بلواګرو له منګولو وژغوري. «موږ به له ستر لښکر سره ډېر ژر بیرته راشو چې بلواګر تارومار کړو.»

شاه شجاع چې د بلوا د څپلو لپاره لښکر ولیږد نو مکناټن ته یې احوال ورکړ چې «خاطر جمع اوسئ، ما سپاهیان لیږلي چې په ښار کې راوتلو لوچکانو ته د عبرت درس ورکړي.» شاه انګیرل چې پدې کار سره به مکناټن او انګرېزانو ته ورونښيي چې دی تر دوې د افغانستان پر حالاتو ډېر واکمن دی او د چارو د سمبالولو پوره وس او وړتیا لري.

جامه دار حسین په وارخطا د برنس د کار کوټې ته راننوت او په ویریدلي غږ یې وویل «بلواګر د خزانه دار کور ته ورننوتلي او هر څه یې لوټلي. اوس به پر موږ برید وکړي. د خدای په خاطر، یو څه وکړئ!» برنس له کوټې راووت چې د بالاخانې له کړکۍ څخه د جانسن کور ووینۍ چې څه پکښې روان دي. بالاخانه کښې یې چارلز ولید چې د کړکۍ مخې ته پروت ټوپک یې مخې ته نیولې دی.

«چارلز دا څه کوئ؟ ډزې مکوه!»

چارلز بیله دې چې برنس ته وګوري وویل «دوې د ټوپک زور ندی لیدلي. چې یو څو پکښې مردار کړم. ټول به په شا شي.»

برنس له کړکۍ دباندې وکتل. د جانسن د کور پر دیوالونو او بامونو خلک لکه میږیان چې پر پلمیټ راغونډیږي، راټول شوي و. چا کړکۍ ماتولې، چا دروازې ایستلې او هر چا پخپل وس غوښتل چې یو څه وران کړي یا یې له ځانه سره یوسي.

چارلز د جانسن د کور مخې ته د راټولو شوو بلواګرو خوا ته ننبه ونیوله او ماشه یې کښیکاږله. له ډز سره سم خلک سره وپاشل شول. بله مرمۍ یې تېره کړه او د ماشې له کښیکاږلو دمخه یې په لوړ غږ وویل «حرامیانو، ورک شئ!» او دوهم ډز یې وکړ. کوڅه کې د ډزو لوګی خپور شو او برنس نشو کولی وګوري چې دباندې څه تیریږي.

برنس وارخطا راکښته شو. له ځانه سره یې ویل «ولې تر اوسه زموږ د ژغورنې لپاره څوک ندي راغلي؟ آیا پر چونۍ هم برید شوی؟»

یو مستخدم د برنس مخې ته ودرید او وې ویل «صاحبه، موږ به تا په بوجۍ
گوني کې پټ کړو او په یو چم به دي له دې خایه وباسو.» برنس ورته وویل
«دې کار ته اړتیا نشته. دا لنډغر به دننه رانشي. دوې غلا ته راغلي او د هیو
کور بې لوټ کړی، اوس به ورک شي.»

برنس خپل د کار خونې ته روان و چې مکناټن ته دریم لیک ولیکي چې
مخې ته يې زلیخا ودردیده «آیا دوې زما پسې راغلي؟ آیا تاسو به ما
وروسپاری؟ دوی به ما ژوندی وسوځي...» برنس په بیړه ورته وویل «زلیخا،
بیرته کوټې ته ننوځه. دباندې خطر ډېر دی. زموږ سرتېري راروان دي چې
بلواگر وځپي.» زلیخا سخته ویریدلې وه او غوښتل يې چې برنس په غېږ کې
ونیسي، خو برنس په منډه ترې جلا شو. زلیخا د برنس خبره ومنله او د برنس د
خوب د کوټې ته ولاړه. په کټ کېنیستله او پداسې حال کې چې له تبې او بدن
درد نه کړیدله پر خپل تور بخت يې وژړل.

برنس لاهم پدې اند و چې عبدالله خان به یاغیان دې ته پرې نږدي چې د
ده د وژلو هڅه وکړي. دی پدې باور و چې د جانس د خزانې له چور وروسته
به عبدالله خان او امین الله خان خلکو ته ووایي چې نور ورانی ونکړي او قیام
پای ته ورسوي. ده دا فکر هم کړی و چې د عبدالله خان خلک به یوازې زلیخا
په زوره بوځي. په دواړو حالاتو کې د ده انگیرنه دا وه چې د ده د وژلو هڅه به
ونشي.

د برنس د کور دباندې د بلواگرو شمیر اوس سلگونو ته رسیدلی و. ټول ښار
کې دوکانونه او سرایونه بند و او ټول نارینه شوربازار ته رامات شوي وه. سیمه په
دوړو او دودونو کې پوښلې وه او له هر خای نه د «الله اکبر او یا علی مدد!»
نارې اوریدل کیدې. حالات د عبدالله خان او امین الله خان له کنټرول نه هم
وتلي و. مشر او کشر معلوم نه و. هر چا د غنیمت اخیستلو او د «غازي کیدلو»
تمه لرله او هڅه يې کوله تر نورو دمخه شي. د جانسن هیو د کور تر تالانولو
وروسته، بلواگرو د برنس د کور خوا ته مخه کړه. په څو شیبو کې د برنس پر
کور د ډبرو باران پیل شو. چا په غولکو، چا په پلخمان او چا په لاسونو ډبرې

ویشتلې. په خطايي وارونو کې پر ځينو بلواګرو هم تيرې ولګيدې او د ځو تنو له سرونو وينې بهيدې. د برنس د کور نږدې ټولې کړکې په لومړيو ځو شيبو کې ماتې شوې، خو د ډبرو باران ونه دريد. لږ وروسته ډزې هم پيل شوې.

چارلز چې د بالاخانې د کړکې مخې ته ولاړ و او غوښتل يې چې د کور دروازې مخې ته پر راټولو شوو بلواګرو ډزې وکړي، يوارې له مخکې نه په هوا شو او بيا ځوګامه شاته وغورځيد. د برنس کشر ورور د جانسن د کور له بام نه د ټوپک په يوه ډز ځای پر ځای ووژل شو. چره اي مرمي د چارلز په مخ لګيدلې وه او يوه سترګه او باړخو يې ترينه وړی و. ځو نورې ډزې هم وشوې خو د بالاخانې پر کړکيو او ديوالونو ولګيدې.

برنس لا د دريم ليک په ليکلو پيل نه و کړی چې يو مستخدم يې د کارکوټې ته په رانوتلو سره ورباندې چغه وکړه «صاحبه، چارلز په مرمی ويشتل شوی. بلواګر ټوپکان لري او پر بالاخانې ډزې کوي.»

برنس د ډزو غږ اوريده خو فکر يې کاوه چې چارلز ډزې کوي. «چارلز ويشتل شوی؟!» او بيله دې چې خواب ته تم شي په بيړه د بالاخانې په لور يې منډه کړه. د کوټې دباندې جامه دار يې مخې ته ودريدل او يوه يې ناره پر وکړه «سکندر آغا' بالاخانې باندې ډزې کيږي. تاسو همدلته تم شئ، موږ به چارلز راکښته کړو.» په همدې شيبه کې د سرای له بلې خنډې نه د يو چا لوړه چغه واوريدل شوه او بيا لکه کوم شی چې له پورته نه راوليږي د «درُپ» غږ شو.

بلواګرو د سرای پر دروازې بريد پيل کړی و او د دروازې د سر د برج نه يو مستخدم په ډزو ويشتل شوی او لاندې راوغورځيد. د سرای پر دروازې او شاوخوا ديوالونو باندې د خال خال مرميو د لګيدلو تر څنګ د ډبرو سم باران اوريده.

«چارلز راکښته کړئ! بيړه وکړئ!» برنس د بالاخانې دروازې ته ولاړ و او کله به يې په فارسي او کله به يې په اردو ژبې نارې وهلې «جلدي کرو! جلدي، جلدي! زود، زود!»

دوو مستخدمینو د چارلز په وینو کې ډوب جسد راکښته کړ. برنس چې پر چارلز سترګې ولګیدې چغه يې کړه «اوه، زما خدايه! چارلز. چارلز زما وروره!» خو چارلز د تل لپاره خاموشه شوی و. برنس په ژړا شو او د خپل کشر ورور د مړي څنګ ته پر مځکه کښيناست او نارې يې پر وهلې «چارلز. غږ مې اورې؟ خبرې وکړه! يو څه ووايه! لطفاً، زما کشری وروره! چارلز ما وبخښه!»

حالات د سترګو په رپ کې بدليدل. برنس د چارلز د جسد تر څنګ يو څو شيبې بيخوده ناست و او دا يې هیر کړل چې د کور دباندې يې سلګونه ياغيان دننه د راننوتلو په هڅو کې و.

يو لوړ غږ سو او برنس چې سترګې پورته کړې د سراې د دروازې لخوا نه دوړې راپوته شوې. بلواګرو د سراې دروازه رانسکوره کړه او ورسره سم لکه ملخان له ديوالونو د دروازې له غار نه د دوړو سره سم راننوتل. ټولو د الله اکبر نارې وهلې او تورې او لرګي يې په لاسونو کې نيولي هرې خوا ته يې ځغستل او هر څه چې به يې مخې ته ورتله، ګوزارونه به يې ورباندې کول. د سراې له دروازې نه تر هغه ځايه چې برنس ناست و څه کم پنځو متره واټن و. برنس شاوخوا وکتل هيڅوک يې تر څنګ نه و.

عبدالله خان او امين الله خان فکر کاوه هغسې چې يې خلک بلوا ته وپارول، بيرته به يې ترينه راوګرځوي. بنايي دوی دواړو دا نيت نه درلود چې خامخا بايد برنس ووژل شي. دواړه پدې ښه پوهيدل چې د برنس وژل به له انګريزانو سره د مخامخ جنګ په مانا وي. دوې د انګريز پوځ سره د جګړې نه وس درلود او نه يې اراده. دغو دواړو مشرانو پخپلو سترګو د انګريز پوځ زور ليدلی و. د انګريز د توپخانې مخې ته هيڅ لښکر نشو ټينګيدلای. څه کم دوه کاله مخکې چې انګريزانو پر افغانستان يرغل وکړ، نو هيڅ ورسره د جنګ کولو قدرت نه درلود او آن دوست محمد خان په سپينه ورځ له کابل نه وتښتيد او تاج او تخت يې انګريزانو ته پريښودل. که دوست محمد خان له خپلو لښکرو سره د انګريزانو مخې ته نشو دريداې، نو عبدالله خان او امين الله خان به څنګه دريدلي واې؟

عبدالله خان او امين خان يوازې غوښتل چې برنس او انګرېزانو ته يو ډول زور ورښكاره كړي او ورته وښيي چې دوې هم خلك پارولې شي او هم بې آرامولی شي. افغان خانان او ملكان تل د پاچا بخششيو او انعامونو ته سترګې نيولې وې او هغه مهال خو انګرېزان د ټولو ولينعمتان و او شاه او د ملكانو ټولو خرڅ دوی وركاوه. انګرېزانو به هغو خانانو او ملكانو ته تنخواوې او بخششې وركولې چې خلك به يې د دوی تابعيت او امن ته ګمارل. ځينو ملكانو به د خان د ارزښت د لوړولو او موثريت ښودلو په خاطر پخپلو خلكو كاروانونه وهل، شوګماری به يې وكړې او بيا به يې څو تنه پا ناحقه ونيول او يا به يې ووژل تر څو شاه او انګرېزانو ته ووايي «صاحبه، موږ ستاسو خدمت كوو.»

پدغه ورځ په شوربازار كې حالاتو داسې لوری واخيست چې عبدالله خان او امين الله خان يې پر وخت په قابو كولو كې پاتې راغلل. خلكو چې د جانسن هيو له كور نه د پيسو او جواهراتو چور وليد، نو د غنيمت اخيستلو په حرص كې يې هر څه هير كړل.

برنس چې بلواګر خپل مخې ته وليدل نو پر ګونډو شو او لاسونه يې د دوعا په ډول پورته كړل او په لوړ غږ يې په زاريو پيل وكړ «د خدای په خاطر ما مه وژنئ! هر څه چې غواړئ ستاسو دي، يوسئ. زه مسلمان يم دا دې كليمه وايم....لا اله الا الله محمد رسول الله!»

خو د برنس زاری د هيچا په غوږ ورنغلې او نه يې چا كليمه واوريده. د برنس سور و سپين مخ د غازي كيدلو نښه وه. چا په سوك چا په لرګيو پر سر او مخ واهه. برنس مخ په لاسونو كې پټ كړ او چغې يې وهلې. اوس يې په داسې ژبې څه ويل چې هيڅوك پرې نه پوهيده - انګليسي يې ويله. په څو شيبو كې د برنس جامې په وينو كې لمدې شوې. شاوخوا شل كسه پر راټول و او هر يوه هڅه كوله چې تر ټولو كلك واری ورباندې وكړي، چا تر ګريوانه نيولې و او چا يې ورېښتان ترينه شكول. شيبه په شيبه د بريدوكونكو شمير ډيريده، لكه ميږيان چې پر خوږې دانې راټول وي.

معلومه نشوه چې د چا په واري خو برنس پخپل سراې کې د بلواګرو تر پښو لاندې ساه ورکړه او وروستي غږونه چې يې اوريدل د «الله اکبر» نارې وې.

بلواګرو د برنس کور ته اور واچوه. مړی يې له ځانه سره دباندې راوړ او پداسې حال کې چې پښې يې ورته په پړي تړلي وې، په واټونو کې يې کش کاوه. د برنس د بدن څو غړي نه و. يوه ټوټه غوښه وه چې دوې پښې پرې ځړيدلې او هغه هم په پاې کې د يوې پس کوچې مخې ته وغورځول شوه. برنس په همدغه کابل ښار کې ډېر ملګري او خواخوږي لرل، خو هيچا زړه نه درلود چې مړی يې له پس کوچې نه واخلي او يو ځای يې ښخ کړي.

زليخا چې د برنس چغې واوريدلې نو له ويرې بې حسه شوه. له هغې وروسته چا زليخا ونه ليدل. چا يې مړی هم ونه ليد. هغه وينځه وه. د وينځو نه قبر معلوم و نه يې کورنۍ.

د برنس او زليخا لنډه رابطه د تل لپاره پداسې حال کې ختمه شوه، چې ورسره د افغانانو او انګرېزانو تر منځ د يوې سترې خونړۍ جګړې اور تازه بل شوی و. خو په همدغه کابل کې چې د انګرېزانو او افغانانو تر منځ د يوې سترې او خونړۍ جګړې پيلامه شوې وه، د انګرېزانو او اميرالمومنين تر منځ اوږده شخړه په دوستۍ بدله شوه.



## امیر دوست محمد خان

د ۱۸۴۰ کال په اگست میاشت کې هوا ډېره توده وه. شاه شجاع چې ژمی یې په جلال آباد کې تېر کړی و اوس یې د کابل له معتدلې هوا خوند اخیست. شاه د کابلښار په جنوبختیځ کې د غونډۍ پر سر جوړ شوي بالاحصار کې اوسیده. دغه دوبی په کابل کې حالات ښه و؛ یو خو امنیت سم و او بل دا چې د میوو او سبو حاصلات هم ډېر و او هرې خوا پریماني وه. خو د شاه فکر دوو اندیښنو ډېر ناآرامه کړی و. لومړی، د شاه او د انگرېز استازي مکناټن تر منځ مخ په ډېریدو اختلافات وه. انگرېز استازي، کارونه او پریکړې پخپله خوښه کولې او کله نا کله به یې اصلاً له شاه سره سلا نکوله. شاه په هند کې د انگرېزانو آرگاه او بارگاه لیدلې وه او غوښتل یې چې د انگرېز له جیبه په افغانستان کې په خلاص

لاس مصرف وکړي. خو مکناټن یې لاس نیوه. شاه د خپل هیواد له عوایدو بې خبره و او ټول توکل یې پر انګرېزانو و چې د دربار لګښتونه برابر کړي. شاه داسې ګڼل چې انګرېزان به تل د ده په چوپړ کې وي.

۴۷-کلن ویلیام هې مکناټن بیا هوښیار سیاستپوه و او دا ورته څرګنده وه چې انګرېز لښکرې د تل لپاره په افغانستان کې نشي پاتیداې. په اصل کې لارډ اکلند یوه میاشت وړاندې له ډهلي نه مکناټن ته لیکلي و چې د کمپنۍ (د بریتانیا شرقي کمپنۍ تر ۱۸۵۸ کال پورې د هند پر نیمه قارې واکمني لرله) اقتصادي حالات ښه ندي او د ډېرې مودې لپاره په افغانستان کې د پوځي لګښتونو وس نلري. مکناټن د افغانستان لپاره د یوه نوي ملي پوځ د جوړولو مفکوره درلوده. داسې پوځ چې هم د انګرېزانو ملګری وي او هم د شاه شجاع د تاج و تخت ساتنه وکړي. د ملي پوځ جوړول ښه خبره وه خو د بې وزلي افغانستان له وسه لوړه وه. شاه شجاع که له یوې خوا پوهیدی چې د ملي پوځ د جوړولو خزانه نلري، له بلې خوا یې ویره درلوده چې د انګرېزانو لخوا روزل شوی پوځ به ده ته دومره وفاداره نه وي لکه چې انګرېزانو ته به وي. شاه آن د شاهي ګارډ پر افسرانو شکمن و چې ګواکي یوازې له انګرېزانو امر اخلي او د ده اوامرو ته پوره پاملرنه نکوي.

د شاه له انده د ملي پوځ د جوړولو یوه بله ستونزه دا وه چې د هغو اربکیانو او قومي ملیشو ځای یې نیوه چې دربار یې په انعامونو او میاشتنیو بیعت رانیولی و. دربار قومي مشرانو او ملکانو ته هره میاشت بخششیانې ورکولې او دوی به له ننګرهار نه تر کوهستاناتو، کندهار او په نورو سیمو کې د شاه د مخالفانو مخه نیوله. په ۱۸۳۹ کال کې د شاه د بخششیو شمیر ۱.۳ میلیون روپیو ته ورسید. د شاه د واکمنۍ عمر او مشروعیت د همدغو بخششیو او انعامونو په نازکه رسۍ تړلې و. اوس که دربار خپله ټوله خزانه او د انګرېزانو مالي مرستې پر ملي پوځ لګولې واې، نو ملکانانو او قومي خانانو ته به یې څه ورکړي واې؟ بله ستونزه دا وه چې په ملي پوځ او آن د شاه د ساتنې په ګارډ کې هزارګانو، ازبکانو او تاجیکانو ډېره وانده اخیسته، خو پښتنو سربازۍ ته علاقه نه ښودله.

عجیبه خو دا وه چې انګرېز استازي د ملي پوخ سربېره د افغانستان لپاره د یوه مډرن دولتي نظام جوړېدل هم غوښتل. مکناټن خو خلې شاه ته د هند د دولتي نظام د جوړولو په اړه کیسې کړي وې او دا یې هم ورته ویلي و چې پیاوړي دولتي بنسټونه د هرې واکمنی د بقا او پرمختیا لپاره حیاتي دي. خو شاه شجاع دودیز او قومي جوړښتونه د افغانستان لپاره اغېزمن او ګټور ګڼل. شاه به مکناټن ته ویل چې افغانان ناپوه خلك دي او یوازې په زور او زر باید وربانډې واکمني وشي.

د شاه بله اندېښنه دا وه چې آن په کابل ښار کې ځینو ملایانو د ده نوم د جمعې له خطبې غورځولی و. په همدغه دوبي کې شاه ته خبر راغی چې د پل خشتي د جامع جومات امام، میر مسجدي، په خطبه کې د ده نوم نه اخلي. شاه د دې خبرې په اورېدلو ډېر په غوسه شو او سملاسي یې د میرمسجدي او میر حاجي د وژلو امر ورکړ، خو مکناټن یې مخې ته ودرید او د زغم سپارښتنه یې ورته وکړه.

مکناټن شاه ته وویل «اعلیحضرته! د کوهستاني وړونو وژل به نور ملایان هم وپاروي او موږ او تاسو ته به ډېرې ستونزې جوړې کړي.»

شاه که څه هم له مکناټن سره موافق نه و، خو د دې وس یې هم پوره نه درلود چې د هغه د مشورې خلاف اقدام وکړي. له ناچارۍ یې د مکناټن خبره ومنله او میرمسجدي او میرحاجي یې دربار ته وروبلل، خو کوهستاني وړونو یې بلنه رد کړه. شاه دغه کار ځانته سپکاوی وباله، خو پدې کار کې یې تر میر مسجدي ډېر یې مکناټن ګرم باله. شاه بیله دې چې مکناټن ته احوال ورکړي د مسجدي وړونو د نیولو امر ورکړ. خو هغوي ګواکي د شاه له نیت نه له وړاندې خبر شوي وي، له کابل نه کوهستان ته وتښتېدل.

په همدې اګست میاشت کې د شاه لپاره یوه بله ستره اندېښنه وزېږده. امیر دوست محمد خان د بخارا د امیر له بنده وتښتید او افغانستان ته راغی. دې خبر شاه دومره وارخطا کړ چې سملاسي یې انګرېز استازی بالاحصار ته وروباله او ورته یې وویل «دوست محمد له بنده تښتېدلی...څه چاره یې وکړو؟»

مکناتن تر شاه دمخه د دوست محمد له تیښتې خبر شوی و، خو شاه ته یې داسې وښودل چې ګواکې دې خبر هیښ کړی و «آه. دا خو ډېر بد خبر دی. خو د اعلیحضرت دښمنان به ټول نابوده شي. تاسو خپل دروند خاطر مه خرابوئ.»

شاه ورغبرګه کړه «ته پوهیږئ چې دا خاین که د جهاد اعلان وکړي، نو خلک به ورسره یوځای شي او موږ ته به لوی سرخوږی جوړ کړي؟»

مکناتن وویل «دوست محمد زموږ سره د جنګ کولو نه وس لري نه یې زړه ورتیا. موږ به یې هیڅ ډول ورانې ته پرې نږدو.»

هغومره چې شاه ته د دوست محمد خان ګواښ ستر برېښیده، د مکناتن لپاره دوست محمد خان یو ماتې خوړلی او بې وسه دښمن ښکاریده. د مکناتن له انده، دوست محمد خان چې پر کابل واکمن و نو د انګریزانو سره یې د مخامخ کیدلو وس او زړه نه درلود او په منډه له کابله تښتیدلی و، نو اوس به څنګه په تشو لاسونو وکولای شي چې د انګریزانو لپاره ګواښ جوړ کړي؟

«««««««««

دوست محمد خان چې له خپل زوی اکبرخان سره د څو میاشتو راهیسې د بخارا امیر بندي کړی و، د یوه افغان سوداګر په مرسته له بند څخه تښتیدلی و. سوداګر یونس خان د دوست محمد خان د بندیخانې ساتونکو ته لس زره روپۍ رشوت ورکړ چې د شپې لخوا دوست محمد خان او اکبرخان له زندان نه راوباسي او د ده ساتونکو ته یې وسپاري.

د اګست پر ۱۳ د جمعې په شپه چې د زندان مشر په میلمستیا تللی و، د زندان دوو ساتونکو دوست محمد خان او اکبرخان چې جامې یې خیرې څیرې وې، له بنده راوایستل او د یونس خان کسانو ته یې په لاس ورکړل. یونس خان خپلو کسانو ته ویلي و چې دوست محمد او اکبرخان ته نوي جامې، آسونه او روپۍ ورکړي او ورته ووایي چې په جلا-جلا ډول له بخارا ووځي چې د چا شک پرې ونشي. پلار او زوی چې جامې بدلې کړې نو په بیړه یې مخه ښه



وکړه. په تلوتلو کې دوست محمد خان و اکبرخان ته وویل «که په لاره سره یوځای نشو، نو په بلخ کې به سره وینو. خدای دې پخپل امن کې وساته!» او پدې سره پلار او زوی سره جلا شول. بیله دې چې خبر وي چې بیلتون به یې ډېر اوږد وي.

اکبرخان بخارا کې بلد نه و. دی پر آس تیز روان و او غوښتل یې چې د سهار تر رڼا دمخه قراولبازار ته نږدې ځان ورورسوي. نیت یې دا و چې په دوو شپو کې بلخ ته ورسیږي، خو قضا بل څه ورته ټاکلي و. اکبرخان د بخارا ختیځ کې د کوګن ښار ته لا نه و رسیدلی چې یوې ډلې په آس سپرو سرتېرو چارچاپیره کړ. اکبرخان په ماته ازبکي پر سرتېرو غږ وکړ «من یولوچمن...مرحمت مینی کیچیرنګ» یعني «زه مساپر یم...لطفاً پرېمږدئ چې تېر شم»، خو ازبکو سرتېرو برید ورباندې وکړ او لاسونه او پښې یې کلکې وروتړلې. اکبرخان بیا د بخارا د تورو څاګانو میلمه شو.

دوست محمد خان سره بیا بخت یاري وکړه او د بخارا د امیر د سرتېرو له منګولو ووت. د تیښتې په بیړه کې دوست محمد خان نه د روپیو کڅوړه لویدلې وه او کله چې دی په شهرسبز کې چې د بخارا شمال ختیځ کې دی، تم شو، نو یوه روپۍ یې هم نلرله. د دې لپاره چې د چا پام ځانته نکړي، دوست محمد خان د درویشي جامې واغوستلې او د ښار په کنډوالو او جوماتونو کې به پټ ګرځید. دوست محمد خان چې دوه کاله وړاندې د افغانستان باچا و او د امیرالمومنین لقب یې درلود، په شهرسبز کې د سوالګر په جامه کې تشه ګیډه ګرځید. یوه ورځ چې سخت وږی و د یوه هوټل مخې ته یې څو تنه ولیدل چې ډوډۍ خوري. لوږه یې پر فکر غالبه شوه او ور نږدې شو او په ټیټ غږ یې وویل «مساپر یم، وږی یم...یو څه د خدای د رضا لپاره راکړئ.» څو شیبې تم شو او په مړو سترګو او زهیر مخ یې پر کټ ناستو خلکو ته وکتل. خو هغو غوږونه کاڼه واچول او هیڅ اعتنایي ورته ونکړه.

امیر دوست محمد که یو وخت پاچاهي کړې وه او بل وخت ورباندې د ژوندي ترخې راغلې وې، خو هیڅکله ځان ورته دومره سپک او بې وزله نه و

ښکاره شوی. د ده په یوه خبره یو وخت د انسانانو د مرګ او ژوند پرېکړه کېده. خو نن یې زړه غوټې غړ ته ځا غور نه نیوه.

دوست محمدخان خو نوري شپې هم په شهرسبز کې پټ و او بیا د بلخ په لور روان شو. افغانستان ته له بیرته راستنیدو سره دوست محمدخان له ځان سره پرېکړه کړې وه چې د انګرېزانو په ضد به جهاد وکړي او پدې لړ کې که مړ هم شو. نو شهید به شي. تر دې خوار او تریخ ژوند مرګ ورته ښه ښکارېد. د جهاد کولو د لیوالتیا یو بل لامل دا هم و چې امیر په بند کې یو ډول روحاني جزبې اخیستی و او داسې یې ګڼل چې که د انګرېزانو په ضد جهاد پیل کړي نو په الهي نصرت سره به بیرته خپل د لاسه تللی امارت وګټي.

له شهرسبز نه وروسته، د دوست محمد خان سفر کې نوري سختې او کړاونه هم رامنځته شول. خو هر څه چې و ځان یې روغ رمټ تر بلخ پورې ورساوه. دلته یې له ځانه سره پرېکړه کړې وه چې د درویشي جامه به نه اغوندي. دوست محمد خان له افغانستان نه بهر سوالګري کولای شوه خو دننه پخپله خاوره کې یې ځا ته سر نه ټیټاوه. امیر، افغانستان خپل جاګیر باله او افغانان ورته رعیت ښکاریدل نو څکه یې نشو کولای چې بیله "اولي الامر" بل څه واوسي.

بلخ ته په رارسیدلو سره سم دوست محمد خان د ښار ګنج ته ورغی او د عثمان خان دکان ته ورننوت. عثمان خان. دوست محمد وپیژند او پر لاسو یې ورپریوت «امیره، خدای دې ما ړوند کړي چې تا پداسې حالت کې وینم.» دوست محمد خان اوږد سفر کړی و او وږی او ستومانه و او خپل کوربه ته یې وویل «عثمان خانه. زه به نن شپه ستا میلمه شم.» امیر چې د عثمان خان میلمستون کې ډوډې وخوړه او آرام یې وکړ نو ورته وویل چې د بلخ حاکم ته خبر ورکړي چې امیر په ښار کې دی او غواړي ورسره ووینې. هغه مهال د بلخ حاکم ایشان سعید محمد اوراق ګوهري و چې د بخارا امیر ته یې بیعت کړی و. حاکم ګوهري چې د شاه شجاع او د هغه د انګرېز مشاورینو له اړخه ډېر اندېښمن و، دوست محمد خان ته یې غیږه پرانیستله او تود هرکلی یې وکړ.



بر افغانستان د انګرېزانو د یرغل په غوبل کې د بخارا امیر خپله واکمني د افغانستان شمالي سیمو ته غځولې وه او د بلخ سیمیزو واکمنو هم د نصرالله خان بخارایي په نوم سکه وهلې وه. واک ته له رسیدلو وروسته. شاه شجاع و مکناټن ته خو خلي ویلي و چې شمال ته لښکري ولیږي او بلخ او ځینې نوري سیمې بیرته د کابل بیعت ته راولي. مکناټن هم امیر ته مثبت ځواب ورکړی و خکه انګرېزانو غوښتل چې له تزاري روسیې دمخه پدغو سیمو او آن منځنی آسیا کې خپل نفوذ خپور کړي.

د بلخ حاکم چې له دوست محمد خان نه د انګرېزانو په خلاف د جهاد خبره واوریده نو ډېر خوشحاله شو او د مرستې او ملاتړ ژمنه یې ورسره وکړه. له څو شپو میلمه پالنې وروسته، د بلخ حاکم دوست محمد خان ته دوه سوه آسونه، ۵۵ ازبک سرتېري او یو څه پیسې ورکړې چې جهاد پرې پیل کړي. او لدې سره سم د امیر دوست محمد خان د واک د بیرته نیولو جهاد پیل شو. دی لومړی د مرکزي سیمو په لور وخوځید او پر لاره یې پر هر کلي او جومات پر خلکو غږ کاوه چې د کفارو په خلاف په جهاد کې د ده سره یوځای شي. دوست محمد خان یواربیا ځان "امیرالمومنین" معرفي کاوه او خلک یې بیعت ته وربلل.

که څه هم د امیر د پلویانو شمیر هره ورځ ډېریده، خو امیر له هماغه پیل نه د خپلې پوځي تګلارې پر اغیزمنتوب شک درلود. ده که سلګونه او زرګونه خلک هم پر ځان راټول کړي واي، نو د انګرېزانو د ټوپک او توپخانې په وړاندې هیڅ نه ګڼل کیدل. امیر پوهیدی چې افغانان پخپلو کې د جنګیالیو د شمیر په زور جګړه ګټي خو له انګرېزانو سره جګړه یوازې په باروتو ګټل کیدای شي. د انګرېز جنګیالي د جګړې په قواعدو او تکتیک پوهیدل خو افغانان چې به د جګړې په ډګر کې رانښکاره شول نو هر یوه به یې پخپل سر هرې خوا ته منډې وهلې او د الله اکبر چغې به یې وهلې. افغانانو په جنګ کې له خدایه مرسته او نصرت غوښت، انګرېزانو جګړه په عقل او باروتو ګټله.

د امیردوست محمد خان جهاد پداسې حال کې پیل شو چې ایله یوه میاشت - یوازې یوه میاشت - وړاندې د امیر ورور، نواب جبار خان. له ډېرې ناهیلۍ وروسته د امیر حرم - ټوله کورنۍ - انګرېزانو ته تسلیم کړې وه. جبارخان ډېره موده د امیر انتظار وکړ چې ښایې له بخارا یا ایران نه یې خبر راشي چې کورنۍ یې ورسره یوځای کړي، خو امیر تری تم و. جبار خان د امیر له کورنۍ سره د افغانستان په شمالي ولایتونو کې لالهانده و او له ویرې یې بخارا ته هم سفر نکاوه. ژوند ورباندې ډېر سخت شوی و ځکه هر چا هر ډول تمه ترې کوله. دی اړ و چې له خلکو سره مصحلت وکړي ځکه ویره یې لرله چې انګرېزانو ته د دوست محمد خان د کورنۍ په اړه خبر ورنکړي. هغو ملکانو او خانانو چې پخوا یې د امیر دوست محمد خان مخې ته د درناوي سجدې کولې، اوس یې د شړل شوي امیر ناموس ته سترګې سرې کړې وې. چا زر غوښتل، چا د امیر لور، او چا بیا د انګرېزانو انعام ته تمه لرل. له نواب خان سره نه زر پاتي وه، نه زور. هغه ستړی و. پر ملکانانو او خانانو د امیر د ناموس پر سپارلو یې انګرېزانو ته تسلیمېدل باعزته ګڼل. لکه پخپله امیر دوست محمد خان چې له پردیو سوالګري ځانته پیغور نه بلل، د امیر ورور هم پر خپلو افغانانو د امیر د حرم د ساتلو پوره اعتماد نه درلود. نواب خان د امیر دوست محمد خان له ماندینو، مړندو او خو لوڼو او لمسیانو سره چې د ټولو شمیر یې تر ۶۰ ډېرو و، انګرېزانو ته تسلیم شو.

مکناټن چې کله د دوست محمد خان د حرم د تسلیمېدلو خبر واورید نو له ځانه سره یې وویل چې د بارکزیو ټغر یې د تل لپاره د افغانستان له سلطنت نه ټول کړ. انګرېز استازی پدې ښه پوهیدئ چې په افغانانو کې ناموس ډېر ارزښت لري او اکثر پدې باور دي چې «مال تر سر جار، سر تر ناموس!» نو ځکه خو هیڅکله به د دوست محمد خان کورنۍ د انګرېزانو په خلاف سر اوچت نکړي. که څه هم انګرېزان په کابل او کندهار کې پوره واکمن و، خو مکناټن او د هغه مشر سلاکار الکساندر برنس په افغانستان کې د امیردوست محمد د حرم د خوندیتوب له اړخه ډاډه نه و. برنس مکناټن ته ویلي و چې شاه شجاع ښایي د

غچ اخیستلو په هڅه کې د دوست محمد خان ټوله کورنۍ ووژني. انګرېز سلاکارانو پرېکړه وکړه چې د دوست محمد خان حرم د هند لودیانې ته واستوي چې د برتانویانو تر نیغې څارنې لاندې ژوند وکړي او که چیرې په راتلونکي کې له دوست محمد خان سره د جوړجاړي یا تبادلې اړتیا پیدا شوه نو ترې کار واخلي.

د امیردوست محمد خان د جهاد له پیل نه وړاندې لا ځینو غازیانو د انګرېزانو په ضد په بریدونو لاس پورې کړې و. پدې لړ کې د ۱۸۴۰ کال د مې په میاشت کې شاوخوا ۲۰۰۰ غازیانو د انګرېز ځواکونو پر هغه کاروان برید وکړ چې له کندهار نه د غزني په لورې روان و. دغه غازیانو په وران ډګر کې له ناانډوله پوځي ځواک سره مخامخ شوي و او د سترګو په رپ کې یې ۲۰۰ شهیدان شول، سلګونه پکښې سیک او درانه ټپیان شول او پاتې یې تېښتې ته اړ شول.

د ۱۸۴۰ کال د سپتامبر پر ۱۸ د دوست محمد خان سرتېري چې تقریباً ټول ازبک جنګیالي وه، د بامیانو په هوارو مځکو کې د دښمن له ځواکونو سره مخامخ شول. که څه هم د دوست محمد خان پلوي جنګیالیو لوړ مورال درلود او د الله اکبر چیغې یې وهلې، خو د معمول په څېر هغوی پداسې جګړې کې ښکیل و چې پایله یې له پیل نه څرګنده وه. د انګرېز ځواکونو د توپچې، ټوپکوالو او منظمو سورو او پیاده سرتېرو په وړاندې د دوست محمد خان جنګیالي، هغه هم په هوارې مځکې او مخامخ جګړې کې، په هیڅ شمیرل کیدل. د جګړې په لومړي ساعت کې د انګرېزانو توپخانې او مردکیو د مجاهدینو تر ۲۰۰ ډېر شهیدان کړل. دوست محمد خان چې د خپلو ځواکونو لوړ تلفات او کړکیچن موقعیت ولید، نو د شاتګ امر یې ورکړ. دوست محمد خان که څه هم په لومړۍ جګړې کې ماتې وخوړه، خو پدې هم پوه شو چې افغانان په آسانۍ سره انګرېزان په جګړه کې نشي ماتولای.

دوست محمد خان چې په بامیانو کې له انګرېز ځواک نه ماتې خوړلې وه، د جګړې په تکتیک پوه شوی و او له یرغلګرو لښکرو سره یې خان په وچ ډاګ کې نه مخامخ کاوه. پر غرونو او پېچلو لارو به یې سفر کاوه او خپلو پلویانو ته به یې ویل چې ټوله پر یوه ځای سره راغونډ نشي. امیر نه غوښتل چې پلویان یې په یوه وار د دښمن په ناڅاپي برید کې تارومار شي. انګرېزانو زوروره توپخانه لرله چې مخې ته یې هر ډول لښکر نشو ټینګیدای. انګرېز سرتېرو ټوپک لرل. ښه آسونه یې لرل او د جګړې په دود او دستور ښه پوهیدل. دوست محمد خان پوهیدی چې په خو سوو لښکرو به نه انګرېزانو ته قطعي ماتې ورکړي او نه به خپله بایللې واکمني بیرته وګټلای شي. دوست محمد په ۱۹ پیړی کې د مدرنو پوځي تجهیزاتو په زور پوه و او له انګرېز لښکرو سره یې د نیغه په نیغه جګړې په پوچوالي سرخلاص و. خو امیر پر چریکي جګړې یو څه باور درلود چې د ده پلویانو ته یې تلفات لږ خو سیاسي او رواني ګټه یې ډېره درلوده. امیر غوښتل چې انګرېزانو ته ثابته کړي چې دی د خلکو ملاتړ لري او شاه شجاع به ونشي کړای چې په یوازې توګه او په کراره باچاهي وکړي.

دوست محمد خان له تېر نه هم په جګړې ښه پوهیدی او په ۱۸۲۶ کال کې واک ته د رسیدلو دمخه یې ډېرې جګړې ګټلې وې. د بامیانو ماتې امیر ته دا ورزده کړل چې له انګرېزانو سره جګړه باید چریکي او په غرنیو سیمو کې وشي چیرې چې د دښمن ځواکمنه توپخانه او ټوپکیان له طبیعي خنډونو سره مخامخ وي. امیر پدې هم وپوهید چې له انګرېزانو نه جګړه ایله په خو سوو او آن خو زرو مجاهدینو نشي ګټلی، بلکې منظم ځواک، تجهیزات او ښې پوځي تګلارې ته اړتیا لري. همدغه وه چې امیر له بامیانو نه د غوربند درې ته وخوځید او له هغه ځای نه یې کوهستاناتو ته د تلو تکل وکړ. میرمسجدي و امیر ته لیک استولی و او بلنه یې ورکړې وه چې کوهستان ته ورشي. امیر د شاه شجاع او د کوهستاني ملایانو له اختلافاتو خبر شوی و، خو پوره ډاډ یې نه درلود چې هغوې به د ده په ملاتړ د انګرېزانو خلاف، جهاد ته ملا وتړي. د کوهستاني ملایانو، په ځانګړې ډول د مسجدي ورونو، د انګرېزانو د یرغل په

مهال له انګرېز اجنټانو سره هوکړه کړې وه چې په کال کې د ۵۰۰۰ روپیو په بدل کې به د دوست محمدخان په ضد خلک وپاروي. دوې پخپل لفظ ودردیدل او د انګرېزانو د یرغل په مهال یې د شمالي سیمو خلک د دوست محمد خان په ضد قیام ته ودرول، خو انګرېزانو خپله ژمنه ونه ساتله او کوهستاني وړونو ته یې پیسې ور نکړې. د جمعې په خطبې کې د شاه شجاع د نوم نه اخیستل هم په اصل کې د مسجدي وړونو یو ډول ګواښ و چې شاه او انګرېزانو ته یې ورکړ، خو د مکناټن تګلاره د مُزد-بګیرو خانانو او ملکانو شمیر کمول وه نه ډېرول نو ځکه خو یې د پل خشتي د امام ګواښ سپک واچوه. مسجدي وړونو په کوهستان کې عملاً د جهاد اعلان نه و کړی خو د شاه مشروعیت ته یې سپکاوی کړی و.

کوهستان ته له تلو وړاندې، امیردوست محمد خان د تګاب او غوربند له مشرانو سره سلامشورې وکړې او پدوې کې د تګاب مشر رجب خان ډاډ ورکړ چې د شمال پرګنې د ده تر مشرۍ لاندې جهاد ته چمتو دي. امیر د کوهستان په لور وخوځید.

مکناټن ته چې کوهستان ته د امیر د حرکت خبر ورسید نو سملاسي یې د امیر د پلان د شنډولو په موخه خپل دوه جاسوسان کوهستان ته ولیږل چې میرمسجدي پخلا کړي او له انګرېزانو سره د امیر په ژوندي نیولو کې مرسته وکړي. مکناټن خپلو جاسوسانو ته ویلي وه چې میرمسجدي ته ووایي چې د همکارۍ په بدل کې به دی بیرته د پل خشتي د مسجد امام وټاکل شي او مالي مرستې به هم ورسره وشي. خو د مکناټن د جاسوسانو له رسیدلو وړاندې، د انګرېز ځواکونو یوې ډلې په کوهستان کې په تېروتنه کې د میرمسجدي پر کور برید وکړ، د کورنۍ ځو غړي یې ووژل او کور ته یې اور واچوه. پخپله میرمسجدي هم پدغه برید کې تېښي شو، خو د خپلو پلویانو په مرسته په تیښتې بریالی شو. دغه تېروتنه د انګرېزانو لپاره ډېره ګرانه پریوتله او مسجدي خان لوړه وکړه چې د انګرېزانو تر ماتولو به له جهاد نه لاس وانخلي. د میرمسجدي او انګرېزانو دښمني بیا هیڅکله په دوستۍ بدله نشوه.

کوله. خلک به پرې راټولیدل او د جهاد ویناوې به یې اوریدلې. په غوربند کې امیر خلکو ته وویل «که تاسو د خدای په لاره کې جهاد وکړئ نو نه یوازې چې پر دې فاني دنیا به سرخرویه شئ بلکې آخرت به مو هم روښانه شي. شاه شجاع د کفارو گوډاگی دی او په وړاندې یې جهاد کول پر هر مسلمان داسې فرض دی لکه لمونځ چې دی.» د امیر له جهادي خبرو وروسته به خلکو د الله اکبر نارې وهلې او یو په یو به ورتلل چې د امیر لاسونه ښکل کړي او بیعت یې وکړي. امیر ته په هرکلي او هرې سیمې کې ښه راغلاست ویل کیده او د پلویانو شمیر یې زیاتیده. چا به توره، چا به چاړه رااخیستې وه او غوښتل به یې چې د امیر له جهادي کاروان سره یو ځای شي - هر چا غوښتل چې پدې دنیا غازي او په بله کې جنتي شي. هغوي چې له مجاهدینو سره عملاً نه یوځای کیدل نو په بل ډول به یې له جهاد او امیر نه ملاتړ کاوه - چا به مجاهدینو ته ډوډې او اوبه ورکولې او چا به نینې، وچه میوه او د لاندې غوښه ورکوله.

د ۱۸۴۰ کال په سپتامبر او اکتوبر میاشتو کې امیر له غوربند درې نه نیولې بیا تر پنجشیر پورې د شاه شجاع او انگریزانو په خلاف ځو چریکي بریدونه وکړل - ځو شاه پلوي یې په یوه کلي کې وژلي. ځو یې په بل کې. دلته یې یو پُل وران کړی، هلته یې یو کور سوځلی. خو له هر برید وروسته، د بریا پر ځای، امیر د بې وسی احساس کاوه او د خپل جهاد په اړه یې شک ډېریده. ده به له ځان نه پوښتل «دا بریدونه به څومره دوام وکړي؟ که انگریزان شمال ته لښکرې راولیږي، زه به بیا چیرته وتښتم؟» امیر د خپلې اسیرې کورنۍ له اړخه هم ډېره اندیښنه لرله او فکر یې کاوه چې که دی په جگړې کې یو څه پرمختگ هم وکړي، نو انگریزان به یې کورنۍ د ده په خلاف وکاروي. امیر د خپل گران زوی، اکبرخان، په هکله هم ډېر خواښیني و چې بیا د بخارا د ظالم امیر په بند کې ایسار شوی و. کله به یې له ځانه سره ویل «اکبر به یې څومره شکنجه کړی وي چې زما د تیښتې راز ورته ووایي.»

امیر دوست محمد خان چې یو وخت یې د کابل او کندهار واکمني د نورې او جګړې په زور ګټلې وه، اوس له جګړې یو ډول خواتوري شوی هم و. دی که په بین الافغاني جګړو کې غښتلی او برلاسی و، خو له انګرېزانو سره په جګړه کې یې بیله ماتې خوړولو بل څه نه لیدل. امیر د بخارا د تورو څاه ګانو خواریو هم روحاً سخت ربړولی و او تل ورسره دا ویره وه چې بیا اسیر او بندي نشي. امیر پدغو تکوتورو او نمجنو څاه ګانو کې د مرګ خوند څکلی و. یوه ورځ چې سخت ناجوړه و او دوه وخته ډوډې هم نه وه ورکړل شوې، امیر وژړل او له خدای نه یې د مرګ خواست وکړ. امیر که څه هم د ۴۷ کالو و، خو خان یې سترې ستومانه او ضعیفه احساسوه. زندان روحاً مات کړی و.

دوست محمد خان چې کله پر واک و له الکساندر برنس او نورو خبرچیانو نه یې په لودیانه کښې د شاه شجاع د استوګنې په اړه معلومات ترلاسه کړي و. دښمن ژوندی و او امیر غوښتل چې ویوهیږي د سدوزو شهزاده د انګرېزانو په اسارت کې څه ډول ژوند لري. د قدرت په شخړه کې ورور خپل ورور او زوی خپل پلار وژني، خو امیر هک پک و چې انګرېزانو شاه شجاع لکه میلمه پاللی و. که د سدوزو او بارکزیو جګړه وه یا د قدرت هره بله جګړه، افغانانو او د سیمې نورو واکمنو د سیال او دښمن په وړاندې یو څه چې هیڅ نلرل هغه صلهٔ رحم او بخښنه وه، خو د انګرېزانو چلند بل ډول و. آن مات شوی او اسیر شوی دښمن یې ژوندی ساته. دوست محمد خان په ۱۹۳۹ کال کې له شمال نه بخارا ته پدې تمه پناه یوړه چې دی به هم د شاه شجاع په څیر چې د انګرېزانو میلمه و، د بخارا د امیر میلمه شي، خو د بخارا امیر د انګرېزانو په څیر دوراندیشه نه و.

یوه شپه امیر خوب ولید چې د ده په لاسونو کې یو اورد پړی دی. د پړي یو سر د امیر د ټولې کورنۍ په غاړه تړل شوی و او بل سر یې د اکبرخان په غاړه کې و. امیر پر آس سپور دی او پړی له خان سره کشوي، خو د آس له هر ګام سره د امیر د کورنیو د غړو چغې پورته کیږي. آس چې ودریږي نو چغارې هم بندې شي، خو بیا چې امیر آس مخې ته کړي نارې سورې وخیږي. امیر له خان سره د خوب تعبیر داسې وکړ چې له جهاد نه لاس واخلي او د خپلې کورنۍ د

خلاصون چاره وکړي. د خوب تعبیر آني او فوري پریکړه نه وه، بلکې د امیر د اوږدو ارزونو او سنجش پایله وه.

د نوامبر د میاشتې پر ۴ هوا ډېره سړه وه او د کابل پر آسمان تورو وریځو د واورې د اوریدلو وړاندوینه کوله. امیردوست محمد خان له خپلو څلورو نږدې ساتونکو سره پوره ورځ پر آس سفر کړی و. له ټول بدن نه یې یوازې پر مخ د سړې هوا نښه لیدل کیده - باړخوګان یې شیرچایي شوي و او سترګو کې یې د یخنۍ اوښکې لیدل کیدې چې په تیاره کې سترګو ته یې یو ډول خطاایستونکی خلا ورکوله. امیر ډېر وارخطا و او خورا ژر ژر یې نفس ایسته. امیر که څه هم چوپ و خو له هر نفس سره به یې سپین لوګی له خولې راوته. له کابل نه د امیر له تیښتې څه کم دوه کاله تېریده، د خورا سختو کړاونو کلونه. داسې کلونه چې پښو یې دوست محمد خان کې ژور، بې ساري او تلپاتې بدلونونه راوستلي و. یوازې د همدغه تېرکال د پېښو له کبله، امیر پخوانی امیر نه و.

کابل ښار ته رانږدېتلو سره د امیر د زړه درزا نوره هم چټکه شوله او ساه یې لنډه لنډه کیدله. امیر له ورایه ویریدلی هم ښکاریده. هره شیبه یې پر ځان د چا د ناببره چغې یا وارې ویره لرله. کابلښار په ماښامنۍ تیارې کې لا پوره نه و ډوب شوی او له لرې او نږدې د ماښام د آذان غږ اوریدل کیده. له یو څه مزل وروسته، د امیر له ساتونکو نه یوه د آس پر تشو پښې وټکولې او تر نورو په ځغستا دمخه شو او بیا، څو شیبې وروسته، د یوې سترې دروازې مخې ته ودرید. پر آس سپور د دروازې له ساتونکو سره څو خبرې وکړې او بیا یې ځټ ته ولاړو څلورو آسانو ته په لاس اشاره وکړه. د امیر د زړه دربا تر هر بل وخت ډېره شوه. دی هیڅکله پخوا دومره نه و ویریدلی، آن کله چې د بخارا په تور ځاه کې بندي و، آن کله چې یې یو کال وړاندې له کابل نه تیښته کوله. څه به وشي؟ امیر نه پوهیده او خپل ژوند یې ټول په بخت سپارلی و. په دروازې کې غږونه ډېر شول، د ساتونکو شمیر او رڼا هم ډېره شوه او څو شیبو کې د دروازې له هاخوا د شپیلیو غږونه اوچت شول. یوه شیبه د امیر ساه ودریدله داسې وګڼل چې ګواکې سپاهیانو ته د جنګ امر ورکړل شو. یو وارې یې فکر وکړ چې د

آس مخ راوګرځوي او وتښتي، خو بيا يې له ځانه سره وويل چې چيرې ولاړ شي؟ امير شا ته هيڅ نه و پريښي، هيڅوك يې نلرل. لدغه ځايه اصلاً تښتېدنه ناممكنه هم ښكاريده. همدغه مهال پر آسونو سپاره څلور سپاهيان په بيړه د امير خوا ته راروان شول او د سترګو په رپ كې شاوخوا يې راټول شول. يوه سپاهي بيله دې چې روغبړ يا احترام وكړي، په فارسي ژبه او په لوړ غږ وويل «د پُشت ما حركت كنيد!» او بيله دې چې بله خبره وكړي، بيرته د دروازې په لور رهي شو. امير او دريو ساتونكو يې هم پر آسانو پښې وټكولې او د سپاهي پسې روان شول. هر څومره چې د كلا دروازې ته نږدې كيدل هغومره رڼا او ږغ-و-ږوغ زياتيدل. امير چې يو څه پر خپلې ويرې غالبه شوی و او د زړه درزا يې لږ سوكه شوې وه، له ځانه سره وويل «توكلت و على الله - هر څه چې وشول!»

د كلا د دروازې مخې ته ګڼ شمير سپاهيان راټول شوي و. خو دروازه لا تړلې وه. كله چې د امير مخې ته روان سپاهي دروازې ته ورسيد نو لكه فنر له آسه را وغورځيد او د سپاهيانو په ډله كې ولاړو دوو تنو ته يې يو څه وويل او بيا يې د امير په لور اشارې وكړې. د سپاهيانو په ډله كې يو انګريز و چې كيڼ لاس ته يې هندو ژباړونكى ولاړ و. ژباړونكى چې په فارسي پوهيدی او د انګريز خوا كې داسې جوخت و چې تا به ويل د وجود دوهمه برخه يې ده. امير حيرانه و چې له آسه راكښته شي كه نه، پدې هم نه و خبر چې مخې ته يې په ولاړو كسانو كې څوك دي - آيا كوم يو يې مشر دی چې د دروناي لپاره يې له آسه كښته شي؟

انګريز د امير د آس خوا ته ورغی او غږ يې وكړ «سلام اعليكم! خوش آمديد! خوش آمديد!» او بيا يې خپل ژباړونكو ته څه وويل او ژباړونكي وويل «آيا شما دوست محمد خان استيد؟» امير ورته وويل «السلام اعليكم! بلی. بنده امير دوست محمد خان استم.»

دوست محمد خان دا مهال د هيڅ ځای او د هيڅ چا «امير» نه و. خو تولو امير باله.

انګرېز سپاهي بیا خپل ژباړونکي ته يو څه وويل او هغه دې وارې شا ته سپاهيانو باندې په اردو غږ وکړ چې «مشعل آگے بڑھاؤ!» سپاهيانو د امير شاوخوا په مشعلونو روښانه کړه او انګرېز چې د امير مخې ته په خير کتل خو خلې يې په لوړ غږ وويل «خوش آمدید! خوش آمدید!»

امير ته دا خبره عجيبه نه ښکاريدله چې يوه انګرېز کابل کې ده ته ښه راغلاست وايه -کابل کې، په هغه ښار کې چې دوه کاله وړاندې ده ته پکښې د اميرالمومنين لقب ورکړل شوی و، هغه ښار چې ده له سدوزو نه د توري په زور ګټلې و. دا ښه راغلاست عجيبه بدې و چې دوست محمد خان و انګرېزانو ته ښه راغلاست نه و ويلي، د هغو په ضد يې د جهاد اعلان کړی و.

انګرېز چې د امير د هويت په اړه ډاډه شو نو مخ يې شاته کړ او په هيجاني غږ يې وويل «Make way for the guest! Open the gate!» او ژباړونکي يې ورپسې په اردو او فارسي ژبو وويل «مہمان کے لئے راستہ بنائیں! دروازے کھولیں! راه را برای مهمان باز کنید! دروازه را باز کنید!» امير چې له آس سره کلا ته ورننوت نو چارچاپيره برې سپاهيان راټول شول، کرار-کرار د تماشاچيانو شمير ډېرېده تر څو چې د امير آس ودريد. که څه هم توره شپه وه، خو شاوخوا دومره مشعلونه و چې د امير شاوخوا ته سپينه ورځ ښکاريده. ځيني سپاهيان او د چونۍ نور منتظمين په بيړه دېخوا -هاخوا ګرځيدل او د «امير» نوم پر هره ژبه و. څو شيبو کې په انګړ کې ولاړو خلکو څو تنه مشعل په لاس سپاهيانو ته لاره پرانيسته چې د دوست محمد خان خوا ته ورشي. درې انګرېزان چې شاوخوا يې مشعلداران روان و، د امير د آس مخې ته ودريدل او يوه يې په سوچه فارسي غږ وکړ «اعليحضرت دوست محمد خان - خوش آمدید! بفرمایید!» او لدې خبرې سره سم يې د امير مخې ته تعظيم وکړ. امير يوه خبره هم ونکړه او سملاسي له آسه راکښته شو او د انګرېزانو په اشاره د انګړ ختيځ لور ته روان شو.

ويليام مکناټن اورده او ستومانه ورځ تېره کړې وه. د ۱۸۴۰ کال د نوامبر ۴ د چهارشنبې کرۍ ورځ يې له شاه شجاع سره تېره کړې وه. سبا ته يې شاه پرانستی

دربار درلود خو واردمخه یې لا اندیښنه یې لرله چې خلك به ترینه د امیردوست محمدخان او د جهاد په اړه پوښتنې وکړي. په تېرو دریو میاشتو کې مکناټن شاه ته تل ډاډ ورکاوه چې دوست محمدخان به د بغاوت او جګړې جرءت ونکړي او په هرحال کې به ډېر ژر ونیول شي. خو د دوست محمدخان چریکي بریدونو او د جهاد اعلان، مکناټن هم اندیښمن کړی و. انګرېز استازي لدې کبله هم اندیښنه کوله چې ډهلي ورته امر کړی و چې لګښتونه لږ کړي او هند ته د لښکرو د بیرته ستنیدلو چمتوالی ونیسي. مکناټن خپل مرستیال او سلاکار الکساندر برنس ته ویلي و «زموږ پوځي او مالي شاتګ به امیر او پلویان بې نور هم وهڅوي چې جهاد ته زور ورکړي.» مکناټن اټکل کاوه چې دوست محمدخان به ډېر ژر د کوهستاني وړونو په مرسته د کابل په شمال کې پراخې سیمې تر ولکې لاندې راولي او له هماغه ځای نه به پر کابل غلچکي او چریکي بریدونه ډېر کړي. همدغه ورخ مکناټن فکر کاوه چې لارد اکلند ته لیك واستوي او ترې غوښتنه وکړي چې د جګړې لګښت کم نکړي او پوځیان هم د دوست محمدخان تر پوره ماتولو پورې په افغانستان کې پرېږدي.

پداسې حال کې چې انګرېز استازي د دوست محمد خان د بري د ویرې ماتم نیولی و، نابېره خبر ورته راغی چې امیر په کابل کې د انګرېزانو پوځي چونۍ ته راغلی دی. د دې خبرې له اوریدلو سره مکناټن لکه فنر ځوکی نه وغورځید. یوه شیبه یې فکر وکړ چې ګواکې امیر له خپل لښکرو سره پر چونۍ باندې برید کړی، خو خبرچي ورته وویل چې امیر یوازې دی. «امیر په یوازې سر دلته راغلئ! ولې؟» خبرچي په هیښو سترګو ورته کتل او ځواب یې نه درلود. بیایې وپوښتل «اوس چیرې دی؟»

«په قراول کې!»

«رایې ولئ! رایې ولئ!» او پخپله هم د خبرچي سره له دالان نه راووت. خبرچي په منډه د قراول خوا ته ولاړ، خو مکناټن د دالان مخې ته یو څو شیبې ودرید او بیا یې پر ساتونکو امر وکړ چې مشعلې راوړي. مشعلدرانو د دالان مخه روښانه کړه. مکناټن دوې سترګې د قراول خوا ته نیولې وې. کله به یې پر

یوه او کله به یې پر بلې پښې فشار واچوه، یو څه به مخې ته شو او بیرته به شانه شو. مکناټن یوازې د امیر انځور لیدلی و. خو پخپله یې هیڅکله ورسره مخامخ شوې نه و. د امیر د زړه ورتیا، جنګي تدبیر او تیز هوښ په اړه یې له ډېرو اوریدلي و. له ځانه سره یې ویل «امیر دا څه چم جوړ کړئ؟ آیا تسلیم کیږي که د سولې لپاره راغلی؟ آیا په ریښتیا امیر راغلی که کوم بل څوک یې رالیږلی؟» انګریز استازی پدغو پوښتنو کې و چې د قراول له لور نه څو کسه راښکاره شول. دري کسه وه چې شا ته یې دوه مشعلداره ساتونکي وه. امیر د دوو انګریز منصبدارو په منځ کې راروان و.

امیر چې د مکناټن مخې ته ورسید نو یوه لنډه شیبه تم شو او سترګې یې پورته کړې او د انګریز استازي هیښو سترګو ته یې په عاجزۍ وکتل. مخکې لدې چې د دوې تر منځ یوه خبره هم وشي، امیر په چټکۍ سره ځان کړوپ کړ او په دواړو لاسونو یې د مکناټن د راسته لاس خوا ته نیمچه ټوپ وکړ. مکناټن هم په غیرارادي توګه لاس وراوږد کړ. امیر د مکناټن لاس پر خپل مخ د ښکلولو په ډول کښیښود او تر هغو چې یې د مکناټن غږ وانورید سر یې د هغه پر لاس هماغسې ځوړند نیولی و.

«دوست محمد خانه! سلام! ښه راغلاست...ښه راغلاست. ډېر خوشحاله یم چې تاسو وینم.» او د مکناټن له همدغو خبرو سره امیر د هغه لاس پرېښود او د اوښکو ډکې سترګې یې راپورته کړې. امیر ولې او څنګه وژړل، ښایي پخپله هم نه پوهیده. ښایي دا د انتهایي بې وزلۍ او ذلت اوښکې وې چې بې اختیاره د امیر له سترګو راتویدلې. امیر د افغانستان پخوانی واکمن و چې ډېرو خلکو یې آن د لاسونو د ښکلولو ارمان درلود، خو اوس دی د خپل کافر دښمن د لاس ښکلولو ته اړ شوی و.

«مهرباني وکړئ، دننه راشئ. بهر ساړه دي.» او لدې ویلو سره مکناټن امیر ته شا کړه او د دالان په لور روان شو. امیر بیله دې چې خوله پرانیزي د مکناټن پسې روان شو. امیر سترګې مځکې ته نیولې وې او شاوخوا ته یې نه کتل. د خجالت احساس یې درلود، داسې یې انګیرل چې که پورته او شاوخوا وګوري

نو اشنا څېرې به ويني. امير دغه شېبه بيله مکناټن نه هيچا ته د کتلو جرعت نه درلود - هغه امير چې يو مهال په کابل، غزني، کندهار او هرات کې يې د سدوزو پر لښکرو په نيمه شپه کې زړه ور بريدونه کول. اوس يې پخپل کابل کې د سترګو د غړولو زړه نشو کولای.

امير نه پوهيد چې بهر هوا څومره سړه وه، خو کله چې مکناټن ته مخامخ په يوې روښانه کوټې کې پر نرمې څوکۍ کښيناست، د لومړي ځل لپاره يې د راحت تودوالي احساس وکړ. همدغه انګرېز مکناټن چې د امير ژوند او د هغه د ټولې کورنۍ ژوند يې په واک کې و، له امير سره په درناوي او ادب خبرې پيل کړې او څو ځلي يې ورته وويل چې دی او کورنۍ يې خوندي دي او دی بايد هيڅ ډول انديښنه ونکړي. امير چې په ټکي انګرېزي نه پوهيد، دې ته هم په حيرت و چې مکناټن ورسره په روانه فارسي خبرې کولې او امير خوشحاله و چې له انګرېز استازي سره نيغه په نيغه او بيله ژباړونکي خبرې کوي.

امير و مکناټن ته وويل «زه پر خپلو کړنو پښيمانه يم. هيله کوم زما ګناوې راوبخښئ! زه ستاسو نه د بخښنې او مهربانۍ هيله لرم.» دوست محمد خان او مکناټن څو ساعته خبرې وکړې. د شاه شجاع په اړه وغږيدل. د بخارا د امير، د بلخ د حاکم، د ميرمسجدي خان، د اکبرخان او د امير د اسيرې کورنۍ په اړه هم وغږيدل.

مکناټن له امير نه وپوښتل چې آيا غواړي چې شاه شجاع ته بيعت وکړي او د هغه په سلطنت کې يو مقام کې وټاکل شي؟ امير په ځواب کې ورته وويل «ستاسو مرحمت پر ما خورا ډېر دی، خو تاسو ته استدعا کوم چې ما شاه ته ونسپارئ. هغه به زما سر پرې کړي. هيله کوم، ما له خپلې کورنۍ سره پخپل خدمت کې وساتئ.» امير پدې نه و خبر چې انګرېزان افغانستان ته د تل لپاره نه و راغلي او د وتلو هوډ يې درلود. دوست محمد خان فکر کاوه چې دننه په افغانستان کې به له خپلې کورنۍ سره د انګرېزانو لخوا وساتل شي.

مکناټن وویل «ناسو ستړي یاست. لطفاً استراحت وکړئ او باني خبرې به راتلونکو ورځو کې وکړو.»

امیر چې یوازې شو، نو د آرامښت احساس یې ډېر شو. داسې یې انګېرل چې د ژوند تر ټولو ستره غوټه یې پرانیستل شوې وې. نور یې د شرم او خجالت احساس نه درلود.

مکناټن چې امیر رخصت کړ نو لومړی یې لارډ اکلنډ ته لیک ولیکه او د دوست محمدخان د تسلیمدلو خبر یې ورکړ. په لیک یې دا هم ولیکل چې شاه شجاع به وهڅوي چې امیر وبخښي. خو دا اندېښنه یې هم ولیکله چې امیر او شاه به، دواړه، په کابل کې په سوله کې ژوند ونکړي او ده ته به سرخوږی جوړ کړي. مکناټن خپل مشر ته دا هم ولیکل چې دوست محمد خان به په نږدې راتلونکي کې لودیانې ته ولېږدوي چې له خپلې کورنۍ سره یو ځای شي. که څه هم چې دوست محمد خان دوه ځلې د انګرېزانو په خلاف د جهاد اعلان کړی و، خو مکناټن د امیر اسیر ساتل شاه شجاع ته د هغه تر سپارلو د انګرېزانو په ګټه ګڼل. مکناټن چې د شاه شجاع له بې کفایتۍ په تنګ و، دوست محمد خان ورته د کار سړی او هوښیار سړی معلوم شوی و. انګرېز استازي دا هم انګېرل چې که شاه شجاع په راتلونکي کې د برتانوي هند اوامرو نه سرغړونه وکړي، نو امیر به د هغه د ډارولو لپاره وکاروي.

لارډ اکلنډ ته تر لیکلو وروسته، مکناټن غوښتل چې بالاحصار ته ولاړ شي او شاه ته د امیر د تسلیمدلو خبر ورکړي. خو خپل مرستیال برنس ورپه یاد شو او سملاسي یې یو خبرچي ورولېږه چې برنس ورته راولي.

د افغانستان د یرغل په مهال برنس تمه لرله چې دی به انګرېز استازی وي خو مکناټن چې د لارډ اکلنډ سیاسي مشاور و، پدغه دنده وټاکل شو. د دې کار یو لامل ښایي دا و چې برنس اصلاً پر افغانستان د انګرېز د پوځي یرغل او پر واک د شاه شجاع له کېښنولو سره مخالفت درلود. برنس له ۱۸۳۱ کال راهیسې په افغانستان او شاوخوا سیمو کې سفرونه کړي و او څو ځلې یې له دوست محمد خان سره لیدلي و او د امیر په وړتیاو او ځانګړتیاو ښه پوهېده. هغه فکر

کاوه چې آن تر شاه شجاع، دوست محمد خان د انګرېزانو ښه متحد کېدای شي. په ۱۹۳۸-۱۹۳۹ کلونو کې برنس په کابل کې د امیر میلمه و او څو واري بې د برتانوي هند او امیر دوست محمد خان تر منځ پیغامونه هم تبادله کړل. مکناټن بیا د برنس د لیدلوري مخالف و او واک باندې د شاه شجاع پر کښېنولو بې ټینګار درلود. د دوی داوړو دریځونه د برتانوي هند چارواکو ته څرګند و او کله چې پر افغانستان د یرغل پریکړه وشوه، نو ډهلي او لندن لپاره د شاه شجاع تر څنګ د انګرېز استازي په توګه تر مکناټن بل څوک غوره نه ښکارېده.

برنس د انګرېزانو له چونۍ دباندې د کابلښار په خرابات سیمې کې استوګنه کوله. د خرابات سیمه د برنس تر مرګ وروسته هم د کابل د جنسي کارګرانو (رنډیو) او سندرغاړو اډه بلل کېده، ګواکې برنس ښه او څواکمن میراث پرېښی و. برنس د خپلو جاسوسانو سره د اړیکو ساتلو او دغه راز د عیاشي کولو په خاطر نغوښتل چې د پوځي چونۍ دننه واوسېږي. ده دغه راز پخپل کور کې په آزاده توګه افغان قومي مشرانو ته میلمستیاوې ورکولې.

د مکناټن خبرچي لا د برنس کور ته نه و رسیدلی چې منشي موهن لال برنس ته د امیر دوست محمد خان د تسلیمدلو خبر ورکړ. که د افغانانو او انګرېزانو په لومړۍ جګړه کې کوم جاسوس ته د ښه کار مډال ورکول کېدای، نو تر موهن لال زوتشي (کشمیري) بې بل هیڅوک وړ نه و. د غازیانو د مشرانو له وژلو نیولې د متضادو تړونونو په جوړولو او د تفرقې په خپرولو کې. موهن لال انګرېزانو ته خورا ستر خدمتونه وکړل، خو دغه تکړه جاسوس په تر ۳۱ کلنۍ وروسته، په تنګدستۍ او خواریو کې سخت لالهانده شو. موهن لال د امیردوست محمد خان د بیوګرافي لیکوال هم دی چې اثر بې پخپل ډول کې بې جوړې ګڼل کېږي. د ده د شخصي خاطراتو څو جلده چې ویل کېږي د افغانستان او انګرېزانو د لومړۍ جګړې ډېر رازونه پکښې ثبت شوي و، له بده مرغه، ترې تم شول.

برنس سملاسي خان چمنو کړ چې د مکناټن اسنوګنځای ته ورشي او دوست محمد خان ووېني. برنس له مکناټن سره د لیدلو په مهال خان بې خبره وښود. د انګرېزانو په پېچلي سیاسي او اداري سیستم کې ماموړینو ته ګرانه پرېبونه چې له خپلو رئیسانو نه خان ډېر هوښیار او با خبره وښيي او برنس هم په همدې قاعدې ښه پوهېده.

مکناټن چې خپل سیاسي مرستیال ولید نو بیله دې چې خپل لیک ورپه یاد وي ورته یې وویل «برنس، حیرانونکی خبر درته لرم. امیر دوست محمد خان موږ ته تسلیم شوی!»

برنس بیله خنده ورته وویل «اوه زما خدایه! رښتیا همداسې ده؟ دا خو ډېر ښه خبر دی.» مکناټن له دوست محمدخان سره د خپلو خبرو غورچاڼ برنس ته ووایه خو دایې ورته ونویل چې لارد اکلنډ ته یې د امیر د سرنوشت د ټاکلو په اړه لیک استولی دی.

مکناټن برنس ته وویل «زه غواړم امیر په لودیانې کې له خپل حرم سره یوځای شي.»

برنس «شاه ته مو احوال ورکړئ؟»

مکناټن «نه، سبا به ورته ووایم. داده یم چې هغه به سملاسي د دوست محمدخان اعدامول وغواړي.»

برنس «هو، که اعدام نه لړترلږه ړوند خو به یې کړي. تاسو خو به شاه دې کار ته پرې نږدي؟»

مکناټن «نه، زه غواړم هغه ژوندی وساتو. ماته یې ژوندی ساتل تر وژلو ګټور ښکاري. ته څه فکر کوئ؟»

برنس دوست محمدخان د کار سړی دی او ژوندی او روغ ساتل یې سل وارې تر وژلو ګټور بولم. که شاه خپل سر ته پرېږدې، نو ټول بارکزي به ووژني.»

برنس له مکناټن سره تر خبرو وروسته له هغه نه اجازه واخیستل چې له دوست محمدخان سره وګوري او هغه ورته وویل چې «هغه سړی ښکاري. خبرې دې ورسره لنډې کړه. سبا به دواړه په تفصیل ورسره وغږیږو.»

برنس څه کم دوه کاله وروسته امیر دوست محمد خان ولید. هغه ډېر ډنګر په نظر ورغی. ۴۷ کلن امیر دوست محمد خان ورته ۵۷ کلن بوډا ښکارېد. د امیر په ږیره کې ډېر سپین وریښتان لیدل کېدل او پر تندې او د سترګو په شاوخوا کښې یې د بخارا د بند ترخې له ورایه لیدل کېدې. امیر برنس په لومړي نظر کې وپیژنده او تود روغبړ یې ورسره وکړ.

امیر «برنس، زما ملګریه! له لیدلو دې ډېر خوشحاله شوم.»

برنس، امیر ته هرکلی وکړ او ورته یې وویل «تاسو ته د سولې د انتخابولو له کبله مبارکي وایم. تاسو ډېره معقوله او ښه پریکړه وکړه. موږ ستاسو د میلمه پالنې لپاره چمتو یو.»

برنس د مکناټن د سفارش خلاف له امیر سره د شپې تر نیمایي پورې بانډار وکړ. امیر ورته د بخارا د زندان د سختیو خبرې وکړې او برنس ډاډ ورکړ چې پخپل ټول وس به د هغه د ښې میلمه پالنې لپاره هڅې وکړي.

امیر هغه شپه آرامه ویده شو؛ په تېرو دوو کلونو کې داسې آرامه نه و ویده شوی. امیر هر څه شا ته پرېښي و، هر څه یې بایللي و او د نور هیڅ شي د بایللو اندیښنه یې نلرله.

امیر ولې تېر کال تسلیم نشو؟ ولې بخارا ته له تېښتې دمخه یې ځان انګرېزانو ته و نسپاری؟ تېر کال امیر ته د انګرېزانو د پوځي ځواک اټکل نه لګیده، پدې باور و چې که جهاد اعلان کړي نو د الله تعالی په مرسته به کفارو ته داسې ماتې ورکړي چې بیا به هیڅکله مسلمانانو ته په بدو سترګو ونګوري. امیر له خدای نه و خواتوری شوی، خو پر جهاد یې پوره ایمان بایللی و.

شاه شجاع د پنجشبې په ورځ دربار درلود. د سهار له لسو بجو نه تر دوولس نیمو بجو پورې به شاه پخپل دربار کې د خلکو عرایض او شکایتونه اوریدل او د اجراآتو امرونه به یې ورکول. شاه د خلکو د ژوند او مرګ پریکړې کولې، چا

ته به یې پیسې ورکړې خو څوک به یې په مرګ یا بند محکوم کړ. شاه خلک خانته نږدې نه پرېښودل. آن د خپل لاس د ښکاولو فرصت یې هم نه ورکاوه. شاه شجاع خپل رعیت ته په ډېره ټیټه سترګه کتل او هیڅ ډول عاطفي اړیکې یې نه ورسره لرلې. د شاه له انده افغانان په دوو شیانو ښه پوهېدل - زر او زور. هغه د خپل زړه خبرې یوازې له نږدو انګرېز مشاورینو سره کولې او تل به یې ویل «این قوم سگ را من خوب می شناسم. برای پول همه چیز خود را می فروشند. اینان را باید مثل مگس کُشت و هیچ رحمی نباید بر آنها کرد.»

د ۱۸۴۰ میلادي کال د نوامبر پدغه پنجشنبې د شاه شجاع دربار ونشو. امیر له انګرېز استازي نه د امیر دوست محمد خان د تسلیمدلو خبر واورید. شاه له خوشحالۍ په جامو کې نه ځاید. هغه مکناټن ته وویل «دا خاین راولې ماته چې د خیانتونو سزاوې یې ورکړم.» شاه فکر کاوه چې انګرېزان به دوست محمد خان ده ته وسپاري. خو کله چې یې له مکناټن نه واورېدل چې دوست محمد خان انګرېزانو ته پناه راوړې او د هغو میلمه دی نو ډېر ناهیلی شو. شاه په وارو مکناټن ته وویل چې پر دوست محمد خان باور ونکړي «هغه د لستوني مار دی چې سر یې باید پرې شي.»

مکناټن. شاه ته وویل چې امیر به لودیانه کې د انګرېزانو تر نظارت لاندې ونیول شي «ښه خبره دا ده چې ستاسو دښمن مات شوی او ستاسو د سلطنت ستې نورې هم ټینګې شوي دي.»

شاه: «دوست محمد خان باید حداقل په عام محضر کې ماته بیعت وکړي او د خپلو ګناوو بخښنه وغواړي.»

مکناټن: «ستاسو خاطر دې راحته وي. زه به یې ډېر ژر ستاسو حضور ته حاضر کړم، خو تاسو ته استدعا کوم چې پر بخښنې فکر وکړئ او له غچ اخیستلو تېر شئ. موږ پوهېږو چې امیر ستاسو او ستاسو د واکمنی تر ټولو سخت دښمن دی، خو زه تاسو ته ډاډ درکوم چې موږ به اجازه ورنکړو چې ستاسو په وړاندې یو غلط ګام هم واخلي.»

شاه نور له مکناټن سره خبره ونه پیچل خو فکر یې تړول د دوست محمد خان په وژلو راټول و. شاه پوهېدی چې انګرېزان به هغه ده ته په لاس ورنکړي چې چارماري یې کړي. شاه دا هم نغوښتل چې سیال یې د ده په بې واکۍ پوه شي. شاه غوښتل چې دوست محمد خان ته وښيې چې دی د افغانستان اصلي واکمن دی او انګرېزان یوازې د ده مرستې لپاره راغلي دي. د انګرېزانو عجیبه سیاست و، دښمن یې د وژلو پر ځای د میلمه په توګه ساته او مصرف یې ورباندې کاوه. دغه سیاست د نورو ولسونو پر پرتله د افغانانو لپاره تر ټولو غیر عقلاني ښکارېده. افغانانو دښمن څه چې خپل وړونه او اولادونه د واک او ګټو لپاره وژل. که افغانانو له انګرېزانو لږ تر لږه دغه سیاست زده کړې وای، نو ښایي د ډېرو انسانانو د وژل کېدو مخ نیول شوی وای. افغانان که څه هم ځانونه مسلمانان ګڼي او په اسلام کې د ژوند اخیستل ستره ګناه او بخښنه لوی ثواب بلل کېږي، خو د یوبل په وژلو کې یوه شیبه هم صبر نکوي.

شاه له مکناټن سره خپل د درباري چارو مشر ملا عبدالشکور اسحاقزی امیر ته د ښه راغلاست د پیغام د لیږلو لپاره واستوه. خو دوست محمد خان د شاه له پیغامچي سره له لیدلو ډډه وکړه. امیر له مکناټن سره په دوهمې لیدنې کې هغه ته په زاریو شو چې شاه ته یې ونسپارې.

امیر: «زه له تاسو هیله کوم چې ما ووژنئ خو شاه ته مې مه سپارئ.»

مکناټن: «تاسو زموږ میلمه یاست او موږ به ستاسو د خوندي ساتلو لپاره ټول اړین اقدامات ترسره کړو. تاسو اندیښنه مه کوئ. موږ پوهېږو چې که د شاه لاس تاسو ته ورسیږي نو تاسو به یوه شیبه هم ژوند ونکړئ. شاه په هیڅ ډول ستاسو بخښنې ته نه چمتو کېږي. ما ډېره هڅه وکړه خو هغه یوازې تاسو ته د سختې سزا غوښتنه کوي.»

دوست محمد خان او شجاع الدوله په ریښتیا هم چې له یو بل نه بې حده کرکه کوله او د یو بل د وژلو لپاره هر څه کولو ته چمتو و. عجیبه خو دا وه چې دواړو افغان مشرانو له یو بل نه انګرېزانو ته پناه وړې وه او هر یوه هڅه کوله چې انګرېز ته ډېر ځان ورنږدې کړي، او د دې کار لپاره یې په ځرګنده سیالي کوله.

که څه هم چې شاه د انګرېزانو اصلي متحد و او د هغو په مټو د افغانستان تاج- وتخت ته رسیدلی و، خو امیر هم تل انګرېزانو ته د دوستۍ پیغام ورکړی و. دواړه مشران پدې ښه پوهېدل چې یوازې د انګرېزانو په ملاتړ کولی شي چې په افغانستان کې واکمن پاتې شي او دواړو له انګرېزانو د مرستې او ملاتړ تمه کوله. که څه هم چې مکناټن شاه پلوی او برنس امیر پلوی و، خو دواړو نغوښتل چې شاه او امیر روغه وکړي. اصلاً د شاه او امیر تر منځ روغه او سوله ناممکنه وه - یا باید شاه وای، یا امیر. د ګډ حکومت تصور نکیده. د انګرېزانو د سیاست بنسټ خو له سره "divide and rule" و او هیڅکله یې نه پرېښودل چې د شاه او امیر تر منځ د اعتماد او باور مزي ټینګې شي.

که شاه او امیر روغه کړې وای او له یو بل سره د جګړې پر ځای یې د همکارۍ لاسونه ورکړې وای. نو څه به شوي وای؟

د جمعې په ماښام د شاه د امر سره سم له بالاحصار نه د آسونو په ګاډۍ کې رنګارنګ خواړه د امیر استوګنځای ته ورسول شول. شاه غوښتل چې پدې ډول هرکلي کولو امیر ته ووایي چې دی واکمن او ولینعمت دی، خو امیر د شاه رالیږلي سوغاتونه او ډوډۍ بیرته مسترد کړل. دا کار شاه ته څرګند سپکاوی و. امیر غوښتل چې شاه ته ووایي چې «نه، ته تش په نامه پاچا یې». امیر په راتلونکې اونۍ کې هم د مکناټن او برنس پرله پسې بلنې رد کړې چې ویل یې د شاه لیدلو ته ورشي، خو امیر دواړو ته ویل چې «زه شاه ته نه، تاسو ته تسلیم شوی یم.»

د امیر د تسلیمیدلو خبر په کابل کې هم خپور شوی و. ځینو دا خبر نه مانه او د انګرېزانو درواغ یې باله، خو ځینو نورو بیا فکر کاوه چې امیر ته به ډېر ژر په عام محضر کې سزا ورکړل شي. پدې لړ کې شاه ځان ډېر تر فشار لاندې احساسوه. امیر د خلکو له سترګو پټ د انګرېزانو په کلاو کې او د شاه له واک نه بهر و. د شاه تر ټولو ستر دښمن په همدې ښار کې و او شاه هیڅ نشو کولای. شاه په وارو له مکناټن غوښتلي و چې لااقل امیر دربار ته د بیعت کولو لپاره راولي، خو مکناټن په یوې یا بلې بهانې دغه کار ځنډولی و. شاه آن ځیني

قومي مشران مکناټن ته په مرکه استولي و چې امير بيعت کولو ته وهڅوي، خو انگرېز استازي ورته ويلي و چې امير ناروغه دی او استراحت ته اړتيا لري.

د نوامبر د ۱۲ په ماښام، مکناټن د امير ليدلو ته ورغی او ورته يې وويل چې د سفر لپاره ځان چمتو کړي. سبا سهار تر لمانځه وروسته، امير دوست محمد خان د لسو انگرېز منصبدارو په مشرۍ د ۱۲۰ هندي سپاهيانو په کاروان کې د کابل ختيځ کې د ننگرهار په لور روان شو. امير چې له کابل نه ووت نو د آرامۍ ساه يې وايستله او ډاډه شو چې د شاه شجاع له منگلو وخوت. د امير کاروان تر دوو شپو او دريو ورځو سفر وروسته، د نوامبر د ۱۵ په ماښام جلال آباد ښار ته ورسيد او د انگرېزانو په اډې کې تم شول. په جلال آباد کې د امير مشر زوی، افضل خان، هم ورسره يو ځای شو. د نوامبر پر ۱۷، امير د لودياني په لور وخوځيد او د ډسامبر په مياشت هلته له خپلې کورنۍ سره يوځای شو.

د امير کورنی، د هغه مهال د اشرافو او واکمنو په خير، ستره وه. امير دوست محمد خان ۹ مانديني، ۲۱ مرندۍ، ۱۰۲ وينځې او ۱۲۰ مريان لرل چې وروسته بيا دغه شمير آن ۱۱۰۰ ته ورسيد. امير په لودياني کې په هماغه ځای کې استوگن شو چې تر ده دمخه شاه شجاع پکښې و. انگرېزانو د امير د خيلخانې د لگښت لپاره پنځه زره روپۍ مياشتنی وټاکله.

دوست محمد خان د انگرېزانو تر وزرو لاندې په آرامه شو، خو دننه په افغانستان کې د هغه د جهاد تخم وغوړيد.



## د غچ اخیستلو لښکر

د الکساندر برنس وژنې په افغانستان کې د انګرېزانو د واک ستنې ولړزولې. انګرېزان هک پک یا د دوی په خپله خبره «شاک» شوي وه. دوی هیڅ نه ګڼله چې ایله په څو ساعتونو کې یو خودجوشه حرکت به داسې بوړنونکي پایلې ولري. انګرېزانو چې له لسیزو راهیسې پر ګاونډي هند پاچاهي چلوله، له داسې یوه ګواښ سره نه و مخامخ شوي چې د یوه جګپوړي انګرېز چارواکي وینې پکې توې شي. په هندوستان کې به چې حالات ډېر خراب شول نو خلکو به ایله سوله ایزه هرتال وکړ، دوکانونه به یې وتړل، کاروبار به یې پرېښود او پر سړکانو به کښیناستل، خو وسلو او د انګرېزانو د وژلو ګواښ به نه و. له استرالیا نه نیولې تر کاناډا پورې، د انګرېزانو تر زیښاک لاندې هیوادونه دومره ډېر و چې د دوی په خبره لمر به د انګرېز پر امپراطورۍ نه ډوبیده. خو که په افریقا کې و که په آسیا کې، انګرېزانو د دوی په خلاف د ملي او سیمیزو مخالفتونو د ګواښونو پوره جاج درلود. په نورو هیوادونو کې به چې خلکو ډېر ورانی وکړ نو کورونه او ګدامونو ته به یې اور واچوه او د انګرېزانو سیمیز نوکران به یې ووژل.

ټولو کې يو ډول پوهاوی و چې که انګرېز ووژل شو، هغه هم جګړې
چاروا کی، نو انګرېز پوځيان به ټولې سيمې ته سختې سزاګانې ورکړي.
په ۱۸۳۴ کال کې يوې ډلې افراطي هندوانو په ګجرات کې د انګرېزانو په
خلاف قيام وکړ. بلواګرو د انګرېزانو د لسګونو هندو مستخدمينو سربېره، يو
انګرېز پوځي هم وواژه. لدې پېښې درې ورځې وروسته، د انګرېزانو لښکر په
سيمه کې په ټولوژنې لاس پورې کړ -نارينه، ښځې، ماشومان او زاړه هر څوک
چې به يې د بلواګرو په سيمه کې وموندل تر چړو او مردکيو به يې تېر کړل.
انګرېزانو په وژنو بسنه ونکړه او کليو او کروندو ته يې هم اور واچوه، سلګونه
کورونه يې وسوځل. انګرېزانو د دغه ډول عمومي مجازاتو له لارې سيميزو
خلکو ته دا پيغام ورکاوه چې د يوه انګرېز وژل څه ډول پايلې لرلې شي، او دا
چې په هند کې هيڅوک او هيڅ ډله هيڅکله ددې جرعت ونکړي چې
انګرېزانو ته ګواښ متوجه کړي. عجيبه خو لا دا وه چې د هند په نيم قاره کې د
انګرېز پوځ ۸۰ سلنه پوځيان سيميز خلک و، يعنې انګرېزانو د خپلو سيميزو
ګوډاګيو سرتېرو په لاس د سيمې خلک وژل او ځپل.
د شوربازار تر بلوا وروسته، مکناټن د انګرېزانو د سزا ورکولو دوديزې
تګلارې ته مخه کړه او د انګرېز پوځيانو عمومي قومندان، تورنجنرال ويليام
الفنستون، ته يې وويل چې د مجازاتو لښکر چمتو کړي.
پنځوس کلن ويليام جورج کيت الفنستون تر افغانستان دمخه د انګرېزانو او د
فرانسې د امپراطور ناپلئون بوناپارت تر منځ په مشهورې جګړې، واترلو، کې ښه
ځلېدلی و. واترلو د نني بلجيم يوه سيمه ده او په ۱۸۱۵ ميلادي کال کې په
همدغې سيمې کې ناپلئون له انګرېزانو حيرانونکې ماتې وخوړه چې د ناپلئون د
امپراطورۍ د ناکامه کېدلو لامل هم شوه. د انګرېزانو په تاريخ کې د واترلو
جګړې ته په خورا درناوي او وياړ کتل کيږي او تر نن ورځې د لندن ځينې
مشهورې سيمې او واټونه په همدې نامه يادېږي. همدغه د واترلو جګړه وه چې
فرانسويان يې انګرېزانو ته مات کړل. الفنستون په واترلو جګړې کې د زړه
ورتوب او د فرانسويانو د پياده ځواکونو په ماتولو کې د ښه مهارت او زړه ورتيا

ښودلو له کبله د انګرېزانو په پوځي او سياسي کړېو کې ډېر شهرت موندلی و او
ډېر مډالونه يې ګټلي وه. الفنستون خپل ټول ژوند پوځ ته وقف کړی و او له
همدې کبله يې هيڅکله واده نه و کړی. دی په ۱۸۳۵ کال کې په يو ډول
ناروغی اخته شو او له همدې کبله څو کاله په لندن کې پاتې شو ترڅو چې په
۱۸۴۰ کال کې لارد اکلنډ ترې وغوښتل چې په افغانستان کې د انګرېزانو
عمومي قوماندان شي. د الفنستون له انده د افغانستان د يرغل جګړه پای ته
رسيدلې وه. دوست محمد خان مات شوی و. او اوس پر افغانستان په اصطلاح
د «راج» وخت و او دی د راج کولو لپاره چمتو و.

مکناټن او الفنستون د الکساندر برنس د وژل کيدلو د ورځې په مازديګر د
کابل په بي بي مهرو سيمه کې د انګرېزانو په پوځي قوماندانۍ کې فوق العاده
غونډه لرله. په غونډه کې د دوې تر څنګ دوه نور انګرېز جنرالان او د
استخباراتو مشر هم ګډون درلود.

مکناټن د غونډې مشري کوله او په ويرجن غږ يې وويل «د مرحوم برنس
وحشيانه وژنې دلته هرڅه بدل کړل. موږ اوس په جنګي حالت کې يو او بلواګرو
ته بايد غابښ ماتونکی ځواب ورکړو.»

الفنستون افغانستان ته نوی راغلی و او تر اوسه لا د هيواد د وضعيت او
پکښې د مطرح کسانو په اړه ډېر نه پوهيده. ځکه خو يې وپوښتل «بلواګر څوک
دي؟ مشر يې څوک دی؟ ولې يې برنس وواژه؟»

مکناټن د استخباراتو مشر، جيوفري هننګتون، ته په حيرانتيا وکتل، او ګواکي
ورته يې ويل «دی لا تر اوسه بې خبره دی!؟»

د استخباراتو مشر لومړی ستونی صاف کړ او بيا يې وويل «جنرال صاحب،
بلواګر يوه ډله وحشي لغړيان دي. دوی يو مشر نلري خو د بريد په ورځ امين
الله لوګري او عبدالله خان اڅکزي دواړو بلواګر وپارول. زموږ راپورونه ښيي چې
د بلواګرو شمير تر دوو زرو لږ دی خو ځيني پکښې وسلې لري.»

الفنستون په بيړه ترې وپوښتل «څه ډول وسلې؟»

جيوفري: «ټوپکان.»

الفنستون: «درنه وسله...یعني توپونه خو نلري؟»
جیوفري: «نه، زموږ د راپورونو له مخې درنه وسله نلري.»
مکناټن دواړو ته وویل «ښه نو، ستاسو پلان څه دی - څنګه یې باید پیل کړو؟»
الفنستون چې ځان تر هننګتون مشر ګڼه وې ویل «زه به د پیاده ځواک یوې ټولۍ ته امر وکړم چې ښار ته مارش وکړي او د برنس وینې غچ واخلي. وخت یې دی چې دې وحشي افغانانو ته وروښیو چې بغاوت کول څومره بدې پایلې ورته لري.»
هننګتون د الفنستون د غچ اخیستلو له تګلارې سره موافق و خو د دې کار لپاره یې یوازې د پیاه ځواک یوه ټولۍ کافي نه ګڼله. نو ځکه یې وویل «زه وړاندیز کوم چې یوه ډله سواره او توپچي ځواکونه هم ولیږو چې د مقاومت په صورت کې دښمن ته سخت ګوزارونه ورکړي.»
دواړو مکناټن ته وکتل چې د هغه نظر څه دی. مکناټن وویل «تاسو دواړه تر ما پدې چارو ښه پوهیږئ. خو زه فکر کوم چې د ښار دننه توپچي ځواک او درنو وسلو ته به ډېره اړتیا نوي.»
الفنستون ورته وویل «سمه ده. زه به سملاسي د بیړني تیارسئ امر ورکړم او سبا به ځواک چمتو کړو چې بل سبا سهار وختي ووځي.»
پداسې حال کې چې انګریزانو د کابلیانو د مجازاتو تګلاره جوړوله، د کابل په بلې څنډې کې عبدالله خان او امین الله خان له خپلو ملګرو سره غونډه درلوده. دوې بیا پر دې سلامشورې کولې چې څنګه د انګریزانو د خښم را-روان سیلاب په وړاندې ودریږي.
په همدغه ورځ چې انګریز مشرانو غونډه کوله، د امین الله خان میلمستون هم له خلکو ډک و. شاوخوا ۸۰ تنه نارینه په یوې کوټې کې سره راټول شوي و. د کوربه او مشر په توګه امین الله د خبرو لړی پیل کړه «انګریزان خامخا د غچ اخیستلو لپاره راوځي. دوې به د برنس او د نورو انګریزانو د وینو د هر ځاځکي په بدل کې ډېر خلک ووژني. زموږ او ستاسو جهاد ختم شوی ندی، اصلي

جهاد خو اوس پیل کیږي، موږ باید مجاهدین او غازیان د مقاومت لپاره چمتو کړو.»

عبدالله خان هم ورته خبرې وکړې او وې ویل «جهاد فرض دی، موږ باید له شهادت ونه ډارېږو او په سر او مال د دښمن مقاومت ته خانونه تېنګ کړو.»

د دغو دواړو مشرانو په ګډون په کوټه کې ټولو ناستو مېلمانو د زړه په تل کې د انګرېزانو له برید ویره لړله خو پر خوله یې څه نه راوړل. دوی د انګرېزانو په پوځي خواک ښه خبر و او پوهېدل چې هیڅوک یې مخې ته خان نشي تېنګولی. تر امین الله خان او عبدالله خان وړاندې، امیر دوست محمد خان هم د جهاد اعلان کړی و خو کله چې د انګرېز لښکرې لا د کابل دروازو ته نه وې رارسېدلې د امیر په ګډون ټوله ونښتېدل. اوس چې د انګرېزانو غوسه پارېدلې ده، څوک به څنګه خان ورته تېنګ کړي؟

د غونډې یوه ګډوال وویل «آیا شاه به منځګړیتوب ونکړي چې د انګرېزانو د غچ اخیستلو مخه ونیسي؟ له یوې خوا سوړ ژمی دی او له بلې خوا روژه ده. نو موږ به څنګه د انګرېزانو د ډزو په وړاندې مقاومت وکړای شو؟»

لدې خبرې سره سم په کوټه کې د خو شېبو لپاره چوپتیا خپره شوه. خینو د هوکړې په ډول سرونه ښورول او خینو نورو بیا په هیښو سترګو امین الله خان ته کتل چې څه خواب به ورکړي. خو د امین الله خان پر خای عبدالله خان په خبرو پیل وکړ «د خدای په لاره کې جهاد کول اسانه کار ندی. جهاد سرښندنه او قرباني غواړي. موږ باید ویره ونکړو. خدای زموږ پر خوا دی. هېر باید نکړو چې انګرېزانو نه یوازې زموږ پر هېواد یرغل کړی، بلکې زموږ پر کور او ناموس یې هم سترګې سرې کړې دي. موږ نشو کولای چې په بېغیرتۍ کې ژوند وکړو. تر بېغیرته ژوند مرګ خو خلې شرف لري.»

امین الله خان بیا که له یوې خوا د انګرېزانو له پوځي خواک ښه خبر و له بل لورې یې جګړه د خان لپاره له اقتصادي او سیاسي پلوه زیانمنه ګڼله څکه خو یې وویل «موږ د شاه په خلاف بغاوت ندی کړی او که تاسو سلا ورکوئ چې شاه ته پیغام واستوو چې د انګرېزانو د برید مخه ونیسي، زه یې مخالفه نه یم.»

غوندې پرېکړه وکړه چې شاه له ټول جريان نه خبر کړي او ترې وغواړي چې د انگرېزانو له غچ اخيستلو نه خپل رعيت وژغوري. پنځه کسه وگمارل شول چې سبا بالاحصار ته ورشي او شاه شجاع ته دغه پيغام ورسوي.

غونډه لا نوه خلاصه شوې چې دوه ستړي ستومانه ځوانان کوټې ته راننوتل او په لوړ غږ يې وويل «مور امين الله خان او عبدالله خان اڅکزي ته خاص خبر لرو.» دواړو ځوانانو لنډکی ږيرې لرلې او د ۱۹-۲۰ کالو معلوميدل. له ورايه داسې ځرگنديدل چې له لرې ځايه راغلي او مهم خبر لري.

عبدالله خان او امين الله خان يو بل ته سره وکتل او بيا يې يوه غږ وکړ «زه امين الله خان يم او دی عبدالله خان دی.» يو ځوان امين الله خان او بل يې عبدالله خان ته نږدې ورغلل او په غوږونو کې يې يو څه ورته وويل او بيا شاته شول. په کوټه کې چوپيتا خپره وه، ټولو غوږنتل وپوهيږي چې څه خبره ده. د عبدالله خان او امين الله له مخونو څه نه لوستل کيدل؛ دوې بيا يو بل ته سره وکتل او په کراره يې پخپلو کې يو څه سره وويل.

امين الله خان ستونی صاف کړ او په تازه آواز يې وويل «ورونو! خبر راورسيد چې شهزاده محمد اکبرخان د بخارا نه بيرته راغلی او غواړي چې کابل ته راشي.»

«محمد اکبرخان....محمد اکبرخان....د اميردوست محمد خان زوی» په کوټه کې ټولو ناستو کسانو يو بل ته دغه نومونه تکرارول. گنو اکبرخان له نږدې پيژنده او پاتو نورو بيا د هغه د ميړانې او زړه ورتيا په اړه اوريدلي و. پدوې کې يو ۲۴ کلن محمدشاه خان بابکرخيل و چې څو کاله دمخه يې يو ځلي اکبرخان ليدلی و او په هماغه ځل يې په زړه کې ورته مينه او درناوی پيدا شوی و. پداسې حال کې چې په کوټه کې ناست مشران لا د اکبرخان د راتگ د خبر په شننه بوخت و چې څه ډول غبرگونه ورته وښيي، بابکرخيل ودريد او وې ويل «الحمدلله! دا خو ښه زيری دی. اکبرخان به د مجاهدينو او غازيانو ليکو ته نوې ساه ورکړي او زموږ ټولو قوت به راڅېر کړي. موږ ټول يې بايد هرکلي ته چمتو شو!»

بابکرخیل یوازنې غر و چې د اکبرخان په پلوې اوچت شو. نور ټول چوپه خوله و. اکبرخان د دوست محمد خان زوی و. هغه امیر چې له واکه پرځېدلی و او پخپله انګرېزانو ته تسلیم شوی و. کوټه کې ټولو ناستو مشرانو شاه شجاع ته بیعت کړی و او تراوسه یې هغه خپل ولینعمت باله او د اکبرخان هرکلی کول د دې مانا هم ورکولای شول چې دوې د شاه په مخالف صف کې دربېږي. دا هغه څه و چې هیچا نغوښتل.

بلاخره امین الله خان چوپتیا ماته کړه او په خبرو یې پیل وکړ «اکبرخان زموږ کشر ورور دی. موږ یې له راتګ سره مخالفت نلرو، خو موږ د هغه په جګړې کې خان ښکیل نه بولو. که اکبرخان غواړي چې د خپل پلار تخت بیرته ترلاسه کړي، موږ نه یو ورسره. موږ د شاه رعیت یو.»

امین الله خان مشر او با تجربه سړی و. د ده خبرو پر نورو هم اغیز وکړ او نږدې ټولو داسې وانګېرل چې اکبرخان د شاه شجاع د پرځولو او د پاچاهی د بیرته ترلاسه کولو لپاره راغلی دی. عبدالله خان بیا له امین الله خان نه هم څو ګامه مخته ولاړ او وې وویل «موږ شاه ته بیعت کې وفاداره یو او اکبرخان به پرې نږدو چې د شاه په خلاف بغاوت پیل کړي.» په کوټه کې نورو هم د امین الله خان او عبدالله خان د خبرو په تایید څرګندونې وکړې.

********

د کابل په شمال کې د چاریکار ښارر په لښتیو او ولو کې اوبه یخې نیولې وې. د سهار سپیدې لا نه وې چاودلې چې اکبرخان سترګې پرانستلې، یو څو شیبې یې په تیاره کې د کیږدې چت ته وکتل بیا پر راسته خوا واوښت او له ځایه راپورته شو. «الحمدلله» یې وویل او له کیږدې دباندې راووت او د هغې ولې په لور روان شو چې پرون ماخوستن یې هوري اودس تازه کړی و. کنګل شوې ولې ته یې وکتل خو د دې برخای چې یې پر تندې کومه ګونجه راشي، پر شونډو یې نرۍ موسکا ښکار شوه. شل کلن اکبرخان که څه هم نازولې شهزاده

و، خو د ژوند دومره ترخې یې څکلې او زغملې وې چې په هرې سختی کښې یې اسانی لیدله. چیرې چې به نور څټ ته کیدل، دی به وړدمخه کیده.
شاوخوا یې وکتل او یوه ډبره یې راوخیسته او د اوبو د سر یخ یې مات کړ. تر یخ لاندې اوبه تر یخې لا سړې وې داسې چې که دې لاس ورووړی وای، تا به ویل چې لړم وچیچلې. اودس یې تازه کړ او بیرته د کیږدي په لور رهي شو.
اکبرخان تر خپلو انډیوالانو دمخه له خوبه راپاڅیده او تل به یې پخپله د سهار آذان کاوه. غږ یې اوچت و او د وختي سهار په چوپتیا کښې به یې انګازې کولې. ده به د سهار د لمانځه امامت هم پخپله کاوه، خو څلور وخته نور لمونځ به یې د نورو تر شاه کاوه. هر سهار به یې انډیوالان د ده پر آذان له خوبه راویښ شول او کرار-کرار به د اوداسه او لمانځه لپاره تیار شول.
د بخارا له بند څخه د اکبرخان د راتښتیدلو نه شاوخوا یوه میاشت تېریدله او له هغې ورځې نه چې بیا افغانستان ته راغلی و، د ده د ملاتړو او پلویانو شمیر ورځ تر بلې زیاتیده. اکبرخان د هر چا ملاتړ نه غوښت او نه یې هرڅوک د خپلو سوچه پلویانو لیکو ته پرېښودل. په څه کم یوه میاشت کې شاوخوا درې سوه کسان له اکبرخان سره یوځای شوي وه، خو دوی ټول ځوانان وه او تر ټولو مشر پکښې ښایي دیرش کلن و. د اکبرخان یوه بله ځانګړنه دا وه چې نه یې پر کوم ځای برید وکړ او نه یې هم له کوم چا سره، آن شاه‌پرستو سره، جګړه وکړه. ده به خپلو نږدې ملګرو ته ویل چې زموږ جنګ یوازې په کابل کې دی.
دغه سهار تر لمانځه وروسته، اکبرخان ته د برنس د وژل کیدلو او د امین الله خان او عبدالله خان د غوښتنې خبرونه ورکړل شول. دی راولاړ شو او خپلو انډیوالانو ته یې وویل «حالات کړکیچن شوي او موږ باید ډېر ژر د غازیانو د مرستي او لاس نیونې لپاره ځانونه کابل ته ورسوو. کابل ته له رسیدلو سره هر څه بدلون مومي، موږ به مخامخ په جهاد کې ښکیل شو او ښایي پدې سپیڅلې لاره کې شهیدان شو. که په تاسو کې څوک د شهادت لپاره اوس چمتو ندی، کولای شي چې بیرته خپل کور و کلي ته وګرځي.» ملګرو یې ځواب د الله اکبر په نارو ورکړ.

********

شاه شجاع ته د کابل مشرانو استول شوي پلاوي نتيجه ورنکړه او شاه، عبدالله خان او امين الله خان ته احوال ورکړ چې کار تر کار تېر دی او انګرېزان د غچ اخيستلو لپاره راوځي. په اصل کې شاه پخپله هم غوښتل چې انګرېزان د کابل بلواګرو ته سزا ورکړي. خکه خو يې مکناټن ته ووېل چې «که وارې کوي، ښه درونددې يې وکړي چې بيا څوک سر راپورته نکړي!»

الفنستون په ۲۴ ساعتونو کې درې زره کسيز پوخ برابر کړ چې کابل ښار کې د وژلو او ورانولو پراخ عمليات ترسره کړي. په دوی کې دوه سوه انګرېز او پاتې هندي او بنګالي سرتېري وه چې انګرېزانو د مريانو په توګه کارول. درې زره سواره او دوه زره پياده و او وروسره فيلان هم و چې د ۲۰ توپونو او باروتو په لېږد کې ښيني کار اخيستل کيده. هر پوځي يا په ټوپک يا تمانچې سمبال و او اوږدې چړې او تورې يې هم لرلې.

د يکشنبې سهار وختي پر ۴ بجو، انګرېز لښکر له چونۍ نه په راوتلو پيل وکړ. دوی نيت درلود چې لومړی شوربازار ته ولاړ شي او د برنس جسد ومونډي او بيا ټوله سيمه په توپونو ورانه کړي. پلان دا هم و چې تر شوربازار وروسته به لښکر د مرادخاني او ده افغانان په لورو حرکت وکړي او د عبدالله خان او امين الله خان کورونو ته به اور ورواچوي. الفنستون په خپل بري دومره ډاډه و چې پخپله په چونۍ کې پاتې شو او د غچ اخيستلو د لښکر قومانده يې جګړن پوټينګر ته ورکړه. ۳۶ کلن پاول پوټينګر په تبعيض او تعصب کې سيال نه درلود. هغه به چې کله نشه شو نو ويل به يې چې «هندوان او مسلمانان خدای د دې لپاره احمق پيدا کړي چې د انګرېزانو ښه غلامي وکړای شي.» د جګړن پوټينګر په باور د نافرمانه مسلمانانو او هندوانو وژل، دنيا او آخرت کې ګټې لري - دې دنيا کې د انګرېزانو په وړاندې مخالفت خپل کيږي، هغه دنيا کې خدای د جاهل قاتل ته مکافات ورکوي!

ششدرک سيمې ته نارسيدلی د انګرېزانو لښکر نابېره د مردکيو او غازيانو د تورو تر بريد لاندې راغی. انګرېزانو د هيڅ دول مقاومت تمه لا نلرله څه چې د

چریکي برید، خکه خو لومړی ډېر وارخطا شول. پوټینګر د دریدلو امر وکړ. د لښکر سر کې پیاده هندو سپاهیان ودریدل. خو د شا لخوا راروان فیلان چې د ډزو له غږونو ویریدلي و تم نشول او پر سپاهیانو وختل. د انګرېز درې زره کسیز لښکر چې خورا په غوره راوتلی و. د خپل کرغېړن ماموریت تر پیل دمخه د نااټکل شوي حالت ښکار شو. د لښکر له سر نه د سپاهیانو غلبلې پورته شوې . له شا نه فیلانو ګواښول. له مخې نه غازیانو ورباندې بریدونه کول او له هرې خوا نه مردکي ورباندې اوریدلې.

د پوټینګر په امر د انګرېز د پوخ تر ټولو زوروري وسلې - توپونه - د ډزو لپاره چمتو شول. وسله والو هم سنګر ونیوه او ګوته په ماشه شول. پوټینګر د اور امر وکړ او په یوه شیبه کې د توپونو او ټوپکو د ډزو غږونو سیمه ولړزوله او فضا له دودونو ډکه شوه. د انګرېزانو توپونو د سترګو په رپ کې شاوخوا ختین دیوالونه او کورونه ونړول او سیمه نه آسمان ته دوړې پورته شوې. په یوه وارې ۲۰۰ توپونه وویشتل شول او ورپسې سملاسې د توپونو خولې بیا له باروتو ډکې شوې. پوټینګر بیا د اور امر وکړ او بیا ۲۰۰ د باروتو او وسپنې ستر توپونه د ششدرک پر شاوخوا وتوغیدل. پدغه سهار پوټینګر پنځه وارې د توپونو د اور امر ورکړ. که څه هم ټوله سیمه دود او دوړو پوښلې وه. خو بیا هم څرګنده وه چې انګرېز لښکر له خپلې مخې نه ټول طبیعي او غیرطبیعي خنډونه له منځه یوړل - کلاوې، ونې، انسانان هر څه پر مځکه پریوتل، آن د انګرېزانو تښتیدلي فیلان هم ویشتل شوي وه.

د ډزو له دریدلو سره سم، په سیمه کې چوپتیا خپره شوه. دلته څو شیبې دمخه د غازیانو د الله اکبر چغو غوږونه کڼول، خو اوس هرڅه خاموشه وه. د باروتو او وینو بوې ټوله سیمه نیولې وه. د انسانانو او حیوانانو مړي هرې خوا ته پراته وه.

پوټینګر چې شاوخوا ته وکتل نو پر شونډو یې موسکا ښکاره شوه. په کراره یې یو څه وویل، ښکنځل یې وکړل، او بیا یې د حرکت امر وکړ. د انګرېز مجازاتو لښکر د شوربازار په لور وخوځید. له څه باندې یوه ساعت مزل

وروسته، لښکر د ششدرک او مرادخاني سیمې تر منځ هغه خای ته ورسید چې وروسته د عیدګاه مسجد پرې جوړ شو. دلته پر لښکر بیا خال-خال ډزې پیل شوې او څو تنو بریدکوونکو چې لوخړې توري یې په لاس کې وې پر سپاهیانو د برید هڅه وکړه، خو د سپاهیانو په ډزو وویشتل شول. بریدونو کرار-کرار زور واخیست او له څینو خواوو پر انګرېز لښکر د اور د توپونو ګوزارونه پیل شول. غازیانو هغه مهال درنه وسله (توپخانه) نلرله خو څینو له سون-توکو نه مرګونې ګولې جوړولې چې له بلولو وروسته به یې پر دښمن ګوزارولې. دغه د اور توپونه چې پر هرچا به ولګیدې نو سملاسي به یې لولپه کړل.

پوټینګر بیا د دریدلو امر وکړ خو لایې توپچي ته د اور امر نه و کړی چې لښکر یې د څلورو خواوو نه تر سختو بریدونو لاندې راغی. یوواري د انګرېز لښکر نه د چغو او بُغارو غږونه اوچت شول، چا مخې ته چا شاته څغستل. سپاهیان غافلګیره شوي وه، غازیان د دوې لیکو ته ورننوتي وه. انګرېز پوځیان چې تل د بنګالیانو او هندوانو په منځ کې حرکت کاوه، په توپکو او تمانچو هر لور ته ډزې کولې او کله به یې په تېروتنې د خپل لښکر پیاده بنګالي او هندو سپاهیان هم وویشتل.

پوټینګر د توپونو د اور امر وکړ، خو کار تر کار تېرو څکه د غازیانو سلګونه تنه - پیاده او سواره - د انګرېز لښکر منځ ته ورننوتي وه.

د توپچیانو قومندان د جګړې په شورماشور کې له پوټینګر نه وپوښتل «کوم لور ته ډزې وکړو؟»

پوټینګر ورته چغه وکړه «له هرې خوا نه چې تعرض کیږي!»

«تعرض له هرې خوا نه کیږي.»

«هره خوا وولوه!»

د انګرېز د توپونو خولې څلورو خواوو ته ونیول شوې او دوو-دوو سرتېرو هر توپ ته مرمۍ راوړسولې. توپونه ډک شول او سملاسي فلیتو ته اور واچول شو او په څو شیبو کې د توپونو غږونه بیا اوچت شول. لدې سره سم د جګړې ډګر په دود کې وپوښل شو. سرتېرو د دې فرصت نه درلود چې توپونه د لښکر

له لیکو یو څه لږې وباسې او دزې وربانديې وکړي، څکه خو د توپچیانو هرې ډلې له خپل ځای نه ګولۍ وتوغولې. دود او چاودنو په سپاهیانو کې سردرګمي وپاروله او ډېر پکښې په ویره کې شول چې ولې هرې خوا ته ډزې کېږي. سپاهیان له هغه وروسته ډېر وارخطا شول چې د «الله اکبر» غږونه یې له نږدې واورېدل. ځینې پدې ګومان شول چې افغانانو توپونه په خپل واک کې راوستي او ډزې وربانديې کوي.

خو په اصل کې د انګرېزانو توپونو په څو لنډو شېبو کې د ششدرک نه نیولې تر مرادخاني پورې ټوله سیمه په اور وسوځوله. سرایونه، کلاوې، جوماتونه. او باغونه ټول په توپونو وویشتل شول. پر هیچا او هیڅ شي بانديې رحم ونشو. دانګرېز توپخانې پر ځینو خلکو کورونه پداسې حال کې ونړول چې ماشومان یې په خوب کې تر خاورو لاندې ښخ شول.

که د انګرېز بې باکه توپونو د شاوخوا کورونو بې آزاره خلک ووژل، غازیانو د لښکر دننه د سپاهیانو سلاخي وکړه. د دغو غازیانو مشري عبدالله خان اڅکزي کوله.

اڅکزي او لوګري که څه هم چې له وړاندې پوهیدل چې انګرېزان د غچ اخیستلو لپاره لښکر تیاروي، خو دوې لا د شاه شجاع نه تمه کوله چې انګرېزان به له وینو تویولو راوګرځوي او د خپل ولس شفاعت به وکړي. شاه شجاع نه یوازې چې داسې ونکړل بلکې مکناټن ته یې لیک واستوه او ترې وغوښتل چې په ټول ځواک سره دې د برنس له وژونکو غچ واخلي.

شاه پخپل لیک کې مکناټن ته لیکلي وه «داړه مارانو ته داسې غابښ ماتونکی ځواب ورکړی چې نورو ته هم عبرت شي، که مو داسه ونکړه نو هغوي به لانور ګستاخه شي. پر دغو وحشیانو او د هغوي پر هیڅ شي رحم مکوئ!»

شاه د غازیانو قاصد هم ډېر وترټه او ورته یې وویل چې عبدالله خان او امین خان ته ووایي چې «اوس چې مو لاسونه د برنس او د هغه د ورور په وینو سره دي، ځانونه د انګرېز غچ ته تیینګ کړئ!»

د دغه ډول خوب سربیره هم عبدالله خان او امین الله خان او امین الله خان له شاه شجاع نه بیعت وانخیست. دوی داسې انګیرل چې شاه د انګرېزانو تر فشار لاندې دی او سم خوب نشي ورکولای. د غوسې پر خای، دغو دواړو مشرانو له شاه سره آن خواخوږي بیان کړه او خپلو پلویانو ته وویل «شاه د انګرېز په لومو کې ایسار شوی او نشي کولای چې آن رعیت ته خپل پیغام ورسوي.»

د انګرېز د مجازاتو د لښکر د راوتلو په شپه، د غازیانو د مشرانو جرګه د امین الله خان په کور کې جوړه شوه. امین الله جرګه والو ته وویل «انګرېزان سبا ته راوځي چې زموږ کورونه وران کړي. دوی به پر هیڅا رحم ونکړي، آن سیاسرې او ماشومان به خوندي نوي. شاه پخپله د انګرېزانو په لاس کې اسیر دی او نشي کولای چې زموږ او ستاسو سره مرسته وکړي. که خلک پر کور هم کښیني خوندي به نوي. موږ باید مقاومت وکړو.»

عبدالله خان بیا د مقاومت پر خای پر دښمن د تعرض ټینګار وکړ او وې ویل «خبره د اسلام او د ننګ او ناموس ده. دمخه لدې چې انګرېزان پر موږ تعرض وکړي، موږ باید پر دوی برید پر وکړو.»

یو چا وپوښتل «موږ څنګه پر چوڼۍ تعرض وکړو، هلته خو زرګونه مسلح سپاهیان شته؟»

عبدالله خان په خوب کې ورته وویل «پر چوڼۍ نه د انګرېز پر لښکر باید برید وکړو. دمخه لدې چې لښکر ښار ته راننوځي، مجاهدین او غازیان یې باید تارومار کړي.»

«خو د لښکر سره هم توپونه او وسلې شته!»

دا خلي امین الله خان ورته وویل «که تعرض هم ورباندې ونکړو په هماغه توپونو او مردکیو به وویشتل شو. پریکړه ستاسو ده چې آیا د جهاد پر ډګر شهید کیدل غواړئ که په کورونو کې له زنانه و سره مرګ غواړئ!»

دې خبرې د جرګې وضعیت بدل کړ. په ټولو کې یې دا احساس وپاروه چې د انګرېزانو د غچ اخیستلو له لښکر سره به جنګیږي.

د انګرېز لښکر او افغان غازیانو تر منځ جګړه توده روانه وه چې د توپ یوه مرمۍ د لښکر په منځ کې وچاودیده. چاودنې شاوخواو کې بوخت ګڼ سرتېري ووژل او ټپیان یې کړل. په سختو ټپي شوو کې یو پخپله عبدالله خان اڅکزی و چې توره په لاس یې جګړه کوله.

چاودنې د عبدالله خان آس ځای پر ځای وواژه او د ده یوه پښه یې هم ځینې یووړه. د عبدالله خان له غورځېدلو سره د جګړې په ډګر کې د غازیانو تر منځ وارخطایي رامنځته شوه. ځینو په شاتګ پیل وکړ، نور حیرانه شول چې څه وکړي - وسله پر ځمکه کښېږدي که جنګ ته ادامه ورکړي؟

عبدالله خان یو ګړی پړمخې پر ځمکه بیسده پروت و چې دوو نفرو تر اوږو ونیوه او پر یوه سپین آس ناست د یوه غازي مخې ته یې کښېنوه. دې غازي په یوه لاس عبدالله خان پر خپلې سینې ټینګ نیولی و او په بل لاسه یې توره راسته او چپه چلوله. تورې جامې او تورله لنګوټه یې وه. په ونه جګ او پراخې اوږې یې لرلې. د غټو تورو سترګو شاوخوا کې یې د رانجو نرۍ لیکې وې، تکې تورې خو نرۍ بږیرې یې غنم رنګي مخ ته خاصه ځلا ورکړې وه. دا ځوان محمد اکبرخان و.

اکبرخان همدغه سهار وختي کابل ته رارسیدلی و چې د انګرېزانو د غځ اخیستلو د لښکر د راوتلو یې واورېدل نو بیله دې چې دمه واخلي، د جګړې د ډګر خوا ته یې مخه کړه. دی او انډیوالان یې څو شیبې له هغه وروسته چې عبدالله خان په چاودنې کې ټپي شو د جګړې ځای ته راورسېدل. د اکبرخان له راتګ سره لکه په ټولو غازیانو کې چې نوې ساه ننوتله، ټولو کې د الله اکبر چغې بیا پورته شوې.

اکبرخان، عبدالله خان د جګړې له لیکو لرې خپلو دوو کسانو ته وسپاره چې یو امنځای ته یې ورسوي او ټپونه یې ورغوي. دی بېرته د جګړې ډګر ته راوګرځېد. جنګ بیا په ټول خربُ-ترپ روان شو.

د انګرېز لښکر د مُډرن جنګ لپاره جوړ شوی و. دوی له توپونو او ټوپکونو کار اخیست - دښمن یې له لرې له منځه وړ - او د لاس-او-ګرېوان یا تن-په-تن

لاسونو جنگ جګړې لپاره نه و چمتو. افغانان بیا په تورو، سلاخیو او آن په تشو لاسونو جنګ کاوه. انګرېزانو غوښتل چې د خپل شرایطو سره سم وجنګیږي، د جنګ لومړی ګرښه وباسي او له هماغه ځای نه د دښمن ګرښه وخپي. خو نن جنګ د انګرېزانو له قاعدې وتلې و. لومړی کرښه اصلاً نه وه.

انګرېزان لاهم د خپلې زورورې توپخانې په اغیزمنتوب نه وه پوه او د توپونو غړونه به هرو څو شیبو کې اوچت شول. د توپچیانو لپاره دا مهمه نه وه چې توپونه یې چیرته لګیږي او څوک وژني، دوې ته امر شوی و هرڅومره چې وژل او ورانی کولی شي، باید وې کړي. اوس چې جګړې زور اخیستې و او له هرې خوا نه د انګرېز سرتېرو د ویرې او وحشت چغې پورته شوې وې، توپچیانو په ډېره بیړه او له ویرې پډې هدف ګولې ویشتلې چې دغه کار به دښمن پر شا کړي. خو افغان جنګیالیو ته داسې فرصت بیا کله په لاس ورتلې چې د انګرېز د لښکر دننه غزا وکړي. افغانان چې تل د انګرېزانو توپونو او توپکونه پرشا کړي وه، اوس یې د پرمختګ او غچ اخیستلو واری موندلی و - د غچ اخیستلو لښکر پخپله د غچ په لومه کې لویدلی و.

پوټینګر هم د جګړې د ډګر له منځ نه د آس له سره نه د ښې په ټوپک ډزې کولې. اول به یې خپل هدف ښه په نښه کړ، بیا به یې ماشه کش کړه او له هر ډز سره به یې یو غازي د جګړې له میدان نه د تل لپاره وایست. د پوټینګر شاوخوا څو سپاهیان وه چې د ده د ساتنې سربیره یې هرو څو شیبو کې ده ته ډک ټوپک ورکاوه چې ډزې وربانډې وکړي. یو څلي څلور غازیان چې توري یې جګې نیولې وې او د «الله اکبر» نارې یې وهلې د پوټینګر خوا ته ورمنډې کړې. د پوټینګر د دوو سپاهیانو پام دوی ته شو او سملاسي یې پر راروانو غازیانو ډزې پیل کړې، یو غازي په سترګه کې ولګید او ځای پر ځای پریوت خو دریو نورو یې د پوټینګر ډلې ته ځان ورساوه او پر آسانو سپرو سرتېرو باندې یې د تورو ګوزارونه پیل کړل. د پوټینګر ډله سره ومړوړل شوه خو سپاهیانو حالات ډېر ژر قابو کړل او پر بریدګرو یې په تمانچو ډزې وکړې. یو غازي د پوټینګر شاته ولاړ پر یوه سپاهي چغه وکړه او ورسره سم یې د تورې

واړې ورباندې وکړ. له سپاهي نه لوړه چغه پورته شوه او د آس قیضه یې له لاسونو ووته او داسې مخکې ته راولوید چې له ورانه لاندې نه راسته پښته یې د آس بلې خواته ولویده. آس مناړه کړه او تښې شوی سپاهي یې د بریدګر غازي مخې ته پرېښود.

پدې شورماشور کې د پوټینګر سترګې پر یوه غازي سرېښې شوې وې. دې غازي په خورا مهارت تورله چلوله او له هر واري سره به یې یو تن پر مځکه ولوید. پوټینګر دوه ځلي پر دې غازي ماشه کش کړې وه خو دواړه ځلي یې ګولې خطا شوې وې. دوهمه مرمی له دې کبله خطا شوه چې د پوټینګر د ډلې آسان د څلورو بریدګرو غازیانو په برید کې بې تابه شول او وخوځېدل.

یوه افسر پر پوټینګر غږ وکړ «ښاغلیه، پر موږ محاصره تینګه شوې. څه وکړو؟»

پوټینګر بیله دې چې د توپک له نښې سترګې پورته کړي ورته وویل «یوه شیبه تم شه. دغه حرموني باید ووژنم.»

انګرېز قومندان پر خپل هدف دریم ټک وکړ. شاوخوا شل متره لرې یو غازي له سپین آس نه پرمځکه ولوید.

پوټینګر په خوشحالی چغه کړه «هو! ختم مې کړ!»

خو د پوټینګر خوښي ډېره لنډه وه.

پوټینګر چې د خپل د آس له سر نه د جګړې حالت ولید او پوه شو چې توپخانه یې له کاره لویدلې ده نو د شاتګ امر یې وکړ.

پر انګرېز پوځیانو باندې د شاتګ د شپیلی غږ لکه د زیري ناره وه. سپاهیانو، توپچیانو، او نورو پوځیانو په یوه سلا وسلې شاته کړې او په چټکی د لښکر د مرکزي برخې په لور په شا شول. د انګرېزانو پوځیانو شاتګ په تکتیکي ډول کاوه. دا هغه څه وه چې انګرېزانو خپلو ټولو پوځیانو ته په پوځي زده کړو کې ورزده کول چې څنګه د جګړې له ډګر نه په سمه توګه په شا شي. دوې له شاتګ سره سم یوه نه ماتېدونکې دفاعي کرښه جوړوله چې د لښکر د ماتیدلو او د دښمن د پرمختګ مخه ډب کړي.

اکبر چغو ته بې زور ورکړ.

غازیانو چې د انګرېزانو شاتګ ولید نو د الله اکبر چغو ته بې زور ورکړ. دښمن مات شوی و او غازیانو غوښتل چې خپله بریا په چغو، نارو او د احساساتو په ښودولو وښیي. که څه هم انګرېزانو د شاتګ امر کړی و، خو افغانانو جګړه ودروله او ټولو شاوخوا د انګرېزانو تکتیکي شاتګ ته په هیښنو سترګو کتل.

اکبرخان ته شاتګ د ماتي مانا نه ورکوله. ده شاتګ، فرصت او د بلې جګړې لپاره چمتوالی ګڼه. له همدې کبله وه چې بیله خنده یې پر خپلو نږدې کسانو چغه وکړه چې پر دښمن ګوزارونه ونه دروي.

«دښمن از مکارګی عقب نشیني می کند. حملات تانرا توقف ندهید. دشمن در حال شکست است!»

د اکبرخان له قوماندې سره غازیانو له څلورو خواوو د دښمن پر لور ودانګل. د لومړۍ کرښې غازیان پوهېدل چې د دوی ټېرونه به د انګرېزانو په مردکیو سوري-سوري شي. خو عجیبه دا وه چې دوی مرګ ته په بېړه ورتلل. دین و که وطن و که د مشر امر و، دوی په خپلو پښو د مرګ لور ته وردرومل. د دوی مشر، اکبرخان، هم د دوی تر څنګ و.

د انګرېزانو د لومړۍ کرښې نښه وهونکي څنګون-کېښه د غازیانو د برید لپاره ګوته په ماشه ناست وه. څه باندې درې سوه توپکان په یوه وخت ودرزېدل او شاوخوا دوه-درې سوه متره هاخوا لسګونه ځوان غازیان پر مځکه ولوېدل. نښه وهونکو بیا توپکانو ته ګولۍ واچولې او بیا یې درې سوه نورې مرمۍ وویشتلې، او بیا لسګونه غازیان لکه پاڼې چې په منۍ کې له ونو راتوییږي، پر مځکه ولوېدل. پر دریم ځلي چې نښه وهونکو د بیا ډزو لپاره توپکان برابر کړل نو د ښې نیولو وخت یې نه درلود، توپکان یې مخامخ ونیول او ماشې یې کش کړې.

لاس په لاس جګړه بیا پیل شوه. د انګرېزانو په لیکو کې تیل ماتېل زورواخیست. ډېر ژر یکښې عسکري نظم مات شو او د قوماندې سلسله یې وشلېده. ځینو هرې خوا ته منډې پیل کړې، ځینو لاسونه د تسلیمي په بڼه پورته

کړل، او ځینو نورو بیا لاهم جنګ کاوه. د ډزو، د تورو د چکاچک، د ټپیانو چغو او د غازیانو د الله اکبر نارو په ګډه، کنګونکی شورماشور جوړ کړی و.

پوټینګر هم ډزې کولې او هم یې په لوړ غږ امرونه ورکول. «له مرکز نه مه لرې کیږئ! مه شاته کیږئ! منډې مه وهئ! ودریږئ!» خو څرګنده وه چې امرونه یې یوازې تر مستقیمې قومندې لاندې په شاوخوا ځلوېښتو پوځیانو چلیده او نورو یې پیروي نکوله. د پوټینګر د څو زرو سرتېرو لښکر ایله په څو ساعتونو کې تارومار شوی ښکاریده، خو ده لاهم باور نه کاوه چې داسې کوم څه دي شوي وي. هغه ته خپل ماموریت، د برنس د وژلو غچ اخیستل، لا پیل شوی نه و چې پخپله د برنس په څېر له سرنوشت سره لاس او ګریوان شوی و.

پداسې حال کې چې پر پوټینګر د راټولو شویو پوځیانو شمیر راټیټیده، د هغه سترګې پر هماغه پر سپین آس سپور غازي ولګیدې چې څو شیبې وړاندې یې په ډز له آس نه غورځولی و. دې غازي چې پر تورو جامو یې زرې اغوستې وه، اوس هم په قوت توره چلوله او له هر ګوزار سره به یې یو انګریز پوځي پر مځکې ولګید. پوټینګر هیښ پاتې شوی و چې څرنګه یو ویشتل شوی کس بیرته روغ-رمټ د جګړې ډګر ته راګرځي؟ آیا افغانانو کوم سحر او جادو کړی چې نه مري؟ آیا دوی له ارواوو سره جنګیږي؟ څنګه امکان لري چې دښمن چې وسله هم نلري، د انګریزانو د توپونو او ټوپکانو سره جنګیږي او جګړه څه چې آن وربانديې برلاسي کیږي؟

د پوټینګر د ذهني پوښتنو سلسله د ده د مرستیال، چارلي، چغې ماته کړه. چارلي د غازیانو په غښې ویشتل شوې و او له آس نه پر مځکه لویدلی و. پوټینګر هم په بیړه له آس نه راکښته شو چې د چارلي مرسته وکړي، خو لا هغه ته نه و رسیدلی چې پر مخ باندې یې یو شی په زوره ولګید او پر شا وغورځید. پر سترګو یې لومړی د بریښنا په څېر یوه لمبه تېره شوه او بیا تکه تیاره شوه.

«مه یې وژنه! هغه اسیر دی.» اکبرخان پر هغه غازي ناره وکړه چې غوښتل یې په یوه ساتول د پوټینګر سر ترېنه پرې کړي.

اکبرخان دوو کسانو د جگړې لا روانه وه او خال-خال ډزې کیدلې چې د جگړې له میدان نه ووتل. پوټینګر پوټینګر بې حسه بدن پر یوه آس واچوه او د جګړې جګیوړی انګریز پوځي و چې د اکبرخان له انده تر وژلو یې، اسیر ساتل ډیر ګټور و. لدې سربیره، اکبرخان هیڅکله د اسیرانو او هغو جنګیالیو د وژلو سلا نه ورکول چې په جنګي حالت کې نه و. عجیبه خو دا وه چې اکبرخان د هغو جنګیالو مشري کوله چې انګریزانو وحشي او بې رحمه بلل، خو اکبرخان تل په جګړې کې پر اسیرانو زړه سوی او د هغوي انساني عزت ساتل، نه ماتیدونکي اصول ګڼل.

د انګریزانو د غچ اخیستلو لښکر تار-و-مار شوی و. هغه پوځیان چې د نورو د وژلو او زورولو لپاره راوتلي وه، پخپله یا وژل شوي وه یا ټپي شوي پر مځکه پراته وه. ۴۷ سپاره انګریزان چې تر نورو وړاندې یې په بیړه د چونۍ په لور تښتیدلي وه، د دغه لښکر پاتي شوني وه چې جنرال الفنستون او استازي مکناټن یې له حال نه باخبره کړل.

دې لور ته، د جګړې له ختمیدلو سره سم اکبرخان پداسې حال کې د میدان په منځ کې ودرید چې له هرې خوا نه د «الله اکبر» نارې وهل کیدې.

«خدای تاسو نن د نصرت په نعمت ونازولې پدې خاطر چې تاسو د خپل عزت او وطن د ساتلو لپاره میړانه وکړه. تاسي د دښمن له وسلو او قوت ونه ډاریدئ. هغوي چې شهیدان شوي، خدای به یې تر مور او تاسو ډیر ونازوي. هغوي چې ټپیان شوي، زموږ مرستو او خواخوږیو ته اړتیا لري. د یو او بل پالل او مرسته کول مه هیروئ، ځکه په یوازې سر تاسو هیڅ نشئ کولئ.»

جنګ په یوه ورځ کې پیل او ختم شوی و، خو پکښې د وژل شوو انسانانو شمیر په زرګونو و. دواړو غاړو د یو بل ډیر وژلي و، خو د افغانانو د تلفاتو شمیر، د انګریزانو د پرمخ تللو وسلو له کبله، تر انګریزانو خورا ډیر و. چا د مړو شمیر نه اخیست، نه هم چا د وژل شوو غازیانو نومونه اخیستل.

افغانانو څه باندې ۴۰۰ تنه اسیر نیولي وه چې ۱۸ پکښې انګریزان وه او نور ټول هندوان وه.



## وایسرای

ویلیام مکناټن په فکر کې هر څه داسې سمبال کړي وه: د پوټینګر لښکر به لومړی کابل کې د برنس د وژلو غچ واخلي او یاغیانو ته به داسې د عبرت درس ورکړي چې بیا هیڅکله سر راپورته نکړي، بیا به تر ننګرهاره پر لارې ټول یاغیان کلک وځپي او پدې توګه به د انګریزانو خلاف بلوا ته د تل لپاره د پای ټکې کښېږدي. پدې توګه به، تر مارچ میاشتې پورې هم د کابل ښار او هم تر جلال آباد پورې لاره امن وي چې دی د هند په لور وخوځیږي او د بمبي د نوي حاکم په توګه به خپله نوې دنده پیل کړي. په هر ډول چې ممکنه وای، مکناټن هڅه کوله چې په ډهلي کې لارډ اکلنډ ته د افغانستان د حالاتو داسې راپوورونه ورسیږي چې ګواکې هر څه په سمه روان دي.

د همدغې یکشنبې په ورځ چې انګریزانو د کابلښار ته د غچ اخیستلو لښکر لیږلی و، مکناټن او الفنستون ته ساعت په ساعت پوټینګر د پرمختګ خبرونه رارسیدل. هر خبرچي به ویل چې حالات تر کنټرول لاندې دي او لښکر

پرمختګ کړی دی. پوټینګر عمداً مثبت خبرونه لیږل چې خپلو مشرانو ته خپله ورتیا وښيي.

خو ډېر ژر د خبرونو لړی ودریدله او د دوو-دريو ساعتونو لپاره د پوټینګر لخوا هیڅ راپور او خبرا رانغی. که څه هم هوا سړه وه، خو مکناټن او الفنستون د چوني د کرکټ د میدان په یوې خنډې کې ناست وه او د پوځیانو د کرکټ لوبه یې کتله.

مکناټن د خپل بالاپوښ له جیب نه په راسته لاس یو ساعت چې د زرو ځنځیر ورپورې ځړيدي راوایست او بیا یې په چپه لاس خپلې عینکې پر سترګو سمې کړې «جنراله، درې ساعته شول. د لښکر خبر نلرم. څه فکر کوئ، ولې د پوټینګر خبرونه ودریدل؟»

الفنستون سیګار له خولې راوایست او پداسې حال کې چې دود یې پف کاوه وې ویل «فکر کوم چې د پوټینګر ساعت خورا تېر دی او هیر شوي یې دي چې د حالاتو خبر موږ ته راولیږي.»

مکناټن بیا ورته وویل «داسې هم کېدای شي چې په سخت جنګ کې ښکیل شوی وي او...»

الفنستون بې خبره ور پرې کړه «نه، ډاډه نه یم چې دا لغړیان به د پوټینګر د لښکر مخې ته د دریدلو زړه کړی وي.» او بیا یې په موسکی بڼه وویل «زه خپل اټکل سم بولم.»

مکناټن سر د هوکړې په بڼه وخوځاوه خو پوره نه و ډاډه چې پوټینګر به دومره د غچ اخیستلو په غوبل کې ډوب شوی وي چې خپلو مشرانو ته به د خبرونو رالیږل هیر کړي.

د دوې فکر د کرکټ په لوبه کې مصروفه شو چې دوه پوځیان ساه ایستلي د دوې مخې ته ودریدل او د پوټینګر د لښکر ناوړه خبر یې ورکړ. «موږ د شاتګ په حال کې و چې یاغیان له څلورو خواوو راباندې لکه ژلۍ راووریدل. زموږ تلفات ډېر شول او موږ ته امر وشو چې په هر ډول چې کیږي تاسو ته احوال راوړو چې د لښکر مرستې ته اضافي ځواکونه راولیږئ.»

مکناټن او الفنستون لا د دغو خبرچیانو خبرې سمې نه وې هضم کړې چې خو ته نور په خاورو او وینو لړلي پوځیان راغلل او دوی ته یې د لښکر د بشپړې ماتې خبر ورکړ. «لښکر یې قتل عام کړ. پوټینګر هم ووژل شو. یوازې مور شاوخوا څلویښت کسان وتوانیدلو چې ځان تر دې ځایه راورسوو. د باغیانو شمیر په زرګونو و. لکه میږیان له هرې سوړې راوتل. ځینو یې توپکان هم لرل.»

الفنستون او مکناټن هېښ پاتې وه او د لومړیو څو شیبو لپاره یې اصلا پر خپلو غوږونو باور نه درلود. الفنستون په آرامه وویل «دا څه چټیات دي؟ اصلاً څنګه امکان لري چې زموږ ټول لښکر دي د یو موټي لغړیانو لخوا په ایله یوه ورځ کې له منځه یوړل شي؟»

خو حقیقت همدغسې تریخ و. د انګرېزانو په پوځي چوڼۍ کې د لومړي ځل لپاره د ماتې ویره خپره شوه. هغه څه چې هیچا یې فکر هم نکاوه او شونې یې نه باله، ترسره شوي وه. بلواګرو د انګرېزانو لښکر مات کړی و. دغه ډول کار د هند په نیمه قاره کې څه چې د انګرېزانو تر واک لاندې په هیڅ یوه هیواد کې نه و شوی.

په یوه ساعت کې د مکناټن په دفتر کې بیړنۍ غونډه راوبلل شوه. الفنستون لا د غونډې دمخه په چوڼۍ کې دعمومي تیار سئ امر کړی و او د چوڼۍ د شاوخوا امنیتي برجونو او پوستو د ساتنې خواک یې درې چنده کړی و.

جیوفري هننګتون غونډې ته وروستی استخباراتي حال وړاندې کړ: زموږ لښکر غافلګیره شو. هغو د مقاومت اټکل نه کاوه خو په خورا پراخو او سختو بریدونو کې ښکیل شول. د یاغیانو قوت له هغه وروسته څو چنده ډېر شو چې د محمداکبرخان ډله ورسره یوځای شوه او د عبدالله خان اڅکزي تر تېې کیدلو وروسته، پخپله اکبرخان د جګړې قومانده واخیسته.

«اکبرخان؟!» مکناټن بې له ارادې دا نوم په لوړ غږ واخیست داسې چې په غونډه کې ټولو ناستو کسانو ورته په وارخطایي وکتل.

«اکبرخان د دوست محمد خان زوی؟ دی له کومه راپیدا شو؟»

جیوفري ستونی صاف کړ او بیا یې وویل «ښاغلیه. تاسو ته مو دوه اونۍ مخکې هم راپور درکړ چې اکبرخان د بخارا د امیر له بند نه تښتیدلی او په شمالي ولایتونو کې یې بغاوت پیل کړی. هغه همدا نن کابل ته رانوت او سملاسي یې په جګړه کې برخه واخیسته.»

مکناټن بیا وپوښتل «پلار یې زموږ په واک کې دی. آیا کولی شو چې د دوست محمد خان په واسطه هغه له یاغیانو څخه بیل کړو؟»

پدغه وخت کې الفنستون وویل «دې کار ته به اړتیا نه وي. موږ به دغه کوچنی شهزادګی په زوره له خپلې لارې ایسته کړو.»

په غونډه کې ناستو نورو هم وویل چې د اکبرخان ماتول به نورو ملکانو او مشرانو ته چې د بغاوت کولو خیال په سر کې لري، د عبرت درس شي.

انګرېزانو دا څلي د لښکر ایستلو پر ځای پریکړه وکړه چې د یاغیانو مشران، په ځانګړي توګه اکبرخان ترور کړي. د دغه کار لپاره جیوفري دنده واخیسته چې د جاسوسانو یوه ځواکمنه ډله وګماري چې له یوې خوا د امین الله خان، عبدالله خان او محمداکبرخان تر منځ د بدګمانی او بې باوری فضا رامنځته کړي، او که موقع مساعده شوه نو هر یو باید ووژل شي.

پداسې حال کې چې انګرېزانو د اکبرخان د وژلو توطیې جوړولې، د کابل په بلې خوا کې امین الله خان، اکبرخان او نور مشران د عبدالله خان په کور کې سره راټول شوي وه. عبدالله خان په ورانه او نس کې ژور ټپونه لرل او ډېره وینه یې ضایع کړې وه. ښه یې تکه ژیړه اوښتې وه او سترګې یې پوره نشو پرانیستلای. یاران او همسنګران یې پر کټ راټول شوي وه. یو قاري یې سرته ناست و او په لوړ غږ یې د یاسین سوره لوستله.

عبدالله خان په کراره خپل لاس پورته کړ او د شهادت ګوته یې د اکبرخان لور ته ونیوله. قاري او په کوټه کې ټول نور خلک چپ شول. عبدالله خان ورو-ورو په خبرو پیل وکړ. «محمداکبرخان پسې ودرېږئ، تر ده بل ښه او زړه ور مشر نشئ موندلی. دی به تر تاسو کشر وي، خو په تدبیر او مېړانې کې تر ټولو مشر دی.»

او بیا یې پر شاوخوا ټولو کسانو سترګې وغړولې او وې ویل «ملګرو، غازیانو، حق راپل کړئ!» یو اوږد نفس یې وایست، او د تل لپاره خاموشه شو.

عبدالله خان په خانی کې په ویاړ او ښه ژوند کړی و. پر مرګ یې تر خپلوانو ډېر، هغه بې وزلي او خواران خوابښيني وه چې ده به ورسره مرسته کوله. عبدالله خان په پرانیستي لاس او سخا مشهوره و او د غازي مرګ ور په برخه شو.

د عبدالله خان مړینه د غازیانو لپاره تر ټولو ستره ضایعه وه. هغه په انډیوالانو کې له ګڼو اړخونو ډېر نفوذ درلود او د جګړې پدې پیل کې یې وژل کیدل، پر ډېرو منفي اغیزه لرله. عبدالله خان ډېر مالداره هم و او د غزا ډېر لګښتونه یې پخپله برابرول. عبدالله خان لدې ارمان سره هم ومړ چې زلیخا یوار بیا ووینې. هماغې پیغلې وینځې چې عبدالله خان یې د برنس پر کور برید ته اړ کړ او له انګرېزانو سره یې په جنګ اخته کړ.

اکبرخان د کوټې چوپتیا په خپل لوړ غږ ماته کړه «قالو اناالله و انا اله راجعون. خدایتعالی دې وبخښي. جنتونه دې ځای شي. مرګ د ټولو عاقبت دی. خو د عبدالله خان په خیر شهادت، د اسلام او وطن لپاره سر ورکول، یوازې د نیکمرغو په برخه کیږي. د عبدالله خان نوم به د افغانستان په تاریخ کې د ویاړلو تر څنګ وي. خدای دې موږ ته هم ورته ویاړ راپه برخه کړي. آمین!»

امین الله خان که څه هم تر اکبرخان څلوېښت کاله مشر و. خو په غازیانو کې د هغه په پراخ محبوبیت پوه شوی و. اکبرخان یو ډول خاصه فردي کریزما یا جذبه لرله چې ټول یې درناوي ته هڅول.

د اکبرخان تر وینا وروسته، امین الله خان خپله لنګوټه د اکبرخان پر سرکښېښوده او ورته وې ویل «ته مو مشر یې. مبارک دې شه!»

اکبرخان لومړی امین الله په غیږ کې ونیوه، بیا یې لنګوټه بېرته وربرسر کړله او ورته یې وویل «خان اکا، اصلي مشر مو ته یې. خدای مو دې بې له تا نکوي. زه دې په خدمت کولو ویاړم.»

په همدغه ورځ مازدیګر، امین الله خان د عبدالله خان د جنازې د لمانځه امامت وکړ. د عبدالله خان د ښخولو مراسم لا پوره نه وه خلاص شوي چې یو

سړی اکبرخان ته ورنږدې شو او په غوږ کې یې یو څه ورته وویل. اکبرخان بیله دې چې بیرته د هغه سړي په غوږ کې خبرې وکړي. ورته یې وویل «حجرې ته راشه، د ماښام تر لمانځه وروسته به خبرې وکړو.»

******

د برنس پر کور تر برید دمخه، انتوني خپل اکا تموتي ته لیکلي وه چې کریستینا کابل ته راولېږي. انتوني له ډېرې مودې نه پر کریستینا زړه بایللی و. کریستینا د جنرال مارتین لودویک لور وه چې د افغانستان تر یرغل وروسته، په کندهار کې د انګرېزانو د پوځي اډې قومندان و. د انتوني اکا، تموتي، هم په کندهار کې و او د خپل وراره له مینې خبر و. انتوني د ویلیام مکناټن سکرتر و. مکناټن خپل ټول اداري کارونه په خوان انتوني کول. انتوني زده کړې د لندن د اشرافو په یوه خصوصي ښوونځي کې کړې وې او بیا یې په آکسفورډ پوهنتون کې سیاسي زده کړې کړې وې. په لیکنه کې دومره تکړه و چې ګڼو انګرېز چارواکو به خپل رسمي مکتوبونه او لیکنې د ده تر نظر لاندې تېرولې.

۲۲ کلن انتوني لومړی ځل کریستینا په ډهلي کې په یوې رسمي میلمستیا کې ولیده. هغه مهال مکناټن په هند کې د انګرېز وایسراي د باندنیو چارو سلاکار و او انتوني هم کار ورسره کاوه. انتوني په ټولنیزو اړیکو کې هم مهارت درلود او خبرې به یې د انګرېز اشرافو په خاص لحن کولې. هغه ډېر ژر د کریستینا پام ځانته کړ او په هماغه میلمستیا کښې یې دوه ځلې ورسره نڅا وکړه، نوم یې ترې وپوښت، او ورسره په اړیکه کې شو.

کریستینا ته بیا انتوني ډېر په زړه پورې تمام نشو. انتوني ورته یو څه چاغ او مغروره ښکاره شو، خو دا یې ونګڼل چې کومه اړیکه به ورسره وپالي. د کریستینا د تمې برعکس، یوه ورځ وروسته انتوني هغې ته لیک واستوه او د هغې د ښایست، اخلاقو او کرکټر ستاینه یې وکړه او د بیا لیدنې غوښتنه یې ترېنه وکړه. د کریستینا لیک خوښ شو، او په لنډ ځواب کې یې د بیاکتنې غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړ.

تر څو خلي ليدنو کتنو وروسته، کريستينا د انتوني د مينې بلنه ومنله.

د افغانستان يرغل انتوني او کريستينا هم دې هيواد ته راوستل. کريستينا له خپل پلار او مور سره په کندهار کې وه، او انتوني په کابل کې.

انتوني غوښتل چې کريستينا ته په کابل کې د کوږدې وړانديز وکړي. د دې کار لپاره مکناټن د انتوني غوښتنه منلې وه، او جنرال لودويک هم راضي و.

د نوامبر په مياشت کې، کريستينا، تموتي او شاوخوا ۲۴ نور انګرېزان د ۴۵۰ هندي ساتونکي په کاروان کې له کندهار نه د کابل په لور خوځيدلي وه. دوې تر څو شپو مزل وروسته، د غزني او وردګو تر منځ سيمه کې د غازيانو تر بريد لاندې راغلل. هندي ساتونکو له ټوپکو او تمانچو سره د کاروان ښه ساتنه وکړه، خو د غازيانو شمير ډېر و او بلاخره د کاروان دفاع ماته شوله. کريستينا د څو نورو ښځو سره د غازيانو لخوا اسيره شوه.

نازولې کريستينا پخپل ټول ژوند کې هيڅکله دومره نه وه ډاريدلې. دا په ډولۍ کې ناسته وه خو شاوخوا يې مړي ليدل او د ټپيانو نارې يې اوريدلې. هغه لدې کبله د جګړې له ډګره نه وه تيښتيدلې چې هيڅکله يې د انګرېزانو پر کاروان د بريد په اړه څه نه و اوريدلي او دا يې هم نه و ګڼلي چې څوک دې دومره ګستاخي وکولای شي چې پر داسې يوه کاروان بريد وکړ چې د جنرال لودويک لور پکښې وي.

غازيانو کريستينا د شلو نورو انګرېز اسيرانو سره يو خای د جرګې له ميدان نه لرې يوې کلا ته بوتلل او ښځې او نارينه يې جلا-جلا کوټو کې بند کړل.

په کوټه کې په سپينه ورخ توره تياره وه. هيڅ کړکۍ نه وه. يوه دروازه وه چې هغه هم له دباندې نه خلاصيدله. د وچو ميوو او سبو بوي د کوټې له نم سره يو ځاي شوی و او کوټې کې يې خاص بوي جوړ کړی و. دوې ځلور ښځې او دوه ماشومان وه. هيلګا، ژنيفر، انه او کريستينا ټولو يو بل پيژندل او کوټې ته په راننوتلو ټولو په يوه سلا په ژړا پيل وکړ. ماشومانو هم ورسره ژړل.

يو ګړی وروسته، ماشومان له ستړيا ويده شول.

«دوی څوك دي؟ آیا موږ به ووژني؟ له نارينه و سره څه کوي؟ ماشومان به مو خنگه شي؟» دوې له يو بل دا پوښتنې کولې خو له یوې سره هم د تولو پوښتنو خوابونه نه و.

دوې لا په خبرو بوختې وې چې د دروازې د بند د خلاصیدلو غږ پورته شو او دوې ښځې رانوتې. د یوې منگی په لاس کې و او بیله دې چې څه ووايي د کریستینا مخې ته یې کیښود. د بلې یې په ټوکر کې پیچل شوې کوم څه په غیږ کې و او هغه هم بيله خبرې، د هیلگا مخې ته کښینسته او د ټوکر له منځ نه يې وچه ډوډۍ او له مستو نه ډکه کټوه راوایستله. یوې ښځې لوړی ډوډۍ او مستو ته په لاس اشاره وکړه او بیا یې هماغه لاس دوه درې ځلې خولې ته نږدې کړ او کښته یې کړ او بیا یې وویل «ډوډۍ ده. ډوډۍ وخورئ. وږي به یاست.»

هیلگا په ژړغوني غږ او په انگلیسي ورته وويل «موږ ستاسو ډوډۍ نه خوروو. ستاسو ډوډۍ چټله ده. لطفاً موږ پريږدئ چې ولاړ شو. تاسو له موږ څه غواړئ؟»

خو هغو دوو ښځو په هيښو سترگو ورته کتل. دوی د هیلگا د خبرو په يوه ټکي هم نه پوهیدل.

کریستینا پر هیلگا غږ وکړ «دوی زموږ په ژبه نه پوهيږي. له دوی نه پوښتل هيڅ گټه نلري.»

هیلگا چپ شوه.

هغې دوې ښځې له کوټې نه تر وتلو دمخه دوې ته وويل «که مو کوم شی پکار و، دروازه وټکوئ.» او بیا دورازې ته یې په لاس اشاره وکړه.

انگریزانو افغانانو ته د وحشیانو او نامتمدنه خلکو په سترگه کتل. دوې به پخپلو کې ویل چې دغه خلك له تمدن نه دومره لیري دي چې تر انسانانو ډېر د حیواناتو په څیر عمل کوي. کریستینا له خپل پلار نه اوریدلي و چې افغانانو ته که د نورو ښځې په لاس ورشي نو لوړی ورباندې په ډله ایزه توگه جنسي تېرى کوي او بیا یې وژني. هیلگا او نورو ښځو هم ورته کيسې اوریدلې وې. د

دوې تر ټولو ډېره ویره هم له همدغو دوو اړخونو وې - د وحشیانو لخوا ډله ایز جنسي تېری او بیا مرګ.

ژنیفر په بیاراژوندي شوي غږ وویل «موږ به دغو وحشیانو ته اجازه ورنکړو چې پر موږ تېری وکړي.»

هیلګا وویل «نه، هیڅکله. مرګ ته به ترجیح ورکړو خو دغو ځناورو ته به تسلیمي نشو.»

******

اکبرخان چې د ماښام لمونځ ادا کړ نو هماغه سړی چې د عبدالله خان پر جنازې ورته په غوږ کې خبره کړې وه، راوړاندې شو. ده په سر د هوکړې اشاره ورته وکړه او هغه یې مخې ته کېناست.

سړي ورته وویل «زه جمعه خان رالیږلی یم. موږ شل تنه انګرېزان اسیر کړي او ستاسو امر ته تم یو چې څه ورسره وکړو.»

اکبرخان جمعه خان پېژنده. هغه د وردګو یو خان و چې د انګرېزانو په خلاف د غازیانو د یوې سترې ډلې مشري یې کوله. اکبرخان له سړي وپوښتل «اسیرانو کې څوک دي؟»

«څوارلس نارینه، څلور ښځې او دوه ماشومان دي.»

«چېرې دي؟»

«په شیخ آباد کې په یوې کلا کې دي.»

اکبرخان: «جمعه خان ته زما سلامونه ووایه او ورته ووایه چې پخپله له اسیرانو سره کابل ته راشي. دا هم ورته یاده کړه چې له اسیرانو سره بد چلند ونکړي.»

اکبرخان د انګرېز اسیرانو په ارزښت پوهیده. هغه ډاډه و چې انګرېزان به د خپلو اسیرانو پر سر غازیانو ته ستر سیاسي او مالي امتیازات ورکړي، خکه خو یې د نورو مجاهدینو برعکس سملاسي د اسیرانو د وژلو او زورولو امر نه ورکاوه. د اسیرانو د ارزښت پرته هم اکبرخان له هغو سره پر انساني چلند کلک

باور درلود. ده پخپله د بخارا د امیر په بند کې خواری ګاللي وې او هماغه وخت پدې پوه شوی و چې یو اسیر او بندي. آن بیله شکنجې، خومره کړیږي.

دوه ورځې وروسته، جمعه خان د اسیرانو له کاروان سره کابل ته راورسید. دلته هم نارینه او ښځې په جلا-جلا کوټو کې واچول شول خو له وردګو سره یې توپیر دا و چې د کابل کوټې روښانه وې او کړکی یې لرلې.

اکبرخان له جمعه خان سره تر روغبړ وروسته، پخپله لومړی د نارینه اسیرانو خونې ته ورغی. په دغو انګریزانو کې یو هم په دري او پښتو نه پوهیده. اکبرخان هم په انګریزي نه پوهیده. یوه اسیر اکبرخان ته په هندي ژبه څه وویل. هغه مخ ور واړوه او وې ویل «هندي؟!» او بیا یې سملاسي خپل یوه حاضرباش ته وویل «ورشه ثناالله راوله.» ثناالله د قرآن حافظ و. دیني زده کړې یې په هند کې کړې وې او په هندي ژبو ښه پوهیده.

د ثناالله له راتلو سره سم اکبرخان ورته وویل «لدوی وپوښته چې چا خو به نه وي زوروليِ.» د دې پوښتنې ځواب منفي و او اسیرانو وویل چې چا ورسره بد چلند ندی کړی. بیا اکبرخان وویل «ورته ووایه چې څوک خو پکښې ناروغه ندی.» د دې ځواب هم منفي و. «ورته ووایه، تاسو او ستاسو ښځې ټوله زموږ سره خوندي یاست. موږ له تاسو سره کومه اذلي دښمني نلرو. خو تاسو زموږ هیواد باندې یرغل کړی دی نو موږ اړ یو چې د ځان او د خپل هیواد دفاع وکړو. تاسو د یو څو مودې لپاره زموږ میلمانه یاست او هرشی چې مو په کار و، موږ ته ووایاست.»

اکبرخان بیا د ښځینه اسیرانو د کوټې خوا ته ورغی او د دروازې مخې ته یې ودرید. یو شیبه تم شو او بیا یې دروازه وټکوله. څو شیبې تم شو او بیا یې دروازه پرانیستله. ثناالله او یو حاضر باش هم ورسره وه.

«سلام اعلیکم! بخښنه غواړم چې ستاسو مزاحم کیږم. زما نوم اکبرخان دی. تاسو او ستاسو نارینه زموږ میلمانه یاست. که په تېرو څو ورځو کې زوررول شوي یاست، زه یې له کبله بخښنه غواړم. خو لدې وروسته به زموږ لخوا تاسو ته هیڅ

ډول اذیت ونه رسیږي. ډوډي او هر نور څه ته مو چې اړتیا وي، موږ ته وواياست. انشاالله درته برابر به یې کړو.»

اکبرخان چې دا خبرې کولې، بنځو یې مخ ته کتل خو د هغه سترګې د کړکۍ په لور وي او قصداً یې دوی ته نه کتل.

ثناالله چې د اکبرخان د خبرو ژباړه خلاصه کړه نو کریستینا بې له ارادې وویل «دی خو وحشي نه معلومیږي.»

هیلګا ورته وویل «کریستینا، ته په هندي پوهیږې؟»

«هو، پوهیږم.»

هیلګا بیا ترې وپوښتل «څه یې وویل؟»

«زموږ د خوندیتوب ډاډ یې راکړ. وایي زموږ میلمانه یاست!»

«د څه شي میلمانه؟ په موږ ملنډې وهي؟»

کریستنیا بیله دې چې د هیلګا پوښتنې ته ځواب ورکړي، ثناالله ته وکتل او بیا یې لکه چې د اکبرخان خبرې سمې نه وې اوریدلي وې پوښتل «دا ښاغلی څوک دی؟»

هغه ورته وویل «دا زموږ مشر دی. اکبرخان دی.»

دغه مهال اکبرخان و ثناالله ته وکتل او هغه ورته وویل «په لومړیو خبرو یې ونه پوهیدم ځکه چې په انګریزي وغږیدل. خو دغې انجلی ستاسو په اړه وپوښتل.»

اکبرخان د لومړي ځل لپاره ښځو ته وکتل او سترګې یې پر کریستینا ولګیدلې. هغې هم اکبرخان سره سترګو په سترګو شوه.

«زما په اړه؟»

«هو، ویل یې چې تاسو څوک یاست.»

«ورته ووایه چې زه د غازیانو یو خادم یم.»

ثناالله و اکبرخان ته وکتل او بیایې ورته وویل «همدغسې مې ورته وویل.»

کریستینا دا ځلي اکبرخان ته په کتو کې وویل «اکبرخانه، تاسو څه وخت موږ خوشې کوئ؟»

اکبرخان ثناالله ته وویل: «ورتهووایه هر وخت چې د خدای رضا وه.»

*******

مکناټن ته د اسیرانو خبر یوه ورځ وروسته ورسید. هغه سملاسي جیفوري او الفنستون سره غونډه وکړه او درې واړه پدې سلا شول چې د ځانګړو ځواکونو یوه ډله ولیږي چې اسیران د مرادخاني نه چونۍ ته راوتښتوي. انګرېزانو ته داسې اطلاعات رسیدلي و چې اکبرخان اسیران د مرادخانی په یوې زړې کلا کې اچولي او شاوخوا شل کسه یې وربانديې درولي دي. د جیفوري ارزونه دا وه چې د خاصو ځواکونو یوه پنځوس کسیزه ډله به په شپه کې مرادخانۍ ته ورشي او د اسیران د کلا د ټولو شلو تنو محافظینو له وژلو وروسته به اسیران پر آسانو په چټکۍ تر چونۍ راورسوي. الفنستون وویل چې د دې کار لپاره به د خاصو ځواکونو تر ټولو ښه ډله برابره کړي.

د شنبې په نیمه شپه کې د انګرېزانو له پوځي چونۍ نه د خاصو ځواکونو ډله راووتله او په چټکۍ د مرادخانۍ په لور وخوځیده.

دوی شاوخوا دوه کیلومتره تللي وه چې ناڅېره له دوو خواوو نه پرې بریدونه وشول. غازیان د عیدګاه جومات نه یو څه لرې په کمین کې ناست وه او د انګرېزانو د پوځیانو له راتګ سره سم یې وربانديې په ډزو پیل وکړ. د سترګو په رپ کې د انګرېزانو لس کسه ووژل شول. انګرېزانو هم ډزې پیل کړې خو په توره شپه کې نه پوهیدل چې دښمن کومې خوا ته دی، ځکه خو یې هرې خوا ته ډزې کولې.

څو شیبو کې د غازیانو د الله اکبر غږونه اوچت شول. له هرې خوا نه نارې وهل کیدې، انګرېزان چارچاپېره محاصره شوي وه. انګرېزان پوهیدل چې دوی د داسې یوې جګړې لپاره نه و راوتلي، نو ځکه یې ډېر ژر په شا شول. په تېښته کې د انګرېزانو تلفات نور هم ډېر شول. د انګرېزانو له پنځوس کسیزې خاصې ډلې نه ۳۱ بیرته تښ لاسونه چونۍ ته ورسیدل.

اکبرخان پوهیده چې انګرېزان به د خپلو اسیرانو د خوشې کولو اقدام وکړي. هغه له اسیرانو سره تر کتلو وروسته امر وکړ چې پنځه سوه کسان باید د کمین لپاره چمتو شي. اکبرخان هماغه شپه پخپله د عیدګاه په مسجد کې تېره کړه او د دښمن د خاصو خواکونو له رارسیدلو سره یې د غازیانو د لیکو قومنده واخیستله.

انګرېزان پله‌پسې ماتو سخت وارخطا کړل. پدوی کې دا احساس زوراخیست چې د ساړه ژمي په تل کې، په یوه بیګانه ملک کې د ظالم دښمن په دام کې ایسار شوي دي. د مکناټن په ګډون، د ټولو انګرېز چارواکو لپاره د کابل ژمی ډېر سخت تېریده. دوی چې تېرکلونه به یې ژمی په ګرمې ډهلي کې او دوبی به یې په معتدله کشمیر کې تېراوه، اوس یې د کابل واورو او یخنیو ته غاښونه چیچل. الفنستون خو له یوې اونۍ راهیسې سخت زکام و او د ټوخي لپاره یې دومره تریاک خوړل چې ټول ورځ به بیسده پروت و. هغه مهال انګرېزانو په هند او تر خپلې ولکې لاندې نورو هیوادونو کې ډېر تاریاک کرل او بیا به یې هم په سیمیزو خلکو او هم پر چین باندې په زوره د درملو په نامه خرخول. نورو پوځیانو هم په سړې هوا کې مشق و تمرین ته زړه نه ښه کاوه او چې یو به پکښې ناروغه شو نو ګڼو نورو ته به یې هم د زکام وایروس ولیږداوه.

انګرېزان لا د تېرو څو ورځو د بدو خبرونو له ویر نه وه راوتلي چې خبر راورسید چې د اکبرخان په مشرۍ یاغیانو د بي بي مهرو غونډۍ په څنډو کې د انګرېزانو د څارویو پر ګنج برید کړی او ټول څاروي یې وړي دي. انګرېزانو د غلې ګدام په چونۍ کې دننه درلود خو د څارویو ګنج یې له ادې دباندې جوړ کړی و. دغه کار پر انګرېزانو رواني فشار نور هم ډېر کړ او په ډېرو کسانو کې د قحطۍ او لوږې ویره پیدا کړه. په یوې اونۍ کې د انګرېزانو په پخلنځي کې غوښه، تر ټولو مهم خواړه، ختم شول.

په همدې ژمي کې، که له یوې خوا د انګرېزانو مورال کمزوری کیده او امکانات یې لږیدل، د بلې خوا د غازیانو شمیر ورځ تر بلې زیاتیده او خلک جوپه‌جوپه پر اکبرخان راټولیدل. دغه خبرونه مکناټن او شاه ته هم رسیدل.

شاه خو خلې له مکناټن نه غوښتلي وه چې ټول لښکر راوباسي او بلواګر قتل عام کړي. خو مکناټن ورته ویل چې نشي کولې د ژمي په منځ کې عمومي لښکرکشي وکړي او په عمومي جګړې کې ښکیل شي. مکناټن شاه ته ویل چې تر پسرلي پورې تم شي او دوی به بلاخره د اکبرخان او امین الله خان بغاوت، په یوې نه یوې لارې، ختم کړي.

خو په اصل کې مکناټن بل پلان درلود. هغه غوښتل چې بیله لښکرایستلو، د یاغیانو ګواښ دفع کړي. ده او جیوفري پلان درلود چې د امین الله خان او اکبرخان تر منځ شخړه رامنځته کړي او د یو بل په خلاف یې په جنګ واچوي. پدغې جګړې کې به یو ووژل شي او بل به یې دومره ضعیفه شي چې انګرېزان به بې ایله په خو سوو سرتېرو د تل لپاره له مخې نه لیرې کړي. انګرېزانو لدغه سیاست نه په پراخه توګه په ګنو هیوادنو کې کار اخیست. دوی به د هیوادنو او سیمو خلک د توکم، ژبې، مذهب او نورو توپیرونو په نامه پخپلو کې په شخړه اچول او چې جګړه مارو غاړو به یو بل ښه وخپل، نو بیا به انګرېزانو اخري واری وکړ او ټول به یې له منځه یوړل.

په کابل کې د دغه کار لپاره جیوفري د خپلو تکړه هندي جاسوسانو یوه ډله ټاکلې وه. دغو جاسوسانو هر یوه له ګنو افغان قومي ملکانو او مذهبي ملایانو سره پټې او رښې اړیکې لرلې. جیوفري دغو جاسوسانو ته خورا ډېرې پیسې او نور امکانات برابر کړي وه چې هدف ته د رسیدلو لپاره یې وکاروي. د پیسو ترڅنګ، د انګرېزانو یو بل ډېر ارزښتناکه وسیله چې هغو پرې سیمیز مشران رانیول، تمانچې او ټوپکان وه. ملکانو او خانانو به د یو موټ پیسو او یا یوې تمانچې د لاسته راوړلو په بدل کې، عام خلک وژل یا به یې د واک په خلاف په بلواو اخته کول. ملایانو او مذهبي مشرانو به بیا د پیسو په بدل کې د خلکو په ضد شرعي فتواوې ورکولې.

که مکناټن په دسیسو بوخت و، بل لور ته اکبرخان ته یو نوی سرخوږی پیدا شوی و. د هیلګا، د اسیرې انګرېزې ښځې، دواړه ماشومانو سخت ناروغه شوي وه. اکبرخان پخپله د ماشومان د لیدلو لپاره ورغلی و او د دواړو ماشومانو بنې

ورته سمې نه برېښېدې، ځکه خو يې سملاسي خپل حاضرباش راوغوښت او ورته يې وويل چې له ښار نه يو طبيب ژر راولي چې د ماشومانو درملنه وکړي.
اکبرخان بيا له طبيب سره د اسيرانو کوټې ته ورغی او له خان سره يې گرمه ډوډۍ او شيدې هم يووړې. اکبرخان د ناروغو ماشونو ځنگ ته پر مځکه کېناست او په ځير يې د طبيب چارې کتلې. بيا يې ورته وويل «طبيب صاحب، نور ميلمانه هم وگوره چې کومه ناروغي ونلري. لطفاً د درملنې لپاره يې هر څه چې کولې شئ، وېکړه.»
کريستينا په تېرو دوو ورځو کې اکبرخان څاره. دې ته د اکبرخان هرڅه جالبه برېښېدل. له اسيرانو سره د هغه شخصي مهرباني، په نوې ځوانۍ کې د داسې يوې بلواگرې ډلې مشري کول چې د انگرېزانو له ځواکمن پوځ سره جنگيږي، او بل دا چې هغه ښځو ته هيڅ نه کتل. خو د دې ټولو سربيره، د کريستينا دننه يو بل حس هم د رامنځته کېدلو په حال کې و. د اکبرخان په رنجو تورو سترگو، نوراني تندې، نرمو خبرو او حرکاتو ټولو پر کريستينا ژور اثر کاروه او هغې په يو ډول ناپېژندل شوي حس غوښتل چې اکبرخان ووينې او خبرې ورسره وکړي.
په همدې ورځ، پداسې حال کې چې اکبرخان د هيلگا ماشومانو ته ځير و. کريستينا ورباندې غږ وکړ «اکبرخانه، آيا موږ کولې شو چې خپلو کورنيو ته ليک واستوو؟»
اکبرخان د خپل نوم له اورېدلو سره سم کريستينا سره سترگې په سترگو شو. کريستينا ببر او زيږ ورېښتان لرل چې له سر نه يې په بې نظمه توگه پر دواړو اوږو رابهېدلي وه. وړې شنې سترگې يې وې. وړه پزه او کوچنۍ خوله يې وه چې نريو شونډيو سره يې تقريباً پر مخ د يوې سرې ليکې په توگه ښکارېده. په ونه لوړه، پر اوږو پلنه وه او کړه وړه يې د يوې ښکلې ښځې وه.
اکبرخان خپل ژباړونکي ته وکتل او هغه ورته سملاسي د کريستينا د خبرو ژباړه وکړه.
اکبرخان بيا کريستينا ته ښه ځير شو او وې ويل: «هو، کولې شئ.»

کریستینا چې غوښتل له اکبرخان سره نورې خبرې هم وکړي ورته یې وویل «زما نوم کریستینا دی. زما کورنۍ په کندهار کې ده.»

اکبرخان ورته د ژباړونکي له لارې وویل «مشکل نشته. لیک به مو کندهار ته ورسوو.»

«مننه.»

د هیلگا ماشومان ذکام شوي وه. طبیب وړاندیز وکړ چې جوشانده ورباندې وڅښي، تاوده یې وساتي او آرام دې وکړي.

طبیب نور اسیران هم وکتل او اکبرخان ته یې وویل چې ټول ښه دي.

اسیرانو ته هماغه ورځ کاغذ او قلم برابر شول چې خپلو کورنیو ته لیک ولیکي.

کریستینا لومړی خپل پلار ته ولیکل چې دا ښه ده او د محمداکبرخان په مشرۍ د یوې ډلې یاغیانو لخوا اسیره شوې ده. هغې پلارته دا هم ولیکل چې ورسره بد چلند ندی شوی، خو ویریږي چې لدې وروسته به څه ورسره وشي.

کریستینا ته چې قلم په لاس ورغی نو خپله د شخصي یاداښتونو کتابچه هم ورپه یاد شوه. په کتابچه کې ولیکل: د نوامبر ۱۱ - موږ د افغان یاغیانو د یوې ډلې لخوا اسیر شوي یو. څو ورځې وړاندې د کابل-کندهار په لار زموږ پر کاروان برید وشو او موږ اسیر شوو. بیا موږ کابل ته راوستل شو. د یاغیانو مشر یو جذابه ځوان دی چې اکبرخان نومیږي. که څه هم چې ډېر ځوان دی خو یاغیان یې ډېر درناوی کوي. هغه زموږ سره هم د درناوي چلند کوي او وایي موږ یې «میلمانه» یو. اکبرخان په ونه جگ دی، پراخې اوږې لري او مخ یې خاص جذابیت لري. زړه دي کیږي چې ډېر ورته وگورې او خبرې ورسره وکړې.

افغانانو د انګرېزانو پر چوڼې برېدونو ته دوام ورکړ. له چوڼې نه وتل او ورننوتل تقريبا ناشوني شوي وه. ستونزه دا وه چې مکناټن نغوښتل چې له بالاحصار سره يې اړيکه وشليږي. انګرېزانو دغه راز درمل، خوړو او نورو امکاناتو ته اړتيا لرله. مکناټن پوهېده چې په زوره لارې نشي پرانيستلې. نو د جيوفري په مشوره يې يوه بله لاره ونيوله.

انګرېز استازي اکبرخان او امين الله خان ته جلاجلا ليکونه واستول او له هره يوه نه يې د مذاکراتو غوښتنه وکړه. مکناټن هم امين الله خان او هم اکبرخان ته په دوستانه انداز کې وليکل چې دی ورسره د ښه اړيکو په تمه دی، د دوستی لاس يې ورته نيولی، او غواړي په خصوصي ډول ورسره مهمې خبرې وکړي. د اعتماد د جلبولو په خاطر، مکناټن له هر ليک سره يوه تمانچه هم د ډالۍ په توګه ولېږل.

د ليکونو ځوابونه ډېر ژر راغلل او دواړو افغان مشرانو په جلا ليکونو کې له مکناټن سره خبرو ته ليوالتيا ښرګنده کړې وه. مکناټن په بل ليک کې له هر يوه سره د ملاقات جلا ورځ او ځای وټاکه. لومړی ملاقات له اکبرخان سره د بي بي مهرو د غونډۍ په ختيځې څنډې کې ټاکل شوی و، خو د ملاقات پر ځای په هغه ورځ د افغانانو او انګرېز سپاهيانو تر منځ لنډه جګړه وشوه.

اکبرخان او امين الله خان د مکناټن ليکونه يو بل ته ښوولي وه او دواړه پدې پوه وه چې انګرېزان غواړي د دوی تر منځ بې اعتمادي او شخړه رامنځته کړي. ټاکل شوې وه چې اکبرخان به يوازې له خپلو دوو نږدې ملګرو سره د ملاقات ځای ته ورشي او مکناټن هم ورته ژمنه کړه وه. خو انګرېزانو لا د وړاندې په سيمه کې ۵۰ مسلح کسان په کمين کښېنولي وه چې اکبرخان او ملګري يې يا ژوندي ونيسي يا يې ووژني.

اکبرخان د ملاقات ځای ته له څو ملګرو سره ورغی خو يو څه لرې يې ۱۰۰ تنه غازيان پټ کېنولي وه چې که انګرېزانو دوکه وکړه نو دوی به د مرستې لپاره ژر راودانګي. همدغسې هم وشول، کمين کې ناست انګرېز سپاهيان پر اکبرخان

راچاپیره شول او امر یې ورنه وکړ چې تسلیم شي. خو د اکبرخان یوه ساتونکې پخېل لاس کې د غوایي ښکر خولې ته ونیوه او لوړه شپېلی یې ووهله.

انګرېز سپاهیانو پر اکبرخان برید پیل کړ خو ډېر ژر پر دوی هم له شاته د غازیانو بریدونه پیل شول. د سیمې آرامښت یو وارې د تمانچو په ډزو او د جنګیالیو په نارو کې ډوب شو. اکبرخان چې انګرېز سپاهیان پرې شاوخوا راټول وه، خپل د وسپنې درونده سپر په یوه لاس مخې ته نیولی و او په بل لاس یې په تمانچې ډزې کولې. په دې اړو-دوړ کې له انګرېزانو نه اکبرخان ورک شو. دوی د ده پر ساتونکو ډزې پیل کړې او دوه تنه یې خای پر خای وویشتل. خدایې ساته که یې اذل کې دلته مرګ نه و؟ د انګرېزانو مردکی اکبرخان ونه واژه خو پر کینې لاس یې ټپي کړ.

جګړه ډېره اوږده نشوه، انګرېزانو چې تر خان ډېر غازیان ولیدل. نو سملاسي په شا شول خو پدې لړ کې ۱۱ کسه د دوی او ۷ غازیان هم ووژل شول.

مکناټن چې په چوڼی کې په بې صبرئ انتظار ایسته چې اکبرخان ورنه ژوندی یا مړ راولي. له ځان سره فکر کاوه چې که یې ژوندی ورته راولي نو هغه به هم د خپل پلار په څېر د ده لاسونه ښکل کړي او بخښنه به وغواړي. خو انګرېز استازی دا خلي د بخښنې په فکر کې نه و. هغه د اکبرخان د وژلو پریکړه کړې وه او هوډ یې کړی و چې د هغه له مړي سره به هماغسې چلند وکړي چې بلواګرو د برنس له مړي سره کړی و.

انګرېز سپاهیان چې بېرته خالي لاس راغلل نو مکناټن سخت په غوسه شو «څه ډول امکان لري چې د ګوتو په شمار یاغیان ستاسو له پنځوسو وسله والو وتښتي؟» د سپاهیانو مشر مکناټن او جیوفري ته د پېښې حال بیان کړ او دا یې هم وویل چې «اکبرخان زموږ له تمې نه ډېر زیرک دی. هغه زبردسته جنګیالی هم دی او داسې جګړه نکوي چې دښمن ته به ژوندی په لاس ورشي.»

جیوفري پرې غږ وکړ «موږ تاسو د اکبرخان د ژوندي نیولو یا وژلو لپاره استولي واست که د هغه د اوصافو د راوړلو لپاره؟» او بیا یې مکناټن ته وکتل او

په آرامه لهجه یې وویل «عالیجنابه، تاسو ته ډاډ درکوم چې د یاغي اکبرخان سر به ډېر ژر ستاسو پښو ته کښېږدو.»

پدغې ناکامه چلوټې مکناټن له امین الله خان او محمداکبرخان سره خپل نیمګړی اعتماد هم وبایله، خو انګرېز استازي له خپلو شیطاني هڅو لاس په سر نشو. په همدغه مازدیګر مکناټن امین الله خان ته بل لیک ولیږه چې پکښې یې لیکلي وه «اکبرخان خام دی. هغه غوښتل له موږ سره اړیکه ونیسي خو کله چې موږ یې خبره ونه منل نو زموږ پر سپاهیانو یې برید وکړ. زه هیله لرم چې دغه پېښه به زموږ تر منځ باور زیانمن نکړي.» مکناټن دغه راز امین الله خان ته ولیکل چې حالات سبا ته د دوې د ټاکل شوې غونډې لپاره سم ندي او دوی به بیا د لیدلو لپاره بله نیټه وټاکي.

شاه شجاع هم پر اکبرخان د مکناټن د ناکامه پلان نه خبر شوی و. هغه مکناټن ته لیک ولیږه «تاسو ولې د دې یاغي پلار ژوندی ساتلی؟ هغه د مار سر دی، سملاسي یې باید ووژني چې د اکبرخان او نورو لپاره عبرت وګرځي. که تاسو ماته فرصت راکړئ نو په یوه ورځ کې به نه اکبرخان ژوندی پاتې شي او نه کوم بل یاغي.»

مکناټن ته د شاه خبرې احمقانه ښکاریدلې. شاه لاپې او چټیات ویل او پدې نه پوهیدی چې په لودیانې کې د دیره شوي دوست محمد خان وژل به څرنګه انګرېزان په کابل کې سملاسي د بلواګرو له شر نه خلاص کړي. شاه شجاع دغه راز د هغو سپاهیانو له برکته هر چا ته د قدرت ټمر واهه چې انګرېزانو ورته روزلي وه او سمبالول یې. تر هغو سپاهیانو د انګرېزانو څواکونه څو برابره نکړه، مجهزه او څواکمن وه. د مکناټن له انده، که د انګرېزانو ځانګړو څواکونو بو کار نشو کولای، څنګه د شاه مفتخوره او ټنبلو سپاهیانو به هماغه کار ترسره کړې وای؟

مکناټن پدغه ډول انګیرنه کې یوازې نه و. انګرېزانو په عمومي توګه افغانان څه چې ټوله آسیایان تر ځان په پوهې، زړه ورتیا، ښایست او نردې ټولو نورو انساني ورتیاوو کې ټيټ بلل. دوې دغه ډول فکر تر خپل واک لاندې هیوادونو

کې په مستقیم او غیر مستقیم ډولونو خلک ته هم ورکاوه. دغه انګیرنه په دومره مهارت ورکول کېدله چې د آسیایانو دویم او دریم نسل ته تر انګرېزانو د خان ښې او خوار ګڼل. یو عادي حقیقت برېښېده.

مکناټن پر شاه شجاع باور نه درلود. خو په اصل کې شاه ته د اکبرخان او امین الله خان له منځه وړل یا هغوي له بلوا نه ایستل، تر انګرېزانو ډېر اسانه و. عجیبه خو لا دا وه چې دواړو اکبرخان او امین الله لا هم شاه شجاع ته درناوی درلود او د هغه د وژلو یا په زوره له واکه نه د پرځولو اراده یې نه لرله.

د کابل یخ ژمي. د خوراکي توکو کمښت او کړکېچنو امنیتي حالاتو یو شمېر انګرېزان اړ کړل چې خپلې مېرمنې او ماشومان په پټه توګه خو د خو سور سرتېره په بدرګه کې له کابل ښار نه جلال آباد او له هغه ځای نه ډهلي ته ولیږي. الفنسټون او مکناټن دواړو د دغه کار اجازه ورکړې وه او جیوفري ته یې دنده سپارلې وه چې له کابل نه د کاروان د خوندي ایستلو لپاره کار وکړي.

د نوامبر د ۱۷ نېټې پر نیمه شپه. د چوڼۍ له لودیخې دروازې نه د خو سور جنګیالیو لښکر د سورناوو او هوایي ډزو له آوازونو سره راووت. سرتېرو د چوڼۍ نه لرې لرې کلک سنګر ونیوه او مخامخ یې ډزې کولې. خو شېبې وروسته د توپونو جګ آوازونه هم اوچت شول. پدغه غالمغال کې د چوڼۍ له ختیځې دروازې نه د انګرېزانو یو بل کاروان په کراره راووت او د یکه توت په لوري روان شو. د دوهم کاروان په منځ کې ښځې او ماشومان وه چې انګرېزانو غوښتل تر ننګرهاره پورې یې ورسوي.

اکبرخان که څه هم تبي و، خو د توپونو د غږونو له اورېدلو سره سم له کلا راووت او ځان یې د چوڼۍ د محاصرې سنګر ته راورساوه. غازیانو اکبرخان ته د حالاتو جاج ورکړ. اکبرخان ډېر ژر پوه شو چې انګرېزان ښار ته د لښکرایستو اراده نلري. خو پدې فکر کې و چې لدغه کار نه د هغو اصلي مطلب څه و.

اکبرخان خپلو اندیوالانو ته وویل «انګرېزان د جګړې او لښکرایستو نیت نلري. دا ډزې زموږ د خطا ایستلو لپاره کوي.»

انګرېزانو شاوخوا درې ساعته همدغه لوبه وکړه او بیا بېرته په چوڼۍ ننوتل

د همدغې ورځې په ماښام اکبرخان ته احوال راغی چې د انګرېزانو یو کاروان د کابل ختیځ ته په تنګي سیمه کې له غازیانو سره جګړه کړې او ګڼ شمېر یې شهیدان کړي دي. اکبرخان پوه سو چې د انګرېزانو د پرون شپې نمایشي راوتل او دزې د څه لپاره وې. هغه سملاسي پر خپلو یارانو غږ وکړ چې غازیان راټول کړي او د تنګي په لور حرکت وکړي.

انګرېزانو د تنګي په سر کې د خلکو د ویرولو لپاره له خپل ټول ځواک نه کار اخیستی و. د کاروان مشر، جګړن رابرټ روچستر، امر کړی و هر څوک چې د کاروان مخې ته خنډېږي باید له منځه یوړول شي. کاروان له تنګي نه پوره وتلی و چې د اکبرخان ډله یې تر شا راڅرګنده شوه. اکبرخان سملاسي د برید امر ورنکړ. څلور تکړه کسان یې ولېږل چې له نږدې نه کاروان وارزوي چې څومره کسان دي، څه ډول وسلې لېږدوي او داسې نور معلومات راغونډ کړي.

د معلوماتو له راټولولو وروسته، اکبرخان خپله ډله په دوو برخو ووېشل. دوه سوه کسه یې ولېږل چې د شپې په تیاره کې تر کاروان دمخه شي او سبا ماخوستن له مخې نه پر کاروان برید وکړي. اکبرخان له خپلو ۲۵۰ نورو کسانو سره د کاروان تر شا پاتې شو.

شپه لا نیمه شوې نه وه چې جګړن روچستر کاروان ته د تم کېدلو امر وکړ، ځکه ښځې او ماشومان لا له وړاندې نه هم ستړي وه او ځینو لده نه غوښتنه کړې وه چې سوکه مزل وکړي. هوا ډېره سړه وه او داسې سوړ باید چلېده چې تا به ویل په هډوکو کې دي درننوځي. انګرېزانو د سفر انتظام کړی و او له ځانه سره یې تاوده کالي، خیمې، د سون توکي، خواړه او درمل راخیستي وه.

بل لور ته، اکبرخان او ملګرو یې پر وچه مځکه د داسې یوې سړې شپې د تېرولو لپاره هېڅ امکانات نلرل. د سیمې بوټي او لرګي لانده وه او په اسانۍ یې اور نه اخیست. خو بلاخره یو چا یوه لمبه جوړه کړه او له هماغې نه نورو هم اور واخیست او جلا-جلا لمبې یې جوړې کړلې او شاوخوا پرې راټول شول. د

خوړلو لپاره څه نه وه. خو پر اور باندې یې اوبه تودې کړې وې او همدغه یې څښلې.

اکبرخان د خپلو یارانو د یوې ډلې په منځ کې ناست و. یوه ترې وپوښتل «اکبرخانه، ولې همدا نن شپه پر دښمن برید نه کوو؟»

اکبرخان ورته وویل «لومړی باید دښمن ښه وپیژنو او بیا د برید یا نه برید پریکړه وکړو. پدغه کاروان کې تر مورډېر جنګیالي دي. سپکې او درنې وسلې لري. زه نه غواړم چې تاسو د مرګ خولې ته بوځم. سبا ته چې کاروان مزل وکړي او د تیزین غرو کې ننوځي، موږ ته به د برید ښه فرصت په لاس راشي. دښمن په غرنۍ سیمه کې سم جنګ نشي کولای.»

څو شیبې چپ شو او بیا یې لکه یوه مهمه خبره چې ورپه یاد شوې وي وویل «پدغه کاروان کې ښځې او ماشومان هم سته. خو تاسو پوهیږئ چې موږ ښځو، ماشومانو، زړو او ناروغانو ته زیان نه رسوو. که مو هرڅوک ولید چې ښځې یا ماشومان زوروي. سملاسي یې مخه ونیسي او ماته احوال راکړئ.»

په اصل کې اکبرخان پر دې کاروان د برید پلان نه درلود خو اټکل یې کاوه چې انګریزانو په کاروان کې کوم مهم شیان لیږدول. اکبرخان وسلو او په ځانګړي توګه توپونو او لرې ویشتونکو ټوپکانو ته سخته اړتیا لرله او انګیرنه یې دا وه چې له کاروان نه به وسلې او نورو امکانات په غنیمت واخلي. خو اوس د هغه لپاره د کاروان ښځې او ماشومان په سرخوږي بدل شوي وه. له ځان سره یې فکر کاوه چې ډېر شمیر اسیران څنګه او چیرې خوندي وساتي؟ یو ځلې یې دا فکر هم وکړ چې اسیرې شوي ښځې او ماشومان بیرته چوڼۍ ته ورولي. خو بیا یې له ځان سره وویل چې دوی پر چوڼۍ د پراخو بریدونو نیت لري.

سهار وختي کاروان حرکت پیل کړ. جګړن روچستر د تنګي له پېښې نه راضي و او فکر یې کاوه چې د سیمې خلکو ته یې ښه سبق ورکړی و چې یا بیا پر کاروان د برید جرعت ونکړي. د هغه د اټکل له مخې کاروان باید څلورمه نېټه ننګرهار ته رسیدلی وای. خو دی نه و خبر چې په دوهمه شپه به څه ورپېښ شي.

د غازیانو د لومړی او دوهمې ډلې تر منځ پلان داسې شوی و چې د ماخوستن تر لمانځه وروسته به برید پیلوي. لومړی د مخې لخوا پر کاروان برید وشو او تر هغو چې انګرېزانو ورته ځانونه برابرول، له شا نه هم پرې برید وشو. جګړن روچستر په یوه وخت له یوې خوا د برید پوره چمتوالی درلود، خو دېته نه و چمتو چې نیم خواک مخې او نیم یې شاته وجنګیږي. د دې سربیره، انګرېزان له یوې بلې سترې ستونزې سره هم مخامخ شوي وه: پدې پیچلي درې کې توپونو هیڅ کار نه ورکاوه، بلکې تر ګټې یې زیان ډېر و ځکه ویره دا وه چې د توپ ډزې به له غرونو نه پر کاروان ډېرې او واورې راوښوييږي.

جګړه د تورو او تمانچو وه. غازیانو له مخ او شا نه پر کاروان ورودانګل. د انګرېزانو وارخطا ډزو یې مخه نشوای نیولای. د انګرېزانو اسانو او اوښانو هم له ویرې هرې خوا ته منډې پیل کړې او پدې لړ کې له نښانه ویشتونکو نه د خپل او پردو پیژندنه ورکه شوه چې پر چا ډزې وکړي او څوک ونه ولي.

د غازیانو برید دومره چټک او پریکنده و چې سملاسي یې د جګړن روچستر د قومندې نظم وشلوه او کاروان پخپل سر په خو جلا ټوټو وویشل شو. په منځ کې ښځې او ماشومان وه چې له ویرې نه یې یا ژړل یا یې په لوړ غږ دوعاوې کولې، د دوی په دوو خواوو کې سپاهیان وه چې هره ډله یې نه پوهیدل چې بلې خوا ته څه روان دي.

اکبرخان اطلاعات لرل چې جګړن روچستر د کاروان په منځ کې دی او په هماغه لور یې آس ته زور ورکړی و. ده غوښتل د کاروان قومنده فلج کړي او پدې توګه کاروان تسلیمیدلو ته اړ کړي. دغه کار به هم جګړه لنډه کړې وای او هم به یې د دواړو خواوو د ډېرو جنګیالیو د وژل کیدلو مخه نیولې وای. اکبرخان لا د کاروان منځ ته نه و رسیدلي چې د انګرېزانو تر منځ غږونه پورته شول «اکبرخان برید کړی!»

د اکبرخان د نوم له اوریدلو سره د انګرېزانو روحیه نوره هم ماته شوله.

اکبرخان ایله دوې اونی وړاندې کابل ته راستون شوی و، خو په همدغې لنډې مودې کې یې د انګرېزانو تر منځ ډېر شهرت موندلی و. ګنو د هغه د زړه

ورتیا او جنګي مهارتونو خبرې کولې او ځینو نورو یې بیا د شخصیت او د ښیرې صفت کاوه.

۳۴ کلن جګړن روچستر هم پخپلو انډیوالانو کې په زړه ورتیا مشهور و او پوځي مشرانو ورباندې د یوه تکړه تکتیشن (د جنګي تکتیکونو ماهر) په توګه باور درلود. جنرال الفنستون هم دی پدې خاطر د کاروان مشر ټاکلی و چې د هغه پر شجاعت او تکړه قومندانی یې پوره باور درلود.

روچستر چې د اکبرخان نوم واوریده نو په لوړ غږ یې وویل «زه به د دې وړوکي بلواغوښتونکي سر د هغه پلار ته په لودیانې کې ډالی کړم.» روچستر پر سپاهیانو امر وکړ چې خپل ټول خواک د کاروان منځ کې راټول کړي او پدې توګه د دښمن تکتیکي دوه اړخیزه تعرضي لیکه، ماته کړي. خو د دغه کار لپاره فرصت له لاسه تللی ښکاریدي ځکه غازیان په ډلو ډلو د کاروان په منځ ورګډ شوي وه او سپاهیان یې بیرته راټولیدلو ته نه پریښودل. جګړې شیبه په شیبه زور اخیست او په هره شیبه کې د دواړو غاړو جنګیالي وژل کیدل. انګریز سپاهیانو چې به د وړاندې بریدګرو په خوا تعرض پیل کړ له شا نه به پرې مرمی او غشي اوریدل او که به یې شاته پام شو نو له مخي نه به پرې مرګوني ګوزارونه کیدل.

سپاهیانو په خورا میړانې جګړه کوله. پدوی کې تر ټولو اغیزمنه ډله د ښه ویشتونکو وه چې په ډېرمهارت او چټکي به یې د غازیانو له لیکو نه د سر جنګیالي د جګړې له میدان نه حذف کړل. انګریزانو دغه راز ښه پوځي نظم درلود او په ډله ډله داسې جنګیدل چې څلورو خواوو ته یې ډزې کولې.

جنګ ښه پوره زور اخیستی و چې د انګریزانو د کیڼ اړخ غره څخه غټې ډبرې په رانښویدلو شوې. غازیانو له یو څه مودې راهیسې دغه تکتیک په غرنیو سیمو کې کاروه. دوې به په لاندې شیلو او دروو کې د دښمن پر ځواکونو سترې ډبرې راخوشې کړلې او پدې ډول به یې د دښمن لیکې په ځو ټوټې ړې کړې.

اکبرخان د ډبرو د کارولو امر نه و کړی. هغه له غرنیو ډبرو نه د دروښي تکتیک په توګه کار اخیسته، ځکه پوهیده چې ډبرې چې رالیله شي نو د

دوست او دښمن. او د جنګیالیو او نورو خلکو توپیر نه کوي. د دغه کاروان په وړاندې خو اکبرخان په هیڅ حال کې د ډېرو د کارولو پلوی نه و. ځکه په کاروان کې ډېرې ښځې او ماشومان وه. اکبرخان چې د ډېرو د راغورځیدلو له کبله د انګرېزانو چغې او نارې واورېدلې نو پر خپلو دوو اندیوالانو یې غږ وکړ چې ژرترژره غازیانو ته خبر ورسوي چې د ډېرو عملیات سملاسي ودروي. خو تر هغو چې د اکبرخان خبره پوره په غږو کې غازیانو ته رسیدل، ډېرو ګڼ شمیر کسان وژلي وه. په وژلو شوو او ژوبل شوو کې ښځې او ماشومان هم وه.

جګړې بلاخره دواړه مشران سره مخامخ کړل. دواړو یو بل په لومړي نظر وپیژندل. روچستر خپله تمانچه د اکبرخان لور ته ونیوله او ماشه یې کش کړه. خو نښه یې ونویشته. تر هغو چې روچستر بله مرمی تېروله اکبرخان یې مخې ته ورسید او په یوه حمله یې له آس نه مځکې ته وغورځاوه. روچستر نه تمانچه ورکه شوه. شاوخوا یې وکتل او ډېره په لاس ورغله او هغه یې د اکبرخان په لور وویشته. اکبرخان پر آس سپور پر روچستر ځو خلي راوګرځید. روچستر لاهم لګیا و د خپلې تمانچې پسې ګرځیده او په لوړ غږ یې ښکنځلې کولې. خو یوارې یې لټون پرېښود او شا ته یې وکتل. دوې غټې ډېرې له غره نه په سرعت را-روانې وې. دی په پښو ودرید او بیله دې چې مخې ته وګوري د ډېرو د رانګ له مسیر نه یې منډه کړه. خو لاېې ځو ګامه نه وه اخیستي چې د یوه غازي له آس سره وموښت او د آس تر پښو لاندې شو. آس او پر سپور غازي دواړه پر روچستر ولویدل. غازي چې توره په راسته لاس کې کلکه نیولې وه. له لویدلو سره سم یې پر روچستر واری وکړ. توره د روچستر پر چپه اوږه ولګیده او د هغه له چغې سره یې له اوږې نه وینې لکه د اوبو چینه راوخوټیدې. لومړی غازي، وروسته آس راپورته شول، خو روچستر لکه مار پر مځکه ځان کشاوه او ړمباړې یې وهلې. د روچستر لاس له بدن نه پرې شوی و. یوازې په پوستکي بند و. خو هغه په بل لاس د خپل ژوبل لاس بازو پر ځان کلک نیولی و. غازي د روچستر خوا ته وخوځید چې بل واری ورباندې وکړي چې له شا نه اکبرخان غږ پر وکړ «لاس ونیسه! مه یې وژنه!»

د انګرېزانو کاروان مات شوی و. په دوې کې تر ۳۵۰ نه زیات اکثراً هندوانې او سیکهان سپاهیان وژل شوي وه. څلور انګرېز پوځیان او ۴۳ ښځې او ماشومان او ۲۲ هندو سپاهیان غازیانو ته تسلیم شول. د دوی سربېره درې نور اسیر شوي انګرېزان تېي وه چې یو یې روچستر و.

غازیانو په اسیرانو کې ښځو ته د غنیمت په سترګه کتل او هر چا غوښتل چې یوه تر لاس ونیسي او له ځانه سره یې بوځي. انګرېزې ښځې، د افغانانو له انده، ښکلې وې. سپین بدنونه یې وه، ژړ او خرمايي ورېښتان او تکې شنې سترګې یې لرلې. دوی هر چا خوښولې. جالبه دا وه چې انګرېزانو بیا افغانې ښځې خوښولې - د دوی تورې سترګې، تور ورېښتان، او غنم رنګه بڼې یې خوښولې. تر دې لا جالبه بیا دا وه چې انګرېزو ښځو افغان نارینه نه و خوښ، او د افغانو ښځو انګرېز نارینه بد ایسېدل.

په ښځینه اسیرانو کې یوه ۲۱ کلنه ویکتوریا هفنګتن وه. هغه څلور میاشتې وړاندې له خپلې مور سره کابل ته راغلې وه چې خپل مشر ورور ووینې. پلار یې په لندن کې د پارلمان غړی و. دا په اصل کې اشراف زاده وه. ویکتوریا او مور یې یو بل په غېږ کې کلکې نیولې وې چې دوو غازیانو ور حمله کړل او سره جلا یې کړلې. د دوی چغې نورې هم اوچتې شولې او د هغو نورو اسیرانو له چغو سره یوځای شولې چې غازیانو له ځانونو سره په زوره کشولې.

د اسیرانو چغو او نارو د اکبرخان پام ځانته کړ او هغه پر آس پښې وټکولې او د اسیرانو خوا ته ورغی.

لا د اسیرانو ډلې ته نه و رسیدلی چې په لوړ آواز یې وویل «ودرېږئ! دا تاسو څه کوئ؟ همدغه مو مېړانه او عزت دی؟ تاسو له دې بې وزلو ښځو او ماشومانو څه غواړئ؟»

یوه په ځواب کې ورته وویل «دوی خو غنیمت دي. موږ خپل غنیمت اخلو.»

اکبرخان بیله خنده ځواب ورکړ «انسانان غنیمت ندي. مال غنیمت کېږي. له خدایه ووېرېږئ! تاسو جهاد د اسلام او د وطن لپاره کړی که د ښځو او هوس

لپاره؟ دوی زموږ اسیراني دي. که ستاسو ښځې او ماشومان د دوی اسیران شي. د څه ډول چلند تمه ترې کوئ؟»

د اکبرخان په امر ټول اسیران په یوې سیمې کې سره راټول کړل شول. اکبرخان د یوه ژباړونکي په مرسته هغو ته وویل «زه له تاسو نه د هرڅه چې نن درباندې تېر شوي، بخښنه غواړم. ستاسو پت او عزت له موږ سره خوندي دی او تاسو ته به هیڅ ډول زیان او آزار ونه رسیږي.»

د اسیرانو په هکله د اکبرخان دغه کار، په اصل کې یوه نوې فتوا وه. داسې فتوا چې د افغانانو یو اساسي جنګي دود یې باطل کاوه. افغانانو په جنګ کې ګټل شوي هر څه، انسانان، څاروي او مالونه ټول غنیمت ګڼل. دوی هیڅکله دا فکر نه کاوه چې انسان غنیمت کیدلای نشي او په جګړه کې نیول شوي خلک هرومرو د دوی مریان او وینځې نه بلکه اسیران ګڼل کیږي چې باید انساني چلند ورسره وشي.

د اکبرخان د جګړې په فکر او اصولو غازیان پوره نه پوهیدل. د هغو لپاره جګړې یوازې یو قانون درلود: ووژنه که نه وبه وژل شي. پر دښمن او د هغو پر کسانو ترحم نه یوازې بې مفهومه ګڼل کیده بلکې د ی ضعف په سترګو ورته کتل کیدل.

د اکبرخان لپاره د اسیرانو ساتل په یو ستر سرخوږي اوښتي و. د اسیرانو تر تیښتې ډېر، هغه له اسیرانو سره د غازیانو له چال چلند نه ډاریده. د انګرېزانو خلاف جګړه کې ښکیلو افغانانو له انګرېزانو ډېره کرکه کوله او ډېر داسې کسان وه چې د اسیرانو په نه زوروني یې هیڅ باور نه درلود.

کابل ته له راستنیدلو سره سم، اکبرخان د روچستر په ګډون ټپي شوي اسیران چونۍ ته ولیږل ځکه د هغوي د درملنې او سمې ساتنې امکانات یې نلرل.

مکناټن، الفنستون او جیوفري باندې د کاروان د ماتې خبر لکه تالنده ولویده. د ګڼ شمیر انګرېزانو اسیریدل پر مکناټن ډېره ګرانه پریوته ځکه هغه سخت ډاریده چې په لندن او ډهلي کې د اسیرانو کورنیو ته به څه ځواب

ورکوي؟ بيله شکه نه چې انګرېز مشرانو به د دغې افتضاح اصلي مسوول
مکناټن باله ځکه هغه په افغانستان کې د انګرېزانو استازی او مشر و. خو هغه ته
سره لدې چې مکناټن د اکبرخان په وړاندې خپل اعتبار بايللی و،
بې په يوه نوي ليک کې وليکل «زه ستاسو نه د پښتنو تېروتنو له امله د زړه له
کومې بخښنه غواړم او دا ځلې تاسو ته په رښتيا او صداقت لاس اوږدوم. موږ
چمتو يو چې د اسيرانو د خوشي کولو په بدل کې ستاسو سره معامله وکړو.»
مکناټن غوښتل هرڅومره ژر چې کېدای شي اسيران د اکبرخان له بند نه
خوشي کړي. هغه پوهيدی چې دا کار په زور نشي کولای، خو فکر يې کاوه
چې اسيران به د پيسو په بدل کې خوشې کړي.
اکبرخان چې د اسيرانو د ساتلو ليواله نه و، نو مکناټن ته يې مثبت ځواب
ورکړ او د هر اسير د خوشي کيدلو پر سر يې ترينه لس زره روپۍ، لس ټوپکان،
دوې تمانچې، يو توپ او ورسره د توپ لس مرمۍ وغوښتلې. پدې توګه
اکبرخان غوښتل چې د انګرېزانو په امکاناتو، د غازيانو يو منظمه او مجهزه پوځ
جوړ کړي چې په راتلونکي کې پر افغانستان د انګرېزانو د يرغل په وړاندې
ودريږي. دغه مهال له اکبرخان سره ٦٦ انګرېز اسيران وه او که انګرېزانو د هغه
شرط منلې وای، نو غازيانو ته به په سلګونه ټوپکان او نور مهم امکانات په لاس
ورغلي وای.

مکناټن د پيسو له اړخه انديښنه نلرله خو پدې يې سر ښه خلاص و چې
اکبرخان ته د وسلو ورکول به پدې مانا وې چې انګرېزان پخپلو لاسونو خپل قبر
وکيندي. انګرېز استازی پدې هم پوهيده چې اکبرخان ته منفي ځواب نشي
ورکولی او بايد په هر ممکنه چم چې کېدای شي، د اسيرانو د خلاصون تړون
وکړي.

**********

د امين الله انديښنې ورځ تر بلې زياتيدې. د عبدالله خان تر مړينې وروسته
هغه ځان د غازيانو مشر ګاڼه او هڅه يې دا وه چې له شاه شجاع سره د
جوړجاړي له لارې د انګرېزانو سره جګړه د خبرو او جرګې له لارې ختمه

کړي. خو اکبرخان کرار-کرار پر حالاتو واکمن شوی و. اکبرخان خاصه کاریزما درلوده چې په خانګړې توګه خوانان یې خانته جلبول. د اکبرخان د زړه ورتیا او ننګیالیتوب شهرت د کابل ښار د هرخوان پر خوله و او هر چا هغه کوله چې د هغه سره ودریږي. د امین الله خان او اکبرخان یو بل اساسي توپیر پدې کې و چې امین الله خان له شاه سره ښې اړیکې پاللې او خان یې د شاه د اوامر جوګه باله، خو اکبرخان د شاه شجاع مشروعیت نګاوه. اکبرخان به تل ویل «ولې شاه د انګرېزانو په خلاف د جهاد فتوا نه ورکوي؟ ولې شاه له خپلو خلکو سره د انګرېزانو په خلاف نه دریږي؟»

په اصل کې د امین الله خان اندیښنې د جیوفري جاسوسانو پارولې وې. موهن لال، د انګرېزانو وتلي هندو جاسوس، د کابل، لوګر او د شمالي سیمو څو تنو ملکانو او ملایانو باندې پیسې ویشلې وې چې د اکبرخان په اړه امین الله خان ته غلطې او پارونکې خبرې وکړي.

امین الله خان یو څلي اکبرخان ته ویلي وه چې انګرېز اسیران په دوغ آباد سیمه کې د ده یوې کلا ته ولیږي چې وساتل شي، خو اکبرخان ورته ویلي وه چې اسیران د ده د کلا ترخنګ خوندي دي. د ریشخورو د سیمې یوه ملک چې له موهن لال نه یې پیسې اخیستې وې، امین الله خان ته ویلي وه چې اکبرخان غواړي د انګرېزو اسیرانو په بدل کې خپل پلار، امیردوست محمد خان، بیرته افغانستان ته راولي او ورسره یوځای د شاه شجاع نه پاچاهي واخلي. د لوګر یوه وتلي ملا بیا امین الله خان ته ویلي وه چې اکبرخان پر انګرېزو ښځو جنسي تېری کوي او بل چا ته یې نه ورکوي. د کابل یوه وتلي سید او دیني مشر ویل چې اکبرخان پر هر اسیر له انګرېزانو نه یو لک روپۍ غوښتې او غواړي چې د اسیرانو له خرڅولو وروسته له پیسو سره له افغانستان نه وتښتي.

یو ماخوستن چې امین الله خان له مسجد نه روات دوو کسانو هغه وکړه چې په چړو یې ووژني خو د خان کسانو دواړه ژوندي ونیول. دواړو ناکامه بریدګرو ویل چې د اکبرخان کسانو پیسې ورکړې وې چې امین الله خان ووژني.

امين الله خان و اکبرخان ته احوال ورکړ چې ليدلو ته لدې پېښې وروسته. امين الله خان ليدلو ته ورغی. امين بې ورشي. اکبرخان يوازې او بې له وسلو د امين الله خان ليدلو ته ورغی. امين الله خان د ټولو هغو خبرونو او مسايلو غورچاڼ وکړ چې د موهن لال او جيوفري جاسوسانو ده ته کړې وې او بيا يې وويل «سردار صاحب، زه ستا سره د واک پر کومې څنډې سيالي نلرم. ما عمر خوړلې او يوازې د خداې او وطن لپاره ولاړ يم. خو داسې ښکاري چې تاسو نورې غوښتنې لري او لدې امله به ښه وي چې موږ خپلې لارې جلا کړو.»

اکبرخان هک-پک پاتې شو. د جيوفري او موهن لال جاسوسانو خپله ټوله پانگونه پر امين الله خان کړې وه، څکه خو اکبرخان نه پوهيدې چې ولې امين الله خان دومره بدگمانه شوی دی.

اکبرخان پر خپلې نرۍ ږيرې لاس تېر کړ او بيا يې په آرامه په خبرو پيل وکړ «خان صاحب. موږ ستاسو تر قيادت لاندې د خداې د جهاد امر پرځای کوو او د نامسلمانو يرغلگرو نه ژغورو. زما سر تر تا قربان دی. همدا اوس توره راواخله او زما سر پرې کړه، خو د غازيانو له مشرې مه شاته کيږه. زه ستا هر ډول امر ته غاړه ايږدم.»

يوه شيبه چپ شو. ناړې يې تېرې کړې او بيايې وويل «اجازه راکړئ چې پر قرآن درته لوړه وکړم چې ما بيله د افغانانو د عزت او شرف د ساتلو او د وطن د آزادولو پرته بل د هيڅ شي لپاره جهاد ندی کړی.»

په کوټه خاموشي خپره شوه. اکبرخان ولاړ شو او د امين الله مخې ته کښيناست او د هغه راسته لاس يې په خپلو دواړو لاسونو کې ونيوه او ښکل يې کړ «خان صاحب. دلته ستاسو د اعتماد نلرل ماته د بخارا د امير تر تورو څاگانو سخت دي. زه به له کابل او آن له هيواد نه ووځم. تاسو او ټول غازيان پر خداې سپارم.»

د امين الله خان سترگې له اوښکو ډکې شوې، د اکبرخان پر سر يې لاس کېښود او په ژړه غونې غږ يې ورته وويل «سرداره، ما وبخښه! زه د انگرېزانو د

شیطانانو خطا ایستم او پر تا مې سخته بدګماني وکړه. خدای به مې تر دې ګناه را تېر نشي.»

پدغو سپینو خبرو افغان مشرانو د انګرېزانو یوه ستره توطئه شنډه کړه. اکبرخان او امین الله خان د مکناټن د نفاق اچولو او چلوټو په اړه وغږېدل. د اسیرانو د بیرته سپارلو شرایطو په اړه یې خبرې وکړې. د راتلونکو اقداماتو په هکله یې مشوره وکړه - نیمه شپه وه چې اکبرخان د امین الله خان لاس بیا ښکل کړ او ترینه رخصت شو.

اکبرخان که له یوې خوا د انګرېزانو له دسیسو نه اندېښنه لرله چې د غازیانو تر منځ به بې اتفاقي او خپلمنځي لانجې رامنځته کړي. له بل لوري پر مکناټن هم په غوسه و چې د هیڅ ډول معاملې او کړه خبرو-اترو باور نه ورباندې کېده. مکناټن هڅه کوله چې د انګرېزانو له تودیزې تګلارې - تفرقه واچوه او واکمني وکړه - له لارې افغانان په خپلمنځي اختلافاتو او شخړو کې اخته کړي. ضعیفه یې کړي او پدې ډول یې له منځه پورته کړي. اکبرخان ته بیا د مکناټن دغه تګلاره جاهلانه ښکارېدله ځکه انګرېز استازي د خبرو له لارې د یرغل د کړکیچ د هوارولو لارې بندولې او یوازې جګړه یې د ستونزې د هوارې لپاره پرېښوده. اکبرخان که څه هم چې په جګړه کې پر خپلې تګلارې ډاډه و، خو د خبرو-اترو له لارې د افغان-انګرېز د اختلافاتو هوارې ته یې ترجیح ورکوله. هغه پوهېده چې له انګرېزانو سره په جګړه کې به خامخا زرګونه افغانان هم ووژل شي.

مکناټن د اسیرانو د آزادولو پر سر د اکبرخان شرایط ومنل او ورته یې ولیکل چې دوه ورځې وروسته به انګرېزان، په لومړي پړاو کې. د لسو اسیرانو د خوشې کېدلو په بدل کې ټاکل شوې شمېره پیسې او وسلې برابرې کړي.

مکناټن لیکلي وه «تاسو به د سهار پر لسو بجو اسیران له شوربازار نه د چونۍ ختیځ لور ته راولئ او زموږ کسان به پیسې او وسلې تاسو ته لاس په لاس وسپاري.»

اکبرخان چې پر مکناټن باور نه درلود د هغه په لیک کښې یې د اسیرانو د توقیفځای، شوربازار، یادونې هیښ کړ. هغه سملاسي امر وکړ چې اسیران دې په دوغ آباد کې د امین الله خان زړې کلا ته ولیږدول شي. د اکبرخان اقدام پر ځای و. ځکه انګرېزانو غوښتل چې د خپلو سیمیزو جاسوسانو په مرسته د اسیرانو ساتونکي ووژني او هغوي په پټه چونۍ یا بالاحصار ته ولیږدوي. د دغه کار لپاره شاه شجاع هم د مرستې ټټر وهلی و او د شاهي ګارډ یوه ډله یې ټاکلې وه چې د موهن لال په همکارۍ د اسیرانو د خلاصون عملیات ترسره کړي.

مکناټن چې په هیڅ ډول نغوښتل له اکبرخان سره د اسیرانو پر سر معامله وکړي، بلاخره دې ته چمتو شو چې پخپله له اکبرخان سره مخامخ خبرې وکړي او په هره توګه چې کیږي، ستونزه حل کړي. مکناټن خپل نظر له الفنستون او جیوفري سره شریک کړ او وې ویل «موږ باید دغه خوان سردار له مخې پورته کړو. دی ورځ تر بلې غښتلی کیږي او زه هغه ورځ لرې نه وینم چې دی به دلته په چونۍ کې دننه زموږ پر ستونې پښه کښېږدي.»

جیوفري ورته وویل «زه ستاسو د امنیت په اړه اندېښنه لرم. موږ باید دا یقیني کړو چې په همدا لومړي ملاقات کې به تاسو د اکبرخان ستونزه هواره کړئ.»

انګرېز مشرانو پدې توافق وکړ چې مکناټن به لومړی اکبرخان ته د پیسو وړاندیز وکړي چې له انګرېزانو سره ملګرتیا وکړي، دوهم وړاندیز له شاه شجاع سره د واک سم نیمایي ویش و پدې مانا چې اکبرخان به د شاه وزیر وټاکل شي. او که اکبرخان ټول وړاندیزونه رد کړل نو باید د تمانچې په ډزو ځای پر ځای ووژل شي.

مکناټن و اکبرخان ته ولیکل چې د اسیرانو د خلاصون لپاره د یوه تړون د لاسلیک کولو لپاره دوی دواړه باید مخامخ خبرو ته کښېني. مکناټن پوهیده چې په تېرځل کې یې له اکبرخان سره دوکه کړې وه نو ځکه یې ولیکل «زه پوهیږم چې تاسو د تېرځل د ملاقات له کبله اندېښنه لرئ، خو غواړم پوره ډاډ درکړم چې دا ځلي به داسې ونشي او موږ به د خپلو اسیرانو پر ژوند تېروتنه ونکړو.»

د اکبرخان د اعتماد د جلبولو په خاطر مکناټن دغه راز د لیدلو د خای انتخاب هغه ته پرېښود.

د ملاقات خای او وخت وټاکل شو او دا هم وپتیل شوه چې هر یو به له خانه سره پنخه کسه د امنیت ساتلو لپاره راولي.

د ۱۹۴۱ میلادي کال د ډسامبر ۲۳، د نورو ژمنیو ورخو برعکس، آسمان شین و خو یخ باد چلیده او د کابل ټول واټونه کنګل شوي وه.

اکبرخان تر کلا له راوتلو دمخه د اسیرانو سراې ته ولاړ. لومړی به یې د هرې کوټې دروازه وټکول، بیا به یو څو شیبې تم شو، بیا به یې وټوخل او آخر کې به یې ور پرانیستلو او کوټې ته به ورننوتو. «سلام اعلیکم!» به یې لومړی خبره وه.

اکبرخان اسیرانو ته وویل «زه راغلی یم چې تاسو ته ښه خبر درکړم. که مکناټن زموږ شرایط ومني، نو تاسو به ډېر ژر هغه ته وسپارو او بیا به له خیره سره له افغانستان نه ووځئ.» یوه اسیر ترې وپوښتل «ستاسو شرایط څه دي؟» خواب کې یې اکبرخان وویل «اصلي هدف خو مو دا دی چې تاسو ټوله زموږ له هیواد نه ووځئ، خو اوس به وګورو چې ستاسو د مشرانو څه خیال دی.»

لدې وروسته، اکبرخان له خپلو څو یارانو سره پر آسانو د مکناټن سره د ملاقات کولو لپاره روان شو. په لاره کې یې هم فکر پدې بوخت و چې که انګرېز استازي ورسره چانې وهل پیل کړل نو دی به د تبادلې د پیسو شمیر رانیټ کړي، خو پر وسلو به معامله ونکړي. ده له خانه سره دا خبره هم پټبلې وه چې د مکناټن د داډ لپاره به ورته ووایي چې پدغو وسلو به د انګرېزانو په خلاف جهاد کې کار وانخیستل شي. ښایي دا خبره د وسلو په ورکړې کې د انګرېزانو قناعت ترلاسه کړي، خو په هر حال کې پر انګرېزانو یې پوره اعتماد نه درلود.

مکناټن بیا بل ډول فکر درلود. هغه نه د وسلو او نه هم د پیسو ورکړې ته چمتو و. د اسیرانو د برخلیک ټاکلو پر سر ملاقات، د انګرېز استازي لپاره، په اصل کې اکبرخان ته د لاس رسي یوه بهانه وه. مکناټن غوښتل پدې کتنه کې اکبرخان تطمیع کړي، ورته ووایي چې پلار یې، امیردوست محمد خان، له هغه

مکناټن اکبرخان ته لودیانې ته د غواړي چې له بلوا او جګړې لاس واخلي. مکناټن اکبرخان ته لودیانې ته د ورتلو او له خپل پلار سره د یوځای کېدلو وړاندیز هم درلود. که نه تطمیع کېدلو مکناټن د بل اقدام لپاره هم پوره چمتوالی نیولی و.

مکناټن تر اکبرخان دمخه د ملاقات ځای ته ورغلی و. جیوفري او نورو ورته سپارښتنه کړې وه چې د اکبرخان تر رارسېدلو وړاندې، سیمه ښه وارزوي او خان له چاپېریال سره اشنا کړي. د مکناټن جیبي ساعت له غرمې وړاندې ۱۱ بجې ښوولې چې اکبرخان له خپلو پنځو یارانو سره راورسید. آسان یې ودرول او د مکناټن د ډلې په لور په پښو ورغلل.

اکبرخان مکناټن ډېر ژر وپېژند. هغه د پنځو نورو کسانو مخې کې په خورا غرور او پداسې حال کې چې یو لاس یې د پټلانه په جیب کې و، ولاړ و. خو، مکناټن د شپږو راروانو افغانانو په منځ کې د اکبرخان په لټه کې و. افغانان ټول ځنګ په ځنګ راروان و او د ټولو جامې سره ورته وې. د مکناټن سترګې پر یوه خوان ونښتلې. د اکبرخان د اغیزناکو په رنجو تورو سترګو په اړه یې اورېدلي وه چې نظر یې لکه د شاهین تېز و.

«سلام اعلیکم!»

مکناټن وویل «واعلیکم!» او بیا یې په بېړه او یو څه تعجب وپوښتل «ته اکبرخان یې؟» د مکناټن حیرانتیا ډېر لدې کبله وه چې هغه ته اکبرخان ډېر خوان ښکارېد او دومره پوخ یې نه ګاڼه چې په لنډې مودې کې د انګرېزانو او شاه شجاع واکمنی ته جدي ګواښونه رامنځته کړي.

«هو، مکناټن صاحب، زه محمداکبرخان یم. خوشحاله یم چې له تاسو سره د لومړي ځل لپاره وینم.»

تر روغبړ وروسته، دواړه پداسې حال کې خبرو ته کېښناستل چې د هر یوه تر شا دوه کسان ولاړ وه.

مکناټن په سر کې د اکبرخان په توصیف پیل وکړ. د هغه د مېړانې، زړه ورتیا، جنګي تدبیر او مشرتوب ستاینه یې وکړه او بیا یې کرار کرار د خبرو لړۍ د دوست محمد خان په اړه کړه او وې ویل «امیر صاحب ستاسو د کورنی له

نورو غړو سره له لودیانې نه تاسو ته سلامونه رالیږلي او تاسو ته یې بلنه درکړې چې د لیدلو لپاره یې ورشئ. که تاسو اراده وکړئ، موږ به مو د سفر لپاره ښه ترتیبات ونیسو.»

د اکبرخان سر خلاص شو. مکناټن ته یې نیغ په سترګو کې وکتل او ورته یې وویل «زه دلته ستاسو د اسیرانو د خلاصون د شرایطو پر سر خبرو ته راغلی یم. راځئ چې لومړی دغه ستونزه حل کړو او بیا که ممکنه وه، په راتلونکي کې به پر نورو مسایلو هم غږیږو.»

مکناټن د دې ډول ځواب تمه نلرله. خو بیا هم له تطمیع کولو په شا نشو «البته...البته. موږ ستاسو او د امیرصاحب سرلوړي غواړو او ستاسو سره د اوږدمهاله همکاریو لپاره چمتو یو.» او بیا یې په بیړه وویل «اکبرخانه. دا راته روایه چې ته څه غواړې؟ هر څه چې غواړې، موږ به یې درته په برابرولو کې مرسته وکړو. ضرور نده چې ستاسو غوښتنې د جګړې له لارې ترلاسه شي.»

اکبرخان پوهیده چې مکناټن د هغه د تطمیع کولو او خطاایستلو هڅه کوي. نو یې انګریز استازي په غوڅه لهجه وویل «مکناټن صاحب، راځه چې وخت په نورو خبرو ضایع نکړو. آیا تاسو د خپلو اسیرانو د ترلاسه کولو لپاره زموږ له شرایطو سره موافق یاست؟»

د څو شیبو لپاره چوپتیا شوه او دواړو یو بل ته مخامخ په سترګو کې کتل.

مکناټن چې پوه شو د تطمیع کولو له لارې اکبرخان نشي بدلولای نو یې لهجې کې بدلون راووست او په ګواښونکي ډول یې وویل «زه هیله لرم چې تاسو هم هغې تېروتنې ونکړئ چې پلار مو د یو څو مودې لپاره وکړې او بیا سخت ترې پښېمانه شو. د بریتانیا له سترې امپراطورۍ سره د نړۍ هیڅ ځواک نشي جنګیدلی. پر خپل ځان او پر خپلو خلکو رحم وکړه او زموږ له غضب نه بې وساته!»

اکبرخان په ځواب کې ورته وویل «موږ یوازې د خدای له قهر او غضب نه داریږو. ستاسو قهر به پخپله تاسو ته ډېر زیان ورسوي. زه دلته ستاسو د قهرولو

هکله خبرو ته چمتو نه یاست. ښه به
که تاسو د اسیرانو پر
لږاره نه یم راغلئ.
دا غونډه همدلته ختمه کړو.»
وي چې
لدې خبرې سره اکبرخان له ځایه وخوځېد. خو مکناټن پرې غږ وکړ «پر
خای دې کښېنه چړګوړیه! مه خوځېږه!» او بیا یې د سترګو په رپ کې له کېڼ
لستوني نه تمانچه راوایستله او د اکبرخان لور ته یې ونیوله او ماشه یې کش کړه.
مکناټن دا کار په دومره بیړې وکړ چې نه اکبرخان او نه یې شاته ولاړو یارانو
په وړاندې کوم چټک غبرګون وښود.
د مکناټن ګولۍ باید د اکبرخان په تندي لګیدلې وای. خو ته وا چې خدای
اکبرخان ته د انګرېز په ډزو مرګ نه و په نصیب کړی او د مکناټن مرمۍ بنده
شوه او له ډز وروسته له تمانچې نه یوازې سپین لوګی راووت. مکناټن په
وارخطایي کې تمانچې ته وکتل او بیا په یې په بېړه تمانچه پر مځکه وویشتله او
خپل شاته ولاړو سپاهیانو باندې یې چغه کړه «وې ولئ! دا تږوله حرموني
ووژنئ!»
انګرېز استازي په یوه شیبه کې د خبرو او دیپلماسۍ غونډه د جګړې په ډګر
واړوله. چا ټوپک چا توړو ته لاس واچوه او هر چا خپل سیال ته مخه کړې وه.
اکبرخان د مکناټن پسې ورغی او تر څټ یې راونیوه، خو انګرېز استازي
واردمخه خنجر په لاس کې نیولی و او د اکبرخان کیڼ لاس یې په ژوبل کړ.
اکبرخان خو ګامه پر شا شو. لاس ته یې وکتل چې وینې ترې بهیدلې. خو
بیایي په ښي لاس له ملا نه خنجر را-وایست او د مکناټن پسې یې منډه کړه.
لای یو ګام نه واخیستی چې مخې ته یې د انګرېز استازي سر ولوید. اکبرخان په
وارخطایي شاته شو، په هیښو سترګو یې شاوخوا ته وکتل او بیا یې سترګې پر
خپل تکړه انډیوال، بابکرخیل، ولګیدې چې توره په لاس د مکناټن پر مځکه
پروت بې سرې بدن ته ولودرید او د الله اکبر نارې یې وهلې.
د مکناټن له غاړې نه لاهم وینې راخوټیدلې او لاسونه یې او پښې یې کرار-
کرار خوځیدل.

اکبرخان د مکناټن سر ته وکتل. سترګې يې لا هم برانيستې وې او شونډې يې داسې وې چې ګواکې غوښتل يې اکبرخان ته کوم څه ووايي. يوه دقيقه دمخه مکناټن و اکبرخان ته ګواښنه کوله چې خان او ولس د انګرېزانو له قهر نه وساتي. خو اوس يې خپله کوپړۍ د اکبرخان پښو کې پرته وه.

په څو شيبو کې د اکبرخان يارانو د مکناټن دوه ساتونکي ووژل. دوه نور يې سخت ټپي پر مځکه پرېوتل او يوه يې لاسونه پر سر نيولې پر ډاګ پر ګونډو شوی و او نارې يې وهلې. يو غازي ورنږدې شو چې په توره يې ووهي. خو اکبرخان ورباندې ناره کړه چې لاس ونيسي او ژوبل يې نکړي.

اکبرخان د انګرېز استازي د وژلو هيڅ اراده نلرله. هغه دې غونډې ته يوازې د خبرو لپاره راغلی و. خو مکناټن په ډېر حماقت غونډه په مرګوني جګړې واړوله.

د مکناټن له وژنې سره په افغانستان کې د انګرېزانو واکمنې له سياسي اړخه ونړېدله، خو پوځي اړخه لاهم ژوندی وه. د افغانانو او انګرېزانو سياسي جګړه ختمه شوې وه، خو اوس د پوځي جګړې وارې رارسيدلی و.



## مینه

کریستینا او نورو انګرېزو ښځو د اسارات د ژوند له محدودیتونو سره په سختۍ عادت نیوه. له ځای نه نیولې، تر ډوډۍ او آن د افغانانو عاداتو له دوی سره ډېر توپیر درلود. که څه هم دوی ته ویل کېدل چې «میلمانه یاست» خو دوی د میلمنو په څېر کومه خاصه تمه نلرله او په اصل کې لدې کبله لا ډېر خوشحاله وه چې نه زوررول کېدل.

د انګرېزانو لپاره د افغانانو یو کار ډېر ښه معلومیده او هغه د کوټو لاندې تاو خانې وې چې په ژمي کښې یې د کوټو تل ښه تود ساته. انګرېزان چې پر چوکیو او تختونو د ناستې او خوب خلک وه، اوس ورته پر ډاګه مځکه کښیناستلو او ویدیدلو ښه خوند ورکاوه.

د اسیرو ښځو لپاره تر ټولو ستره ستونزه د تشنابونو نشتون و. دوی ته یو کناراب ورښودل شوی و چې رفع حاجت پکښې وکړي. په لومړیو څو ورځو کې هیڅوک له ویرې او کرکې کناراب ته نه تله، خو بلاخره ټول اړ شول چې پکښې ځان له عذاب نه خلاص کړي. د ځان پریولو لپاره هم هیڅ ځای نه و او هیچا هم دوی ته نه ویلي چې که حمام کولو ته یې اړتیا وه، څه باید وکړي.

د نورو لپاره بیا خوراک لوی عذاب و. افغانانو دوی ته سهار گرمې شیدې او وچه ډوډي ورکوله او غرمه او ماښام به یې یا د پسه د غوښو ښوروا یا بل قطعه ورکاوه. که په چوني کې پر انگریزانو د غوښو او شیدو قحطي وه، دلته اسیران له شیدو او غوښو خواتوري شوي وه. افغانانو په لاسونو او په گډو کاسو کې ډوډي خوړله، او اسیرانو ته یې هم د ښوروا و غټې کاسې مخې ته کېښودلې چې وچه ډوډۍ پکښې وږه کړي او بیا یې په لاس وخوري. د یوه بل شي ارزاني هم ډېره وه او هغه چاې وې. بس، دم په دم چاې به راتللې او ورسره به خواږه تلخان وه.

د اسارت اوږدې ورځې په زړه تنگې تېرېدلې. نه کتاب و چې څوک یې ولولي، نه چا سپورټ کاوه او نه هم کومه بله سرگرمي وه چې اسیران بوخت وساتي. ورځې او شپې په بانډارونو او خوشو کیسو تېرېدلې. نږدې ټولو اسیرانو کتابچې او قلمونه لرل او هر چا خپل د هرې ورځې یادښتونه لیکل. دوی به دغه راز ماښام تر ویدیدلو وړاندې، په یوې دایرې کې سره راټول شول، د یو بل لاسونه به یې ونیول او په پټو سترگو به یې دوعاوې کولې چې ژر له اسارت نه آزاد شي.

په تېرو څو اوونیو کې ځینو اسیرانو په دري او پښتو ژبو ځینې ټکي هم زده کړي وه او کله نا کله به یې له افغانانو سره مات او گوډ بانډار هم کاوه. یوه خبره چې ټولو ډېر ژر زده کړې وه او ویل به یې هغه «سلام اعلیکم» او «واعلیکم و سلام» وه.

کریستینا هم ډېر ژر سلام اعلیکم زده کړل. دې دغه دوه ټکي له آکبرخان نه زده کړل چې له هر چا سره د روغبړ په پیل کې به یې ویل. آکبرخان سلام اعلیکم په داسې یوه خاص ډول ویل چې خبره یې په زړه پورې ننښته.

که څه هم چې اسیران ټوله په دوغ آباد کې د امین الله خان یوې غټې کلا نه لیږدول شوي و، خو اکبرخان به پخپله په اونۍ کې یو ځلي د اسیرانو د خبر اخیستلو لپاره هلته ورغی. پدې سترې کلا کې کوټې ښیې وې او د ناستې لپاره د کېنونو تر څنگ کوربچې (دوشکې) هم وې. د کلا کوټې په دوو جلا برخو - د

نارینه او د ښځو - ویشل شوې وې چې په منځ کښې یې دیوال وهل شوی و. د دیوال په منځ کې یو کوچنی دروازه وه چې د کلا له یوې برخې نه به بلې برخې ته تګ او راتګ پرې کیده. د اسیرانو لپاره د کلا تر ټوله په زړه پورې برخه، آن په دې سوړ ژمي کې، د کلا انګړ و چې پکښې د ناجو ډېرې ونې وې. همدغو جګو ناجوګانو، چې په واورو پوښلي هم وې، کلا ته جلا ښایست ورکړی و.
کریستینا به چې کله غوښتل پخپلې کتابچې کې څه ولیکي، نو د کړکۍ مخې ته به کښېنستل او څو شیبې به یې د انګړ ناجوګانو ته وکتل او په فکر کې به ډوبه شوه. که څه هم کریستینا دلته تر پخوانی کلا راحته وه، خو د پوره آرامښت احساس یې نه کاوه. وړمه شپه چې تر ناوخته خوب نه ورتله له ځان سره په شخړه کې شوه. دې چې به سترګې پټې کړې نو اکبرخان به یې مخې ته مجسم شو او بیا به یې سترګې پرانیستلې او له ځان نه به یې وپوښتل چې ولې داسې احساس کوي چې اکبرخان یې یادیږي؟ اصلاً اکبرخان د دې څه کیده؟ عقل به یې کله غږ ورباندې وکړ چې «اکبرخان زموږ دښمن دی. هغه د وحشي بلواګرو مشر دی. هغه به موږ خامخا ووژني.» خو بیا به یې زړه ورپه یاد کړ چې «هغه ځومره ښه او با شخصیته نارینه دی. څومره جذابه دی. هغه د خپل هیواد اتل دی. په رښتیا چې موږ د اکبرخان پر هیواد یرغل کړی.» د عقل او د زړه اختلاف تر ناوخته ویښه ساتلې وه، خو تر پایه څرګنده نشوه چې د زړه خبره یې ومنل که یې د عقل.
تېره ورځ کلا ته یوه بله ډله د اسیرانو هم راوستل شوه. د دوی شمیر زیات و، تر دیرشو ډېرې ښځې او ماشومان وه، او ویل کیدل چې د کابل-ننګرهار په لار د بلواګرو لخوا اسیر شوي وه. کریستینا او خورلنو یې د تازه اسیرانو ډاډګیرنه کوله او هڅه یې کوله چې ورته ووایي چې د امین الله خان په کلا کې حالات ډېر خراب ندي. نویو اسیرانو هم دوی ته د چونې بوږنونکی حال ورکړ چې د بلواګرو تر محاصرې لاندې هر څه پکښې په سختی تېریږي. دوی دغه راز د هغې جګړې حال هم بیان کړ چې روچستر پکښې ټپي شو.

کریستینا په تازه اسیرانو کې له ویکتوریا سره ډېر ژر په خبرو بوخته شوه. دواړې پیغلې وې او د یوه عمر وې. خکه خو د یو بل په خبرو ښې پوهېدلې. ویکتوریا ډېره ویرېدلې وه او کریستینا ته یې د جګړې په میدان کې بر هغې او مور یې د افغان بلواګرو د شخړې کیسه وکړه.

ویکتوریا وویل «که هغه د بلواګرو مشر نه وای. زه او مور به مې اوس ښای ژوندی نه وای. کور دې د هغه زړه ور خوان اباد وي چې مور یې د هغو نورو وحشیانو له منګولو وژغورولو.»

کریستینا ورته وویل «هو. په دوی کې هم ځیني ښه خلک شته. سړی باید خپل ټول امید له لاسه ورنکړي.» بیا یې ورته د اکبرخان په هکله وویل چې څنګه د دې په خبره یو سوچه «جنتلمن» دی او له اسیرانو سره داسې چلند کوي چې ته به وایې چې دوی یې په ریښتیا میلمانه دي.

دواړو پیغلو بیله بانډار بل مصروفیت نه درلود نو څکه خو یې د یو بل د تېر ژوند څه نه نیولې بیا د راتلونکي په اړه ډېرې خبرې وکړې. دوی به د شپې د یو بل څنګ ته پریوتلې او تر ناوخته پورې به یې په ټیټ غږ خبرې کولې. ویکتوریا ورته وویل چې پلار یې غواړي چې دا په لندن کې د یوه مشر لارډ له زوی سره واده وکړي، خو دا یې نه مني. یو ماښام چې نور ټول ویده شوي وه، ویکتوریا و کریستینا ته وویل «دغو تېرو دریو ورځو کې مې له تا نه ډېر د اکبرخان نوم اورېدلی.» او بیا یې په موسکې لهجې وویل «تا خو به زړه نه وي ورباندې بایللی؟»

کریستینا چپ شوه. د یو څو شیبو خاموشی وروسته، ویکتوریا وویل «بخښنه غواړم چې که مې ګستاخي کړې وي. ما هسې ټوکه وکړه. لطفاً جدي یې مه ګڼه!»

کریستینا لکه له ژور فکر نه چې راوتلې وي، په بېړه یې ورته وویل «نه. اصلاً داسې نده. ستا پوښتنې زه وهڅولم چې خپل ریښتوني احساسات ولټوم...زه پوره ډاډه نه یم چې له اکبرخان سره مینه لرم که یې ډېر د شخصیت تر اغیزې لاندې راغلې یم.»

ویکتوریا په تعجب ورته وویل «اوه! ریښتیا وایې؟ نو داسې چې ده زه باید دغه ښاغلی ووینم!»

کریستینا په خندا ورته وویل «که رښتیا ووایم نو زه هم غواړم چې هغه بیا ووینم!»

دوی تر ویدیدلو وړاندې د اکبرخان د لیدلو پر پلان خبرې وکړې.

*********

جبار خان د اکبرخان په خاطر څو ورځې وړاندې ویکتوریا په زوره له ځان سره یونوړه. خو د هغې څېره یې په فکر کې ژوندۍ پاتې وه. تېرو څو شپو کې یې څو ځلې د هغې په هکله فکرونه کړي وه او له ځان سره یې تصور کړی و چې ویکتوریا به کور ته بوځي، ماندینه به یې کړي...آن دا تصور یې لا هم کړی و چې څنګه به هغه ښکلوي، جامې به یې ترینه باسي، سپین تیان به یې کښیکاږي، پر سپینو ورنو به یې لاسونه تېروي او بیا به... دغو تصوراتو به د جبار خان په وجود کې د هوس او جنسي غوښتنې تمایلات دومره څواکمن کړل چې د بدن غړي به یې په رېږدېدلو شول او ساه به یې لنډه لنډه کېدله. جبارخان هغه سړی دی چې د روچستر د کاروان تر ماتې وروسته یې هڅه وکړه چې ویکتوریا په زوره له ځان سره بوځي، خو اکبرخان یې مخه نیولې وه.

جبار خان پدې ښه پوهیده چې اکبرخان سره د ویکتوریا او یا د کومې بلې اسیرې ښځې په اړه نشي غږیدلی چې ده ته یې وسپاري. هغه اکبرخان پېژنده چې د اسیرانو په ساتنې په ځانګړې توګه له اسیرو ښځو سره د چال چلند په چارو کې ډېر جدي و.

تر ډېرو فکرونو وروسته، جبار خان بلاخره پرېکړه وکړه چې ویکتوریا په پټه وتښتوي. د دې کار لپاره یې ټول اړخونه وسنجول چې څرنګه د اسیرانو کلا ته ورشي، څنګه د ویکتوریا پر خولې لاس کښېږدي او بیا یې د خپلو اندیوالانو په مرسته له ځان سره بوځي. دی یو ځلې له اکبرخان سره د اسیرانو کلا ته تللی و او له ټول چاپېریال سره بلد و. د دې کار د ترسره کولو لپاره جبار خان خپل پنځه

نږدې انډیوالان خوره کړل او د پنجشنبې شپه یې وټاکل چې د دوغ آباد په لور به ځي او ویکتوریا به تیښتوي.

د پنجشنبې په مازدیګر په کابل کې بیا د واورې اوریښت پیل شو. نیوه ورځ شین آسمان و، خو نن تکه توره وریځ وه او بیا مازدیګر مهال درنه واوره پیل شوه. د ماخوستن له لمانځه وروسته، جبار خان و اکبرخان ته وویل چې غواړي د یو څو شپو لپاره کور ته ولاړ شي. ورته یې وویل «د کوچنیانو پسې مې ډېر شوی یم او غواړم احوال یې واخلم.» اکبرخان ورته وویل «اوس به همدې شپه ځې؟ خیریت خو به وي؟»

جبارخان ورته وویل «هو، که ستاسو اجازت وي.»

اکبرخان بیا ورته وویل «صبر وکړه چې واوره ودرېږي، سبا ته ولاړ شه.»

خو جبارخان چې خپل پلان جوړ کړی و وې ویل «په اصل کې زما د شپې لخوا او په واوره کې مزل ډېر خوښېږي. نور به رخصت شم.»

اکبرخان د هوکړې په بڼه سر وښوروه او ورته یې وویل «که دي کوم څه ته اړتیا وي راته ووایه، که نه نو پر لوی خدای دې سپارم.»

جبار خان او انډیوالان یې پر آسانو د دوغ آباد په لورې روان شول او اکبرخان د خپل خوب کوټې ته ولاړ.

د پنجشنبې په شپه به د امین الله خان ډېر حاضرباشان او مستخدمین خپلو کورونو ته تلل. هر چا غوښتل چې د جمعې شپه له خپلو کورونیو سره تېره کړي، سبا ته یې حمام وکړي، پاکې جامې واغوندي، د جمعې لمونځ په جماعت وکړي او مازدیګر بیرته د کار ځای ته راستانه شي.

دوغ آباد په توره تیاره او چوپتیا کې ډوب و چې د جبار خان ډله وررورسیده. د کلا دروازې مخې ته ټول له آسانو راکښته شول، آسان یې وتړل، جبار خان له خپلې ملا نه یو خنجر راوایست او په شا یې د کلا دروازه پرې وټکوله. د امین خان درې کلاوې څنګ پر څنګ وي. دغه کلا چې اکثراً به خالي وه، د خان د میلمنو د کلا تر څنګ وه او له هغې نه وړاندې بله کلا وه چې ښځې او ماشومان

پکښې اوسیدل. سرکال ژمی د امین الله خان کورنی په لوگر کې وه او دغه شپه پخپله امین الله خان هم پر کلا نه و. جبار خان د امین الله خان په نشتون خبر و.

پر لومړي او دوهم ځل ټکولو چا دروازه نه پرانیستله تر هغو چې د جبار خان یوه انډیوال دروازې ته یو دروند سوټی ونیوه او په زوره یې وټکوله چې له ها خوا غږ راپورته شو...«څوک یاست؟»

جبار خان خوله دروازې ته نږدې کړه او وې ویل «خلاصه یې کړه. موږ د محمداکبرخان خلک یو او غواړو اسیران ووینو.»

د دروازې له شا نه بل غږ راغی «نوم دی څه دی؟ ولې سهار نه راځئ؟»

«نوم مې شاه محمد دی...موږ یې د یوې بیړنی چارې لپاره رالیږلي یو چې همدا نن شپه باید ترسره شي. موږ پوهیږو چې امین الله خان پر کور نشته، که نه نو لومړی به هغه ته ورغلي وای.»

د دروازې غږ راپورته شو، ور خلاص شو او جبار خان او انډیوالان یې کلا ته ورننوتل. مخې ته یې د کلا درې ساتونکي ولاړ و چې د یوه په لاس کې یې ډیوه وه. واوره لا هم په چټکی اوریدله او په تیاره کې د چا مخ سم نه لیدل کیده.

جبارخان له خپلو دوو انډیوالانو سره د اسیرو ښځو د کوټو په لور روان شو چې د کلا یوه ساتونکي پر غږ وکړ «صاحبه، هغه د ښځو خوا ده. د نارینه و کوټې دې خوا ته دي» او لدې ویلو سره یې د انگړ بلې خوا ته لاس ونیوه.

«موږ پوهیږو. زموږ کار همدې خوا کې دی.»

لدې خبره سره د کلا ساتونکي وارخطا شول. پدې توره شپه کې له اسیرو ښځو سره څه ډول بیړنی کار شته؟

د کلا ساتونکو یو بل ته په هیښنو سترگو وکتل او بیا هماغه سړي وویل «صاحبه، تاسو پوهیږئ چې موږ ته امر شوی چې هیڅ نارینه د ښځو کوټو ته پرې نږدو...تاسو هلته د څه لپاره ځئ؟»

جبارخان له خان سره دا سنجولې وه چې د کلا ساتونکي به دی پرې نږدې چې ویکتوریا له خان سره بوخي. نو څکه یې شاته ولاړو پر خپلو دریو کسانو ناره وکړه چې «دغه سپي ونیسئ!»

تر هغو چې د کلا ساتونکو توري رایستلې د جبارخان کسانو وربانديې برید وکړ. یو یې ځای پر ځای وواژه، بل یې سخت ټپي کړ او دریم چې له لاس نه یې ډیوه غورځیدلې وه، د لغتو لاندې ونیوه. ساتونکي د لغتو لاندې په لوړ غږ په چغو پیل وکړ. جبارخان وویل «خوله یې وربنده کړئ!»

د کلا د ساتونکي نارو د نورو کلاو د ساتونکو پام جلب کړ او د شاوخواوو نه غږونه راپورته شول.

جبارخان چې د کلا د ساتونکي ډیوه یې په لاس کې نیولې وه په بیړه له خپلو دوو انډیوالانو سره د اسیرو ښځو کوټې ته ورننوتل. د اسیرانو غږونه هم پورته شوي وه. جبارخان به ډیوه د هرې اسیرې ښځې مخ ته ورنږدې کړه چې ویکتوریا پکښې ومومندي. په لومړی کوټه کې یې ونه موندل. دوهمې کوټې ته چې تر لومړی ستره وه او ډیرې اسیرانې پکښې وې، ورننوت او په لوړ غږ یې وویل «زموږ په تاسو کې یوه ښځه پکار ده. شورماشور مه جوړوئ کنه ټول به مو تر دې چړې لاندې تېرې کړو» او لدې خبرې سره سم یې خپل خنجر مخې ته ونیوه. لکه چې هیڅوک د ده په خبرو نه وي پوهیدلې، د اسیرانو له کوټې نه د چغو او نارو غږونه نور هم اوچت شول.

جبارخان بلاخره ویکتوریا وموندله او سملاسي یې ورحمله کړه. ویکتوریا لوړه چغه ووهله او په انگلیسي یې ورته وویل « Don't touch me! Leave me alone! Please help» یعني «لاس مه راوړه! پرې مې رده! لطفاً مرسته وکړئ!» د جبارخان او ویکتوریا تر منځ شخړه پیل شوه، ویکتوریا په شاتګ کې په لاسونو او پښو پر جبارخان واري کول او هغه بیا هڅه کوله چې لاسونه یې بند کړي او تر پښو یې ونیسي چې پر اوږه یې کړي.

کریستینا چې تر دې دمه هیښه ولاړه وه، یو ځلي یې په لوړ غږ وویل «نه! پرې یږده!» او بیا یې د جبارخان په لورې ټوپ وکړ او په دواړو لاسونو یې هغه

پوري وهه. جبارخان شاته وکتل او پر خپلو کسانو يې غږ وکړ «ځناورو! څه شي نه تم یاست؟ مرسته راسره وکړئ!» يو کس د کریستینا په لور ورغی او هغه يې له کینې اړخ نه د لاس په يوه وارې پر مځکه واچوله. جبارخان د خپل بل انډيوال په مرسته د ويکتوريا د قابو کولو هڅه کوله خو هغه نه ټينګيدله تر څو چې اړ شو له سوکانو او څاپېړو کار واخلي. جبارخان د ويکتوريا پر مخ او سر څو واري وکړل او هغه پر مځکه ولويده. او بيا ورتيټ شو او پر اوږه يې کړله او په منډو له کوټې نه ووت.

په انګړ کې هم حالات سم نه و. د امين الله خان کسان له نورو کلاو د خپلو انډيوالانو د مرستې لپاره راغلي وه او د انګړ دننه کې نښته پيل شوې وه. د خال خال ډزو غږونه هم راپورته شول خو دا نه وه څرګنده چې څوک پر چا ډزې کوي.

جبارخان د خپلو دوو کسانو په جوپه کې ويکتوريا چې چغې يې وهلې له کلا نه وايستله او له خانه سره يې پر آس کښينوله. دی دومره په بيړه کې و چې سملاسي يې پښې پر آس وټکولې، هی يې کړل او دوو انډيوالانو ته يې وويل چې په انګړ کې پر دريو نورو غږ وکړي چې نښته پريږدي او راوتيښتي.

ويکتوريا سمه په هوښ نه وه. له سر نه يې وينې راتوې شوې وې او تر زنې پورې يې رابهيدلې وې، او اوس يې پر مخ کنګل شوې وې. هرو څو شيبو کې کښې به يې يو ځلې سترګې نيمه روڼې شوې او تر خولې به يې يو غږ راوخوت، خو بيرته به يې سر پر اوږو ولويد.

د امين الله خان د کلاوو د ساتونکو شمير ډېر شوی و او د جبارخان انډيوالان يې تيښتې ته نه پريښودل. يو يې پکښې وژلې و، او دوو نورو لا دننه په انګړ کې جګړه کوله. دوه نور بيا د کلا په دروازې کې له نورو ساتونکو سره لاس او ګريوان شوي وه.

دننه د اسيرانو په کوټو کې هم شورماشور ګډ و. د ښځو او ماشومانو چغو او ژړاوو، نارينه اسيران هم پارولي وه او هغو هم دروازوې ټکولې او په لوړو آوازونو يې کوم څه ويل. د ښځو د کوټې دروازې پرانيستې وې، څو تنې

راووتلي او د نارینه و د کوټې ته په منډه ورغلې او دروازه یې پرانیستله. پدې وخت کې د کلا د دروازې له خوا نه د ډزو غږونه پورته شول. اسیران نه پوهیدل چې څه وکړي. دوی د کوټو مخې ته ولاړ وه او په خبرو بوخت وه چې له غولي نه کوم چا په لوړ غږ یو څه ورته وویل.

د کلا ساتونکو په دوروازه کې د جبارخان یو کس په ډزو وویشت او خای پرخای یې کړ. هغه بل چې کلاته د راننوتلو هڅه یې کوله شاته په تیښته شو. د ننه په انګړ کې هم حالات هغه مهال تر قابو لاندې راغلل چې د جبارخان بل اندیوال هم د یوه ساتول په وار پوړمخې پر مځکه ولوید. او دریم کس توره وغورځوله او لاسونه یې د تسلیمی په بڼه پر سر ونیول.

ګواکې د کلا ساتونکې اوس سم له خوبه راپاڅیدلي وه، هر کار یې په چټکۍ او مهارت کاوه. دوی سملاسي د کلا دروازه وتړله، اسیران یې کوټو ته دننه کړل او د جبارخان وروستی کس یې لاس او پښې تړلې د کلا یوې څنډې ته بوت او پرې چارچاپیره راټول شول.

یوه وویل «موږ باید سملاسي یو څوک ولیږو چې حاجي صاحب خبر کړي.» د کلا مستخدمینو او ساتونکو امین الله خان حاجي صاحب باله. بل بیا وویل «تر څو چې حاجي صاحب ته حال رسیږي، ډېر وخت به تېر شي. باید اکبرخان ته ژر حال ورکړو.» دا خبره نورو هم ومنله چې تر لوګر د خبر رسول ډېر وخت نیسي نو ځکه باید لومړی اکبرخان خبر شي. دوه تنه پر آسانو سپاره شول او د ښار په لور ولاړل چې اکبرخان ته د پیښې احوال ورکړي.

********

کریستینا کرارکرار سترګې پرانیستلې. سر یې ډېر خوږیدی. چپه غوږیچنه یې پرسیدلې وه او پر باړخوګانو یې د نوکانو کرږې لیدل کیدې. دوې ښځې یې څنګ ته ناستې وې چې یوې یې په یوه لوند ټوټکر تندی او مخ پاکوه او بلې یې لاس په خپلو لاسونو کې نیولی و او آرام آرام یې کښیکاږه.

کریستینا په زهیر غږ وپوښتل «څه وشول؟»

ښځګته یې ناستې یوې ښځې ورته وویل «ویکتوریا یې وتښتوله!»

کریستینا په ژړا شوه او په خوږمن غږ یې وویل «اوه زما خدایه!» بیا یې وویل «موږ باید اکبرخان ته خبر ورکړو! وخت باید ضایع نکړو! هیله کوم، که څوک په کلا کې نشته، موږ پخپله باید اقدام وکړو.»

یوې ښځې ورته وویل «همدغه خو د اکبرخان ځناور وه چې ویکتوریا یې بوتله! اوس له هغه نه د څه تمه وکړو؟»

کریستینا په بیړه ورته وویل «نه! زه ډاډه یم چې دا د اکبرخان کسان نه و. ویکتوریا مانه ویلي و چې اکبرخان دا له همدغو کسانو ژغورلې وه.» او د یو څو شیبو لپاره تم شوه او بیا یې وویل «اکبرخان باید سړي ولیږي. هغه به هرومرو ویکتوریا وژغوري.»

کریستینا چې ولیدل هیڅوک یې خبرې ته غوږ نه نیسي نو په یو څه لوړ غږ یې وویل «ساندرا، ساندرا! ته چیرې یې؟ ساندرا!» ساندرا د ویکتوریا مور وه چې د کوټې په یوې خناوې کې نیمه بې حسه پرته وه. هغې د زړه ناروغي لرله او کله چې یې پر پیغلې لور د جبارخان برید ولید، نو بوڅه راوانښتله او له خبرو ولویدله.

که څه هم چې کوټه کې توره تیاره وه، خو په اسیرانو کې شورماشور ګډ و او له هرې خوا نه د ژړاوو او کریږو غږونه اوریدل کیدل. کریستینا په خوارۍ راپورته شوه او د کوټې دروازې ته ورغله او په راسته لاس یې په خپل ټول توان دروازه ووهله او بیا یې ټول خواک سینې ته راټول کړ او په لوړ غږ یې وویل «مرسته! لطفاً دروازه پرانیزئ! لطفاً اکبرخان ته احوال ورکړئ چې غلو له موږ نه یوه ښځه تښتولې. هیله کوم، لطفاً مرسته وکړئ!» کریستینا عمداً څو ځلي نور هم د اکبرخان نوم واخیست چې که د کلا ساتونکي یې په نورو خبرو پوه نشي، نو د اکبرخان په نوم خو به پوه شي او هغه ته به احوال ورکړي.

د سهار آذانونه لا نه وه شوي چې اکبرخان ته د اسیرانو د پیښې خبر ورکړل شو. هغه سملاسي له شاوخوا شلو نورو کسانو سره یوځای د دوغ آباد په لور په

بيره وخوځيد. په لاره کې يې د کلا ساتونکو نه د پيښې پوره جاج واخيست او پدې يې سر خلاص شو چې جبارخان کار کړی دی.

سهار وختي و چې اکبرخان د اسيرانو د کوټې ور وټکوه او بيا يې په لوړغږ وويل «د راننوتلو اجازه غواړم. زه اکبرخان يم.» له څو شيبو ځنډه وروسته يې ور پرانيست او د تل په څير يې وويل «سلام اعليکم!»

اکبرخان چې دوه ياران يې دوو خواوو او يو بل سړی يې شاته ولاړ و، د کوټې په سر کې ودريد او په سترګو يې د کوټې دننه حال واخيست.

«زه، ډېر خواشينی يم چې...» او خبره يې لا نه وه پوره کړې چې له مخامخ نه يې يو څوک په منډه راغله او د ده غيږې ته يې خان واچوه.

«اکبرخانه! ته چيرې وې؟ اکبرخانه!»

د اکبرخان ملګرو چې ګومان کړی و پر هغه بريد وشو نو ډېر ژر سره وخوځيدل چې دغه کس له اکبرخان څخه لرې کړي. خو اکبرخان لاسونه خپل دواړو خواوو ته پورته کړل او پدې توګه يې د نه مداخلې امر وکړ.

کريستينا چې مخ يې د اکبرخان پر ټټر ايښی و نو په لوړ غږ يې په ژړا پيل وکړ. اکبرخان څو شيبې پر ځای لکه ونه وچ ولاړ و او نه پوهيدی چې څه وکړي، خو ورو ورو يې لاسونه لکه بې له ارادې چې وي راپوته کړل او د کريستينا پر سر يې راکش کړل. اکبرخان په کراره کريستينا ته کوم څه وويل او هغې سر راپورته کړ او سترګې يې د اکبرخان په تورو سترګو کې ونښلولې. اکبرخان هم د کريستينا له اوښکو ډکو شنو سترګو ته په څير وکتل او بيا يې د راسته لاس ګوتې د هغې پر تندي راکښ کړې. کريستينا لکه چې د اکبرخان په خبرو پوه شوې وي، لومړی يې سر د هوکړې په بڼه وخوځاوه او بيا ورو-ورو په شا شوله.

دا هرڅه په دومره بيړه وشول چې په کوټه کې د چا سم پام ورته ونشو.

کريستينا چې اوس د اکبرخان مخې کې دوه ګامه لرې دريدلې وه، لکه نوې ساه چې يې موندلې وي په خبرو پيل وکړ «تېرمابنام دلته داړه ماران راغلي وه او

ويکتوريا بې له خان سره بوتله. هغوي درې کسان وه او يوه پکښې ويکتوريا پيژندله.»

«زه پوهيږم. زما نورې خبرې به دی وژباړي.» او بيا يې خپلې شاته ولاړ کس ته په درې وويل «دوی ته ووايه چې موږ سخت خوابدي يو چې پر دوی برید شوی. موږ دا برید پر خپل خان گڼو او تاسو ته ډاډ درکوم چې تيښتول شوې ميرمن به ژر تر ژره او روغه رمټه بيرته درته راولو.»

د اکبرخان خبرو د کوټې په خلکو کې يو ډول آرامښت راوست. ټولو يې خبرو ته په ځير غوږ نيولی و او خبرې يې داسې اوريدلې چې تا به ويل هو به هو باور پرې لري.

خو کريستينا ته بيا د اکبرخان لومړی دوې جملې په زړه پورې وې. هغه په انگليسي دا خبرې وکړې. نو آيا اکبرخان په انگليسي پوهيده؟ دې په په بيره دا پوښتنه ترې وکړه او اکبرخان ورته وويل «هو! لږ-لږ پوهيږم!»

اکبرخان د اسيرانو له ډاډگيرنې وروسته، له ده سره راغلي دوه پل-موندونکي مخې ته کړل چې د جبارخان د آس د پلونو لړی واخلي.

جبارخان ډېر لرې نه و تللې. هغه د ريشخورو په سيمې کې پلرنی کلا لرله او ويکتوريا يې هماغلته بيولې وه. د اکبرخان ډلې د دوغ آباد او ريشخورو تر منځ ۴ - ۵ کيلومتره واټن په دريو ساعتونو کې تېر کړ او تر غرمې دمخه د جبارخان د کلا مخې ته ودريدل.

جبارخان تېره شپه په ډېرو خواريو ويکتوريا تر کلا رارسولې وه. په تياره کې يو ځلې بې حسه شوې ويکتوريا ترينه له آس نه وغورځيدله او د آس يوه پښه يې پر ستونې وختله. د بريتانيا د امپراطورۍ د پارلمان د يوه وتلي غړي نازولې لور چې پر مخې يې وينې کنگل شوي وې، د آس تر پښې لاندې لوړه کريږه وايستله او لکه پيريانو چې نيولې وې، په واورو کې يو ځلې نيغه کښېنستله. تر خولې يې ژړې اوبه راووتلې او بيرته پر شاولويدله.

جبارخان چې ويکتوريا خپلې کلا کې کوټې ته بوتله نو سملاسي يې خوله د ويکتوريا پر شونډو کښېښوده او لدې کار سره سم يې د هغې پر تيو لاسو

کښیکارل. دی سره لدې چې سخت ستومانه و خو تلوسه یې لرله چې همدا نن شپه د دې ښکلې انګریزې پېغلې د بکارت پرده ور څیرې کړي. خو د ویکتوریا له مخ نه د وینو او له ګریوان نه د کې بوي د جبارخان سوږمې وخورولې او په شا یې کړ. جبارخان په هماغه تیاره کې د څو شیبو لپاره د ویکتوریا بې حسه بدن او مخ ته وکتل. او د یو خاص ډول لذت احساس یې وکړ. له خان سره یې وویل چې اوس خو بې ویکتوریا خپله کړې. بیړه به نکوي او سبا ته به ورسره پربوځي.

د اکبرخان کسانو د کلا دروازه په زوره څو خلې وټکوله. جبارخان پڅپله ور پرانیست او سر یې راوایست چې څوک دي. خو لا یې پوښتنه نه وه کړې چې څوک بې چې دوو زورورو لاسونو تر اوږو ونیوه او لکه لکه چوږګوړی د اکبرخان د آس مخې ته یې ودراوه.

اکبرخان پر آس پښه راوګرځول او راکښته شو. «بې غیرته!» او لدې خبرې جبارخان ته په چپه غوږیچینې کلکه څپېړه ورکړه. د جبارخان سره سم یې پر مخکه ولویده، خو هغه ژر مخ راواړوه او وې ویل «خانه! ولې؟ زما څه ګناه ده؟»

«اسیرو او بې وزلو ښځو باندې تېری کوې او راتیښتوې یې، او بیا د ګناه پوښته هم کوې؟ شرم وکړه!» او لدې خبره سره یې جبارخان له ګریوان ونیوه او له غضب نه ډکو سترګو کې یې د جبارخان له ویرې ډکو سترګو ته وکتل.

جبارخان په ویریدلي غږ ورته وویل «نو دا انګریزانو کافرانو چې زموږ پر وطن یرغل کړی، موږ څه ورسره وکړو؟ لاسونه او پښې یې ښکل کړو؟! دوی چې زموږ پت او عزت لوټوي، د هغو غچ به څوک اخلي؟»

اکبرخان ورته په تُنده لهجه وویل «جهاد د خدای او وطن لپاره کیږي، د غچ اخیستلو لپاره نه وي. د بې وزلو ښځو پر عزت یرغل کول، جهاد ندی.»

«ما یرغل ندی کړی. زه غواړم له هغې سره شرعې نکاح وتړم. غواړم خپله ښځه یې کړم. آیا دا ګناه ده؟»

اکبرخان چپ شو. د جبارخان ګریوان یې خوشې کړ.

جبارخان چې پوه شو د استدلال کولو بنه اړخ یې مونډلې نو یې زیاته کړه «زه پر دې انجلۍ مین یم. چمتو یم چې سر پرې ورکړم. اکبرخانه، مینه کول خو کومه گناه نده. ته ووایه چې زه څه وکړم؟»

اکبرخان لاهم چپ ولاړ و.

جبارخان لاس غاړې ته یووړ او وې وویل «دغه غاړه مې رانه پرې کړه. خو پرې مې نږده چې لدغې انجلۍ سره واده وکړم. هیله کوم، له تقصیر نه مې راتېر شه!»

دغه شیبه د جبارخان شاته د کلا له دروازې نه چغې او نارې راپورته شوې او د دروازې له خلاصیدلو سره سم ویکتوریا لوڅ سر او پښې په بُغارو راووتله او مخامخ یې منډې کړې.

انگرېزه پیغله په یوه ساه د اکبرخان مخې ته ودریدله او په ژړاوو کې یې خبرې کولې او بیا به یې لاسونه د جبارخان خوا ته نیول. جبارخان ورټوپ کړل او هڅه یې وکړه چې د ویکتوریا پر خولې لاس ورټینگ کړي، خو د اکبرخان خبرې پر خای میخکوبه کړ «پرې یې ږده! مه یې خوروه!»

اکبرخان له ویکتوریا نه د هغې د کړاو کیسه واوریدله، او بیا یې جبارخان ته وویل «نامرده! نکاح په ایجاب او قبول کیږي، په زور او تیښتولو نه کیږي.»

د اکبرخان په یوې اشارې د جبارخان لاسونه او پښې په پړي کلک وتړل شول او د یوه آس پر شا یې لکه د اوبکو مشک واچوه.

اکبرخان و ویکتوریا ته وویل «زه د جبارخان د کړنې له کبله ډېر شرمنده یم. په اصل کې زه پخپلې میلمه پالنې کې ناکامه شوم. زه د زړه له تله بخښنه غواړم.»

ویکتوریا چې د اکبرخان د خبرو ژباړه اوریدله، نو یې اوښکې نشواې نیولای. هغې دغه ښکلي ځوان ته کتل چې په څومره ادب او مهرباني ورسره خبرې کوي، او نه پوهیدل چې په خواب کې څه ورته ووایي.

اکبرخان ویکتوریا خپل شاته پر آس کښېنوله او د دوغ آباد په لور روان شو.

غازیانو چې اکبرخان ته وکتل نو پوه شول چې هغه سخت په غوسه کې دی. خکه خو هيڅا په لاره کې د خبرو کولو جرعت ونکړ. خو اکبرخان هغومره چې په غوسه و، هغومره په فکرونو کې ډوب و. له ځان سره يې ويل چې له دې بې وزلو اسيرو ښځو سره څه وکړي؟ تر کله يې وساتي او له چا يې وژغوري؟ انگرېزانو د خپلو ښځينه اسيرانو پر سر هيڅ ډول معاملې ته غاړه نه اينبودل. او دی حيرانه و چې څه ورسره وکړي.

اسيرانو چې ويکتوريا وليدله نو د خوشحاليو نارې پرې گډې شولې او ټول پرې راټول شول.

کريستينا او ويکتوريا لکه د اوږدې زمانې نه جلا شوې ميناني يو بل يې په غېږ کې کلکې ونيولې او تر هرڅه دمخه يې وژړل، بيا ويکتوريا ورته وويل «زه اکبرخان له هغه ځناور نه وژغورلم. دا ستا اکبرخان خو په ريښتيا چې ډېر ښه، مهربانه او ښايسته ځوان دی!»

کريستينا ورته وويل «هو! هغه جوړه نلري.» او بيا يې په خندا ورته وويل «پام کوه، هغومره چې ښه دی، هغومره له چانه ژر زړه وړي!»

تر غرمې وروسته، اکبرخان د اسيرانو ځای ته بيا راغی او له ځان سره يې طبيب راوستلی و چې د ويکتوريا د ټپونو درملنه وکړي. دا ښه موقع هم وه چې ويکتوريا ځان اکبرخان ته وروپېژني او د مور او نورو اسيرانو د سپارښتنې خلاف ورته ووايي چې په لندن کې د يوه وتلي انگرېز سياستوال لور ده.

اکبرخان ورته وويل چې دی پوهيدی چې دا اشرافزاده ده.

ويکتوريا ورته وويل «تاسو څنگه پوه واست چې زه اشرافزاده يم؟»

اکبرخان ورته وويل «ستاسو جامې، رويه، او خبرې ټولې دا ښيي چې د بوې درنې کورنۍ لور يې.»

که څه هم اکبرخان له اسيرانو سره ډېرې خبرې نه کولې، په ځانگړې توگه له ښځو سره يې بانډار نه کاوه، خو ويکتوريا ته يې په اوږدو خبرو پيل وکړ. «تاسو خو ډېر شتمن او ځواکمن ولس ياست، ولې پر بې وزلو ولسونو دومره ظلمونه کوئ؟ موږ خو تاسو ته هيڅ زيان نه و رسولی او نه مو هم تاسو ته کوم گوانښ

کړي و. خو تاسو لښکرې راوستې او زموږ هیواد مو ونیوه او یو ګوډاګی مو د شاه په نامه راباندې مقرره کړ. موږ مسلمانان یو او بیا افغانان یو خو له نورو خلکو مو یو ستر توپیر دا دی چې موږ غیرتي خلک یو او پردي هیڅکله نه پریږدو چې پر موږ واکمني وکړي.»

ویکتوریا که له یوې خوا په یوې سیاسي کورنۍ کې رالویه شوې وه او په حالاتو یې سرخلاص و، له بل خوا یې دا هم غوښتل چې له اکبرخان سره خبرې اوږدې کړي، نو ورته یې وویل «موږ د شاه شجاع د مرستې لپاره راغلي یو. شاه د افغانستان رښتونی او حقداره پاچا دی. که شاه موږ ته ووایي چې ولاړ شو، موږ به دلته پاتې نشو. او پاتې شوه د افغانانو خبره، زه به ستاسو د ښېګنې او غیرت تایید وکړم، خو په تاسو کې هم داسې کسان شته لکه هغه یوه چې زه یې تېره شپه وتښتولم.»

د ویکتوریا استدلال د اکبرخان خوښ شو. لومړی خل و چې له یوې پېغلې نه یې داسې خبرې اوریدلې. د ویکتوریا خړو سترګو ته په کتو، اکبرخان په موسکې لهجې ورته وویل «ماشاالله ستاسو پوهه ډېره ده. هغه شاه چې د پردیو پوځیانو په لښکر کې خپل هیواد ته راځي، هغه د پردیو د راوستلو او ایستلو نه واک لري او نه یې هم مشروعیت. که ستاسو هیواد بهرني لښکرې ونیسي او یو ګوډاګی مو پاچا وټاکي، او بیا ووایي چې د همدغه ګوډاګي په بلنه راغلي، تاسو انګرېزان به څه ووایاست؟»

د دوی دواړو مجلس دومره اوږد شو چې کریستینا نور زغم نشو کولای نو خان یې په خبرو کې ورګډه کړ او وې ویل «تر سیاست نورې مهمې خبرې هم شته، مثلا دا چې له اکبرخان نه وپوښتو چې کله به موږ خوشې کوي؟!»

اکبرخان ورته وکتل او په خواب کې یې وویل «تاسو زموږ میلمنې یاست، بندیانې نه یاست. که ستاسو پوځیان وغواړي، موږ به یو ساعت هم تاسو نمې نکړو.» یوه شیبه چپ شو او بیا یې وویل «پدغسې ناامنو حالاتو کې، که تاسو خان کوم بل ځای هم خوندي ګڼئ زه به مو همالته ورسوم.»

ویکتوریا او کریستینا هرې یوې خان اکبرخان ته نږدې احساسوه. کریستینا داګنل چې له ډېرې مودې نه اکبرخان پېژني او ورسره یو ډول اړیکه پالي. هغې داسې احساس کاوه چې اکبرخان د هغې د سترګو په راز پوهیږي. هغې هغه په کتو کې یو راز لیده. خو ویکتوریا بیا کرار-کرار د اکبرخان د شخصیت او پوهې تر اغیزې لاندې راتله. هغې ته اکبرخان یو خانګړی او ډېر نادره سړی ښکارېده چې انسان یې خانته جلبوه. دې له اکبرخان سره فکري تمایل درلود. خو لدې سره سم یې یو ډول عاطفي احساس هم په خان کې لیده. هر خلې چې به یې اکبرخان ته په سترګو کې وکتل، زړه به یې وربېردید او لاسونو کښې به یې ورېښمې وشوې.

یوه ورځ وروسته چې د ویکتوریا روغتیا ښه شوه، نو مور یې ورته وویل چې لندن کې خپل پلار ته لیک ولیکي او له حالاتو یې خبر کړي. ویکتوریا لیک په هماغه اشرافي انداز کې پیل کړ او پلار ته یې ولیکل «زموږ د ستر تمدن نښې دلته هیڅ نه لیدل کیږي. یوه سمه ودانۍ هم نشته، سړکونه نشته، پارکونه نشته، ښځې پټ مخ ګرځي، او په هرې خوا کې بې وزلي او جهالت خپاره دي.» خو بیا یې لکه چې د اشرافیت انداز ورځیني پاتې شو وې لیکل «خو د دې ځای خلک په زړه پوري دي. ځیني پکښې پوره لیونیان دي او لکه د وحشیانو داسې ژوند او چلند کوي، خو ځیني پکښې بیا دومره مهربانه او ښه دي چې انسان غواړي په غیږ کښې یې ونیسي. هر څه دلته په افراط کې ښکاري - کرکه، مینه، ښه او بد - او اعتدال او انډول پکښې نشته.» لیکنه یې ودروله او په فکر کې شوه چې آیا پلار ته د اکبرخان په اړه ولیکي که نه، او بیا یې په لیکنې پیل وکړ «د یاغیانو مشر یو ځوان سړی دی - اکبرخان. ښایي د شلو یا یوویشتو کالو وي، خو په خپلو پلویانو کې ډېر محبوبیت لري او هیڅوک یې له خبرې نه اوړي. دی په رېښتیا چې یو ښاغلی (جنټلمن) دی او له ښځو سره په ډېر ادب او مهرباني چلند کوي. انسان حیرانه کیږي چې پدې بې تمدنو خلکو کې هم د اکبرخان په څیر داسې کس پیدا کیږي چې آن موږ ترېنه کولې شو د ښو اخلاقو

خو به په خانګړي توګه په شاهلیتوب کې له ده نه زده کړه وکړو. د لندن هلکانو

ډېر څه زده کړي. او بیا یې د مور د روغتیا په اړه ورته ولیکل.

هغه مهال چې ویکتوریا دا لیک لیکه، هیڅوک نه پوهیدل چې دا لیک به یوه ورځ د بریتانیا په شاهي آرشیف کې د راتلونکو نسلونو د پوهې لپاره وساتل شي.

عجیبه خو لا دا وه چې کریستینا هم په همدې ورځ په کندهار کې خپل پلار ته لیک ولیکه او په هغه کې د اکبرخان یادونه هم وکړه. دې انګرېزې پیغلې هم د اکبرخان د اخلاقو، پاک لمنی او شخصیت ستاینه وکړه او پلار ته یې ولیکل چې پخپل په ژوند کې یې د دغه راز اوصافو نارینه نه و لیدلی.

اکبرخان له هرڅه بیخبره و. هغه نه پوهیده چې په خپلو تورو سترګو او کرکټر یې د دوو انګرېزو پیغلو زړونه ګټلي دي. ده ویکتوریا او کریستینا ته د ښځینه میلمنو په سترګه کتل - په اصل کې خو یې دوی ته نه کتل او هڅه به یې کوله چې مخامخ ورته ونګوري.

اکبرخان میرمن لرله چې نازنینه نومیدله. میرمن یې یوسفزۍ وه او په عمر کې تر ده پنځه کاله کوچنۍ وه. اکبرخان په اصلي او ژوره مانا کې آن له خپلې میرمنې سره هم مینه نه لرله. میرمن یې ورته ماشومه مالومیده چې نه د مینې په مانا پوهیده او نه یې د مینې خواب په مینه ورکولای شو. لکه د خپل مهال د نورو اړیکو په ډول، د اکبرخان او نازنینې واده هم د کورنیو په انتظام او مصلحت شوی و نه د مینې له مخې.

د اکبرخان ټول فکر په جهاد کې و. شپه او ورځ یې د انګرېزانو د ماتولو او د یوه سوچه، مسلمان او ولسپاله نظام په جوړولو فکر کاوه. خو که د اکبرخان فکر ټوله په جګړې او وطن کې ډوب و، ځوان زړه یې د مینې په لټه کې و. په ښل کلنۍ کې به ځوک مینه نه غواړي؟

هغوي چې په زړه کې مینه لري، نو ډېر ځلې پر یوه انسان یې لګوي -له بوه انسان سره لیونۍ مینه کوي. خو د اکبرخان مینه پر یوه انسان نه وه راټوله. زړه یې له مینې ډک و، او هغه خپله مینه، د یوه انسان پر ځای، پر ډېرو خلکو لګوله.

دی د هغو لږو انسانو نه و چې مینه یې د داسې یوه کان په څیر وه چې هرڅومره ډېر چې به یې کاروله، دوه چنده به نوره زیاتیدله.

له هغه وروسته چې اکبرخان اسیران له دوغ آباد نه ده افغانانو کې خپل استوګنځاي ته نږدې ځای پر ځای کړل. نو څو ځلې نور هم له ويکتوريا او کریستینا سره په اوږدو خبرو بوخت شو. دوی جلا له دې توپیر نه چې څوک انګرېز دی، څوک افغان دی یا څوک یرغلګر دي، څوک مظلومه دی. له سیاست نه نیولې تر ټولنې او آن د دین او مذهب په هکله وغږېدل. د دوی اندونه کله ډېر سره لرې، کله ورته وه. د دوی تر منځ ډېر اختلاف په سیاسي مسایلو کې و، خو لږ تفاهم یې پر ټولنیزو او دیني - هو دیني - بحثونو کې درلود.

ويکتوريا په بحثونو کې تر کریستینا تکړه وه او په خبرو کې به یې د وتلو اروپايي پوهانو د لیکنو یادونه کوله. هغې آن په اسلامي چارو کې هم معلومات لرل او د اسلامي خلافت پراختیا یې په نړۍ کې د اروپايي تمدن پراختیا ته ورته کار باله. کریستینا که په سیاسي او فلسفي خبرو کې ډېره ماهره نه وه، خو په ټولنیزو او هنري خبرو کې ډېره ژبوره وه او په آسیا کښې د ټولنیزو نیمګړتیاو، شاته پاتې دودونو، شعرونو او ورته نورو مسایلو باندې ښه غږیدله.

یوه ورځ په خبرو کې کریستینا ناببره له اکبرخان نه وپوښتل «ستاسو نظر د مینې په اړه څه دی؟» لدې خبرې وروسته یې په بیړه سترګې له اکبرخان نه واړولې او ويکتوريا ته یې وکتل چې په هیښنو سترګو یې هغې ته کتل.

اکبرخان ستونې صاف کړ او یو څه موسکی شو او بیا یې وویل «مینه د انسان په روح کې د خدای نښه ده. خدای د انسانانو په زړونو کې مینه ایښې چې د هغه مهرباني وپیژني. بې مینې انسان، له خدای سره اړیکه نلري، او د هغه چا چې په زړه کې ډېره مینه وي هغومره خدای ته نږدې وي.» مکث یې وکړ او بیا یې وپوښتل «تاسو مینه څنګه تعریفوئ؟ موږ آسیایان خو تاسو ته نیمه انسانان ښکارو.»

کریستینا هینبه پاتې وه چې څه ووايي. اکبرخان د مینې دومره ښکلی او پاک تعریف ورکړی و چې دا نه پوهیده څه ډول یې ځواب ورکړي. هغې ویکتوریا ته وکتل چې مرسته ورسره وکړي او یو ډول علمي ځواب ورکړي. او چې له هغې یې څه وانوریدل نو وې ویل «موږ مینه په رومانتیک انداز کې ارزوو چې دوه انسانان یې له یو بل سره کوي. البته مینه د ګڼو انسانو تر منځ هم وي لکه پر مور او پلار چې اولادونه ګران وي، خو اصلي مینه د دوو انسانانو تر منځ د زړونو رابطه وي.»

اکبرخان وویل «په زړه پورې ده.» بیایې مخ د ویکتوریا لور ته کړ او ترې وپوښتل «تاسو څه فکر کوئ؟»

ویکتوریا هم لکه چې همدغې پوښتنې ته په انتظار وه سملاسي یې په خبرو پیل وکړ «زما له انده مینه یوه غیرارادي انساني عاطفه ده چې کېدای شي په هره بڼه کې راځرګنده شي او زور واخلي. اړینه نده چې مینه یوازې د انسانانو تر منځ وي، بلکې انسان کېدای شي له طبیعت سره مینه وکړي یا آن ښایي له موهوماتو لکه خدای سره مینه وکړي. انسان نه خدای ویني، نه یې اوري او نه یې لمسولی شي، خو مینه ورسره کولی شي او...»

اکبرخان یې خبره ور پرې کړه «نو، آیا مینه څو ډوله ده؟»

ویکتوریا ورته «هو، یوه رومانتیکه مینه ده چې نن سبا په اروپا کې ډېره عامه ده، بله فلسفي او فکري مینه ده چې نوښتګر او نابغه ګان یې له آثار او هنرونو سره لري او داسې نور.»

اکبرخان ورته وول «زه فکر کوم چې مینه یوه ده، خو موږ انسانان ورته بیلابیل نومونه ورکوو. د هرې مینې ریښه د زړه په تل کې وي او انسان یو زړه لري.»

اکبرخان چې به په دې ډول بحثونو کې ګیر شو نو د وخت حساب به ترې پاتې شو. هغه له علمي او منطقي بحثونو سره ډېره مینه کوله او چې پدې ډول خبرو کې به ونښلید، نو هیچا به نه ګڼل چې دی داسې یو تکړه سپهسالار او ستراتیژیست دی چې د بریتانیا وتلي جنرالان ترینه ډاریږي.

ښايي د انګرېزانو پوځي يرغل. د هيواد کړکيچنو حالاتو او ديني. ولسي او تولنيزو مسوولیتونو دی د جګړې ډګر ته بیولی و. خو داسې حالات نه واې اکبرخان به ښايي يو ستر ليکوال او فيلسوف شوی واې - هغه د اکبرخان په خبره چې مينه له يوه زړه راوخي خو پر هر شي يا چا خپرېږي. استعداد او نبوغ هم له يو فکر او وجود نه رامنځته کېږي او بيلابيلو کړنو کې عملي کېږي.

يوه ورځ ويکتوريا ترې وپوښتل «لومړی خو دا ناممکنه ښکاري، خو که يې فرض کړو چې تاسو زموږ پوځيانو ته ماتې ورکړئ او له افغانستان نه يې وشړئ. تاسو بيا څه کوئ؟ آيا ته به پاچا شئ؟»

اکبرخان ورته وويل «موږ مسلمانان توکل پر خداې کوو. هغه چې هرڅه پېښېږي وه، هماغسې به کېږي.»

ويکتوريا ورته وويل «يعني تاسو پخپله د راتلونکي لپاره هيڅ پلان نلرئ؟ دا خو ډېر غيرمسوولانه ښکاري!» لدې خبرې سره، ويکتوريا داسې احساس وکړ چې يو ډول ګستاخي يې وکړه نو ژر يې وويل «بخښنه غواړم. منظور مې دا نه و چې ګواکي تاسو نامسووله ياست...»

اکبرخان ورته وويل «هيله کوم. بخښنې ويلو ته اړتيا نشته. زموږ د ژوند ډېر اړخونه تاسو ته عجيبه او له اروپايي فکر سره په سمون کې نښکاري، خو موږ همدغه ډول خلک يو. تاسو د واک، شتو او ماديانو پسې هڅېږئ، خو موږ د خداې، معنوياتو او ډېر نورو داسې شيانو پسې يو چې تاسو يې موهومات بولئ.»

«خو دا زما د پوښتنې ځواب نشي کېدای.»

«ښه نو، لومړی خو ماته د انګرېزانو د پوځ ماتول ناممکنه خبره نه ښکاري. هيڅ داسې ځواک نشته چې د ماتيدلو امکان يې نه وي. دوهم دا چې، زه د پاچاهۍ په لټه کې نه يم. ښايي که بخت مې ښه و، يوه ورځ به مې خپل پتمې وي چې پکښې يې وکرم او خپله حجره به مې وي چې پکښې ليک و لوست وکړم.»

د همدغو خبرو په لړ کې و چې اکبرخان د انګرېزانو په اړه خپله پوهه ډېره زیاتوله او کریستینا او ویکتوریا بیا د دې افغان سردار د شخصیت او فکر په ژورو نورهم پوهیدلې. پدې ترڅ کې د دغو دواړو انګرېزو پیغلو په زړونو کې کې اکبرخان ته درناوی نور هم ډېر شو. او بل لور ته بیا د کریستینا او ویکتوریا دواړو احساسات او عواطف د اکبرخان په وړاندې شدیده شول. دوی د یو بل په احساساتو هم پوه شوې وې او هرې یوې هڅه کوله چې تر بلې ډېر د اکبرخان پاملرنه ځانته جلب کړي. په اصل کې خو د دوی تر منځ یو ډول سیالی رامنځته شوې وه.

ددوی دریو غونډې او بحثونه نورو اسیرانو ته هم په زړه پوري وه او ډېر نور به هم پرې راټولیدل چې د اکبرخان خبرې واوري. اسیرانو ته تر نور هرڅه ډېر دا په زړه پوري وه چې اکبرخان - چې دوی خپل سخت دښمن باله - له دوی سره پداسې انداز کې بحث او خبرې کوي چې اصلاً چا ته دا فکر نه پیدا کیده چې دی دې د انګرېزانو خلاف د افغان یاغیانو مشر وي. دغو اسیرانو هم له لندن نه نیولې تر بریتانیې او آن د کابل په پوځي چوڼۍ کې خپلو خپلوانو ته لیکونه لیږل او هرچا هرومرو د اکبرخان یادونه کوله.

یوې ښځې خپلې خور ته لیکلي وه چې «موږ دومره د اکبرخان د شخصیت او روبې تر اغیزو لاندې راغلي یو چې د هغه له راتلو سره د دې پر ځای چې باید وارخطا شو او وډاریږو، خوشحاله کیږو او هر یو روغبړ ورسره کوو. هغه واقعاً ډېر ښه انسان دی، خو له بدغه مرغه چې زموږ سره په ټکر کې دی.»

بلې ښځې په بریتانیا کې خپلې مور ته ولیکل «اکبرخان عجیبه کریزما لري. زموږ حویلې ته د هغه له راتلو سره لکه پر ټولو چې سحر او جادو خپور شي، هرڅوک غواړي له هغه سره هم کلامه او هم سخنه شي. دی جګ قد لري، توره ږیره یې پر غنم رنګي مخ ځلیږي، تکې تورې سترګې یې لکه انسان چې په غشي ولي، او لدې ټولو سربیره ډېر مهربانه او خوږژبی دی. کشکې دی زموږ دښمن نه وای.»

یوه ورځ له اکبرخان سره تر خبرو وروسته، کریستینا و ویکتوریا ته وویل «ته
څه کوئ! داسې ښکاري لکه چې اکبرخان سره دې مینه پیدا شوې! چې خبرې
کوې سترګې دې ترې نه خیږې او له شونډو نه دې موسکا نه راټولیږي.»
هغې ورته وویل «عجیبه ده. ما غوښتل همدغه خبره تا ته وکړم!»
کریستینا ورته وویل «ریښتیا وایې؟»
«هو، د هغه له راتلو سره دې د ښې رنګ واوړي او له سترګو دې مینه
اوري.»
«آه، ویکتوریا ته خو ډېره رومانتیکه راوختې! نه ګرانې، په ما کې داسې څه
نشته، خو زه دا هر څه په تا کې وینم.»
ویکتوریا په ګوتو خپلې سترګې کښیکاږلې او بیا یې په خندا وویل «آه،
سترګې یې انسان ښکاروي! دا څه ډول کتل دي چې هغه یې کوي؟ انسان
څنګه زړه ورته ټینګ کړي؟»
«وګوره! ما همدغه لیدل! تا خو په ریښتیا چې پر اکبرخان زړه بایللی.»
ویکتوریا بیا هم په خندا ورته وویل «زړه نه. فکر یې رانه وړی!»
کریستینا د ویکتوریا له خبرې خوشحاله نه وه. که څه هم چې د هغې او
اکبرخان تر منځ هیڅ کومه عشقي اړیکه نه وه، خو هغې اکبرخان د ځان ګڼه او
فکر یې کاوه چې یوازې دا ورسره د مینې کولو حق لري.
ویکتوریا اشرافزاده وه، پلار یې لوی سیاستوال و، او په کړو-وړو کې هم، د
ډېرو له نظره، تر کریستینا ښکلې وه. د هغې بله ستره ځانګړنه دا وه چې تر
کریستینا یې ډېر درس ویلی و او په سیاسي او علمي خبرو یې ښه سر خلاصیده.
دغو ټولو ځانګړنیاو کریستینا وارخطا کړې وه. د دې لپاره چې تر ویکتوریا وار
دمخه کړي، او یا پدې خاطر چې د ویکتوریا او اکبرخان تر منځ د مینې د
راټوکیدلو مخه ډب کړي، کریستینا په همدې ماښام اکبرخان ته لیک ولیکه او
په هغه کښې یې د خپلې مینې اظهار ورته وکړ.
«تاسو زموږ په ضد جګړه کوئ او غواړئ چې موږ مو له هیواد نه وشړئ،
خو یوه زه یمه چې له تاسو سره سوچه مینه لرم. زه پوهیږم چې دا مینه له عقل

سره هیڅ سمون نلري، خو مینه پخپله کله د عقل زیرنده ده.» کریستینا چې له خو مودې راهیسې یې د پښتو خو ټکې زده کړي وه د لیک په یوې برخې کې یې په پښتو ولیکل «ګرانه اکبرخانه! له تا سره مینه لرم!»

اکبرخان د دې ډول لیک هیڅ تمه نلرله. هک پک شوی و چې دا څه لولي. یو څه یې د خجالت احساس وکړ. اکبرخان پوه و چې دی د تاریخ په یوې ډېرې حساسې شیبې کې یوه ډېره مهمه دنده لري. وطن، مجاهدین او آن راتلونکي نسلونه به ده ته په کومو سترګو ګوري؟ د دین او وطن د جګړې په منځ کې، آیا دی د دښمن له یوې پیغلې سره د مینې کولو حق لري؟ دې پوښتنې ته د اکبرخان خواب غوڅ «نه!» و. اکبرخان یو خلي هم کریستینا ته د مینې په سترګه نه و کتلي او هیڅکله یې هم په فکر کې دا نه و ورګرځیدلي چې له هغې سره مینه وکړي.

که انګریزانو د خپل ژوند د هرې شیبې یاداښت لیکه او بیا یې ساته، له بده مرغه، افغانانو هیڅ دغه ډول نظم نه درلود. اکبرخان هم د کریستینا لیک څیرې کړ او بیا یې د کوټې په څنډه کې بل نغري ته واچوه.

له ځان سره یې هوډ وکړ چې نور به له اسیرانو سره باندار او بحث نکوي. یو ځلي یې په فکر کې ورګرځیدل چې کریستینا ته لیک ولیږي او پکښې ترینه بخښنه وغواړي چې نشي کولای ورسره مینه وکړي، خو دا کار یې هم ونکړ.

اکبرخان خپله ټوله پاملرنه او انرژي په کابل کې د انګریزانو د چونې لور ته کړله. له ځان سره یې وویل «دا جګړه باید ډېر ژر ختمه شي.»

کریستینا هم د خپلې مینې ځواب وانخیست او هم پدې پوه شوه چې اکبرخان نور د اسیرانو کلا ته نه راځي. دا سخته اندیښمنه شوه خو پوهیدله چې څه یې په وس کې ندي. ویکتوریا خو ځلې ترینه وپوښتل چې ولې اکبرخان نه راځي، خو دې یې پدې هکله خبرې په یوې نه یوې پلمې تېرولې.

که کریستینا ناهیلې وه، ویکتوریا بیا اندیښمنه وه چې ولې اکبرخان د دوی لیدنې ته نه راځي. درې ورځې یې صبر وکړ، او په څلورمه ورځ دې هم لیک ولیکه.

«اکبرخانه! هیله لرم چې زموږ آزادو بحثونو تاسو ته یاست خوابدی کړی.
موږ اروپایان د نیوکو او آزادو بحثونو ستر زغم لرو او د نظر اختلاف ته درناوی
کوو. که زموږ خبرو کې تاسو ته کوم څه نا مناسبه ښکاره شوي و او یا یې تاسو
زوروللی یاست، زه یې له کبله بخښنه غواړم.» او بیا یې د لیک په پای کې د دې
لپاره چې په نامستقیمه توګه اکبرخان ته د بیا راتلو بلنه ورکړي وې لیکل «البته
زموږ بحثونه بشپړ شوي ندي او زه سترګې په لاره یم چې خپلو خبرو ته ادامه
ورکړو.»

اکبرخان د ویکتوریا لیک ولوست. خو د هغه لپاره د بر نور مهم کارونه مخې
ته پراته و.



## جګړه

جنرال الفنستون ته د افغانستان هر څه بدشګومه ښکاریدل. له هماغې ورځې چې ده په افغانستان کې پښه ایښې وه، ښه یې نه و لیدلي. حالات ورځ تر بلې ورته وران ښکاریدل. مکناټن، جیوفري او ده د حالاتو د قابو کولو لپاره د هیڅ ډول هلوځلو سپماوی نه و کړی، خو لکه دوی چې په کوم بد طلسم او جادو اخته شوي و چې د هر کار او پلان پیل به یې وکړ پایله به یې خامخا ورانه او ناوړې وه.

الفنستون له ساړه ژمي نه هم کرکه لرله او سږکال خو بیا د کابل ژمی مرګونی سوړ و. دغه نازولي انګرېز جنرال تېرې درې اونۍ په ذکام او ټوخي کې تېرې کړې وې او لدې کبله چې سیګار یې ډېر څکول، نو ټوخی یې دومره ډېر شوی و چې له هر ټوخ سره به یې سینه خوږیده. هر ځلې چې به یې سخت وټوخل او ګړوبې به یې له سینې نه ستوني ته راټوپ کړل، له جیب نه به یې به بیره خړ رنګې غټ دستمعال راوایست او خولې ته به یې ونیوه او ګړوبی به یې پکې پټ کړ. دی به چې له ټوخي خلاص شو نو په نسبتاً لوړ غږ به یې وویل «افغانستانه، دوږخ یې دوږخ!»

د مکناټن تر وژل کېدلو وروسته، ایلدرد پوټینګر د انګرېزانو د سیاسي استازي په توګه وټاکل شو. د حالاتو د قابو کولو لپاره الفنسټون، پوټینګر او جیوفري څو خلي غونډې وکړې، پلانونه یې وسنجول، توطیې او چلوتې یې سمبالې کړې، خو هر خلي به ناهیلي شول. الفنسټون به هر خلي جیوفري ګرم باله او پړه به یې پر اچوله چې سم استخباراتي پلان نه جوړوي او هسې پیسې پر خلکو ویشي.

خو یوه ورځ یې تر خولې و جیوفري ته راووتل «زه فکر کوم چې په همدغه لعنتي وطن کې به زما او ستا زوال کېږي.»

الفنسټون او جیوفري له شاه شجاع سره هم خپلې اړیکې تقریباً شلولې وې. د دې کار دوه لامله وه. لومړی دا چې انګرېزانو په ټولیزه توګه پر افغانانو باور نه درلود. دوی افغانان درواغجن، چلبازه، او ډېر زیات بې اصوله خلک ګڼل او پر هیڅ خبرې او ژمنې یې باور نه کاوه. دوی به ایله له افغانانو سره سر خوځاوه خو په زړه کې به یې ویل «پېژنو مو چې څومره درواغجن او خاین خلک یاست!» ډېر شمېر افغان ملکان، خانان او نور مشران به چې انګرېزانو ته راغلل نو غوره مالیانې به یې کولې، د خدمت کولو لاپې به یې وهلې او پډې ډول به یې له انګرېزانو نه یو څه پیسې یا نور سوغاتونه او امتیازات واخیستل، خو کله به چې د دوی د کار او خدمت واری راورسید نو تري تم به شول. بیا چې به راڅرګند شول نو زر ډوله بهانې به یې کولې او قسمونه به یې خوړل چې دوی پر حقه دي.

دوهم لامل دا و چې الفنسټون او جیوفري ته راپور رسیدلی و چې شاه شجاع خپل ماغزه له لاسه ورکړي او سوچ-پوچ لیوني شوی دی. دا راپورونه له هغه وروسته راغلل چې شاه څو لیکونه د انګلستان ملکې، ویکتوریا، ته ولیږل. پدغو اوږدو لیکونو کې شاه ته چې هر څه په فکر ورتلل هغه به یې لیکل. په یوه لیک کښې یې د انګلستان ملکې ته لیکلي وه چې «ما تېره شپه د اسلام ستر پیغمبر محمد (ص) په خوب ولید او هغه راته وویل چې سلامونه یې تاسو ته

ستاسو په مرسته به مسلمانان او مسیحیان سره وړاندې کړم او درته ووایم چې ستاسو په مرسته به مسلمانان او مسیحیان سره یوځای شي او ټوله نړۍ به فتح کړي.»

په بل لیک کې شاه د انګلستان ملکې ته د مثنوي معنوي څو شعرونه لیکلي وه او په پای کې یې ورته لیکلي وه چې «که تاسو اعلیحضرت په اسلام مشرفه شئ نو د دې دنیا سربېره به هغه دنیا کې هم د مومنانو ملکه شئ!»

او په یوه بل لیک کښې یې ملکې ته په ناخرګندو او پیچلو عبارتونو کې یو ډول د مینې اظهار کړی و او لیکلي یې وه «ستاسو د ښایست وړانګې پر ټول جهان خپرې دي او آن زه یې دلته په کابل کې سوځلی یم. د شپې خوب او د ورځې خوراک نلرم.»

د شاه شجاع لیکونه دومره بې مفهومه او سپک وه چې د ملکې دفتر امر کړی و چې د شاه لیکونه دې د بوکینهام ماڼۍ پر ځای مستقیما سلطنتي آرشیف ته ولیږل شي.

د انګلستان ۲۱ کلنې ملکې، ویکتوریا، ایله څو میاشتې دمخه واده کړې و او امیندواره وه چې د شاه شجاع لیکونه ورته رارسیدل. د ویکتوریا د لور (چې هغه یې هم ویکتوریا نوملې وه) تر زیږیدلو وروسته په یوې میلمستیا کې ملکې په ټوکو میلمنو ته وویل «داسې ښکاري چې زموږ د امپراطورۍ له پراختیا سره به نړۍ کې زما د مینانو شمیر هم زیاتیږي، اوس دا دې د افغانستان امیر هم ماته د مینې لیکونه رالیږي.» د ملکې لدې خبرې سره ټولو ډېر وخندل.

څو شیبې وروسته چې د میلمنو بیلابیلو ډلو خپل تر منځ خبرې کولې، په یوې ډلې کې د ملکې د خبرې په لړ کې یوه چا وویل «د افغانستان امیر به رېښتیا چې سوج لیونی دی. امیر چې یې داسې دی، فکر وکړئ چې نور افغانان به څه ډول لیونیان وي!» د دې خبرې وروسته د خنداو په منځ کې یوه چا په لوړ غږ وویل «خو، زه بل ډول فکر کوم. په افغانانو کې ښایي تر موږ ښه ښاغلي هم وي!» ټول چپ شول او لارد لنکستر ته یې په حیرانتیا کتل چې دایې څه وویل. آیا دی شرابو بیخوده کړی و چې دا خبره یې وکړه؟ یا یې سخته بې خونده ټوکه وکړه؟

لارد لنکستر لکه چې د میلمنو د هیښو کتو ته پوهیدلی وي، ورته وویل

«ملګرو ! زه نشه نه یم. جدي خبره کوم.»

مخې ته یې یوه ولاړ سړي ورته وویل «داده یې چې توکې نه کوئ؟»

«سل په سلو کې.»

«څنګه په دومره ډاډ خبرې کوې چې پخپله دې یو افغان هم ندی لیدلی؟»

«زما لور او میرمن د افغانانو سره اسیرې دي او دوی ما ته لیکلي چې یاغیان څنګه چال چلند ورسره کوي. لور مې، ویکتوریا، راته لیکلي چې د یاغیانو یو خوان مشر دی چې په ښاغلیتوب کې آن د لندن څوانان ترینه ډېر څه زده کولې شي. زه مې د لور پر پوهې او شناخت کلک باور لرم.»

په میلمنو کې یوه ورته وویل «لارد لنکستره، بخښنه غواړم خو فکر نکوم چې د آسیا او افریقا جاهله او بې تمدنه ولسونه دې زموږ سره پرتله شي.»

لنکستر ورته وویل «ما هم ولسونه ندي سره مقایسه کړي. په ولسونو کې مې د ښو او بدو انسانانو د شتون خبره کړې.»

میلمنو نور پر دې موضوع خبرې ونکړې او نه هم چا د ویکتوریا په لیکونو کې د ستایل شوي اکبرخان نوم وپوښت.

د انګرېز امپراطورۍ په پلازمینه کې افغانستان یو نیول شوی هیواد ګڼل کیده. انګرېز سیاستوال او چارواکي پدې نه وه خبر چې په کابل کې د دوی یرغلګر پوځ د یوه ستر ناورین مخې ته ولاړ دی. دوی د جنرال الفنستون په وړتیا او مشرتوب پوره باور درلود او اټکل یې دا و چې په کابل کې رامنځته شوې بلوا به ډېر ژر وځپل شي.

خو په کابل کې بیا الفنستون ته حالات بل ډول ښکاریدل. هغه دې پایلې ته رسیدلی و چې نور دلته پاتې کیدلای نشي او باید د وتلو پلان جوړ کړي.

په چونۍ کې د قحطۍ ویره خپره شوې وه څکه غازیانو د اکمالاتو ټولې لارې بندې کړې وې. ساړه ژمي هم د نورو سختیو او بدو حالاتو شګون ورکاوه. لوږې، سړو، ناروغیو او پله پسې پوځي ماتو، انګرېز جنرال الفنستون ته بله هیڅ لاره نه وه پرایښې مګر دا چې له افغانستان نه پوځیان وباسي.

 ناست شاه شجاع سره مشوره وکړي

الفنستون بیله دې چې په بالاحصار کې ناست شاه شجاع سره مشوره وکړي

یا بې خبر کړي، اکبرخان او امین الله خان ته احوال ولیږه چې دی چمتو دی

چې له افغانستان نه د انګریزانو پر وتلو خبرې وکړي. شاه شجاع هیڅ باور نه

کاوه چې انګریزان به په یوازې او بې له دې نه چې له ده سره سلامشورې وکړي،

له یاغیانو سره مذاکرات وکړي. خو انګریزانو ته سیاسي تشریفاتو دومره ارزښت

نه درلود چې خپلې امنیتي ګټې وربانډې معامله کړي. که څه هم چې شاه شجاع

هڅه کوله چې غازیانو ته داسې وښیي چې ګواکې په افغانستان کې د انګریزانو

پاتي کیدل یا وتل د ده په واک کي دي، خو د جګړې دواړې غاړې پوهیدلې

چې اصلي واک له چا سره و.

د یوې اونۍ په لړ کې د افغانانو او انګریزانو تر منځ د یرغل د ختمولو او د

پوځیانو د وتلو پر سر خبرې پراخې شولې. انګریزانو غوښتل چې له هر ډول قید

او شرط پرته، دوی ته د وتلو فرصت ورکړل شي، خو اکبرخان ټینګار درلود چې

انګریزان باید د روغ-رمټ وتلو لپاره د افغانانو شرایط ومني.

اکبرخان په بوه لیک کې الفنستون ته لیکلي و «ستاسو یرغل ستره تېروتنه وه

او تاسو د خپل یرغل په مهال ډېر افغانان کړولي دي او اوسمهال په لکونو داسې

افغانان شته چې غواړي له تاسو نه غچ واخلي. د دې لپاره چې تاسو وکولای

شئ چې په ډاډ له افغانستان نه ووځئ، نو باید د افغانانو شرایط ومنئ.»

اکبرخان ته د انګریزانو وتل د هغوی ناکامي او د یرغل پای و. ده نغوښتل

چې نوره وینه توې شي او هڅه یې کوله چې داسې لارې چارې ومومي چې د

انګریزانو وتل، په سولیزه توګه ترسره شي. خو اکبرخان پر انګریزانو پوره باور نه

درلود. انګریزانو به خوله یو څه ویل، عمل به یې بل ډول کاوه. ده ته په وارو دا

ثابته شوې وه چې پر انګریزانو پوره باور کول، پوره حماقت دی.

امین الله خان او اکبرخان له نورو غازیانو سره له پراخو سلامشورو وروسته

پریکړه وکړه چې انګریزان باید تر وتلو وړاندې خپلې ټولې درنې وسلې افغانانو

ته وسپاري. لدې کار نه دوې دوه هدفه لرل: لومړی یې دا و چې انګریزان د

وتلو په مهال له افغانانو د غچ اخیستلو په فکر کې نشي او ورانی ونکړي. دوهم

هدف دا و چې غازیانو د درنو وسلو له اخیستلو سره د یوه پیاوړي خواک په توګه د انګرېزانو د راتلونکو بریدونو په وړاندې مقاومت وکولای شي.

اکبرخان یو بل شرط اېښودلو ته هم اړ شوی و او هغه دا و چې انګرېزان باید خپله ټوله خزانه هم افغان لوري ته وسپاري. دغه غوښتنه د هغو ملکانو او خانانو وه چې استدلال یې کاوه چې که انګرېزان له خان سره شته ونه لېږدوي. نو پر لارې به ورباندې بریدونه ونشي. دوې دغه راز ویل چې د دغو شتو په بدل کې به انګرېزانو ته د دوې له سیمو نه په امن د تېرېدلو زمینه برابره کړي.

اکبرخان د پیسو اخیستل د انګرېزانو د اسیرانو له تبادلې سره وتړل او الفنستون ته یې ولیکل چې د پیسو د ورکړې په بدل کې به دوې ته ټولې ښځینه اسیرانې وسپارل شي. په اصل کې خو اکبرخان په فکر کې لرل چې ټولې ښځینه اسیرانې بیله کوم قید او شرط نه انګرېزانو ته وسپاري چې له خان سره یې له افغانستان نه وباسي.

انګرېزانو په لومړي غبرګون کې دغه دواړه شرطونه رد کړل، خو په بدل کې یې اکبرخان او امین الله خان ته یو لړ سیاسي امتیازات مخې ته کړل. د پوټینګر په مشوره، الفنستون وړاندیز کړی و چې اکبرخان به د شاه شجاع د وزیر او امین الله خان د نائب الوزیر په توګه وټاکل شي او انګرېزان به دغه جوړښت په رسمیت وپېژني. دوی به له دې چې له شاه شجاع سره سلا کړې وي، پخپله خوښه د یوه نوي په اصطلاح «شریک حکومت» د جوړولو وړاندیز کړی و.

د دې تر څنګ، انګرېزانو آن د ناکامۍ په درشل کې له توطیو او چلوټیو لاس نه اخیست. دوی بیا هڅې پیل کړې وې چې د اکبرخان په خلاف غلجي مشران او نور ملکان وپاروي. الفنستون د اکبرخان د سر په بدل کې د یو لک روپیو انعام ایښی و. دوی دغه راز امین الله خان ته ویلي وه چې اکبرخان ټول امتیازات د خان لپاره غواړي او نورو ته پاملرنه نکوي. اکبرخان چې لدغو توطیو نه خبریده، نو د انګرېزانو د درواغو د بربنډولو په خاطر یې یو څیرک اقدام وکړ. هغه له الفنستون سره د جوړجاړي په نامه د خبرو لړۍ پیل کړه او پدې لړ کې یې له الفنستون نه داسې لاسلیک شوی لیک واخیست چې پکښل لیکل

شوي وه چې انګرېزان به اکبرخان د وزیر په توګه وټاکي، ۱۰۰ توپونه او ۱۲۰۰ توپکان به ورکړي او دغه راز په کال کې به ۱۰ لکه روپۍ هم ورکړي. په لیک کې دا هم راغلي وه چې انګرېزان به امین الله خان او نور هغه مشران له منځه یوسي چې د اکبرخان مخالفت کوي.

اکبرخان چې د الفنستون لیک ترلاسه کړ نو د امین الله خان په ګډون د ټولو مشرانو بیړنۍ غونډه یې راوبلله او په هغه کې یې دا لیک د انګرېزانو د نه تمامیدونکي خیانت او خطاایستلو د ثبوت په توګه وړاندې کړ.

انګرېزان بلاخره وپوهیدل چې نه په بوخ، نه په سیاست او نه هم په توطیو د اکبرخان ستونزه هوارولې شي. نو یې په رښتیا د وتلو پریکړه وکړه. الفنستون په چونۍ کې ټولو شاوخوا ۱۰۰۰ انګرېزانو او څه باندې ۱۴۰۰۰ زرو هندي او بنګالي سپاهیانو او نورو پیاده سرتېرو (چې هغوي هم د هند د نیمې وچې له بیلابیلو سیمو و) ته امر وکړ چې د وتلو لپاره چمتو شي.

انګرېزانو د شاه شجاع د امنیت ساتلو لپاره یو خاصه ډله روزلې وه چې مشري یې ۶۰ تنو انګرېز پوځیانو کوله. کله چې د وتلو پریکړه وشوه، د شاه د ساتونکو د ډلې انګرېز مشرانو هغه ته احوال ورکړ چې دوی هم باید له افغانستان نه ووځي. شاه چې ایله یوه ورځ وړاندې د الفنستون له پریکړې خبر شوی و او سخت په غوسه و، خپل انګرېز ساتونکي یې راوبلل او ورته یې وویل «الفنستون ډېره ستره تېروتنه کوي. تاسو باید پدې ساړه ژمي کې ونوځئ. الفنستون له ما سره هیڅ مشوره نده کړې. افغانان به تاسو په لاره کې قتل عام کړي. تاسو مه ځئ!»

خو انګرېزانو خپل اوامر له خپلو پوځي مشرانو اخیستل، نه له افغان شاه څخه. دوی له شاه نه مننه وکړه او ورته یې وویل چې هرومرو باید ولاړ شي.

تر وتلو وړاندې، انګرېزانو خپل یو شمیر درنې وسلې او مهمات په ډېر بې نظمه ډول افغانانو ته وسپارلې. د دې لپاره چې د اکبرخان د غازیانو دلا خواکمنتیا مخه ونیسي، انګرېزانو لږ شمیر وسلې پر بیلابیلو ملکانو پدې نامه

وويشلي چې ګواکې له اکبرخان سره يې جوړجاړې کړې دی. دوی. دغه راز.
ډېر شمير هغه وسلې چې له خان سره يې نشوې وړلای ورانې کړلې.
اکبرخان الفنستون ته وليکل چې تاسو بياهم خپل پر ژمنه عمل ونکړ. څکه
خو زه هغې ژمنې ته اړ نه يم چې ستاسو د خوندي وتلو لپاره مې کړې وه.
اکبرخان چې د انګرېزانو د وتلو له پلان نه ډاډه شو، نو يو مازديګر د اسيرانو
سرای ته ورغی او ټول ماشومان او ښځې يې په يوه ستر دالان کې راټول کړل او
ورته يې وويل «سلام اعليکم! لکه څرنګه چې هر څه پای ته رسيږي، زموږ سره
ستاسو شتون هم وروستيو شيبو ته رارسيدلی. موږ به سبا تاسو ټول چونی ته
وسپارو چې له خيره سره بيرته خپل هيواد ته ستانه شئ.»
د اکبرخان لدې خبرې سره سم ټولو اسيرانو د خوشحالي غږونه پورته کړل او
لاسونه يې وپړکول، خو په دوی کې دوې تنې ډېرې خوشحاله نه معلوميدې.
کريستينا او ويکتوريا پوره ډاډه نه وې چې له اسارت نه د آزاديدلو خوشحالي
وکړي که له اکبرخان نه د جلا کيدلو وير وکړي. په تېرو څو ورځو کې د دوی
مينه له ځوان اکبرخان سره لا ډېره شوې وه او هرې يوې احساس کاوه چې له
دغه افغان ځوان سره اوږد عمر مخې ته لري.
کريستينا مخ د ويکتوريا لور ته کړ او وې ويل «ښه نو، داسې ښکاري چې
زموږ پوځيانو اکبرخان اړ ايستلی چې موږ آزاده کړي.»
ويکتوريا په هيښنو سترګو او پداسې حال کې چې زنه يې په حيرانتيا نيمه
خوړنده شوې وه کريستينا ته څو شيبې وکتل او بيا يې ورته وويل «څه؟! ته دا
سړی اړ ايستل شوی ګڼئ؟ هغه دلته د خپلې بريا اعلان وکړ او وې ويل چې
موږ د خواخوږۍ په توګه آزادوي او ته فکر کوي چې زموږ پوځيانو هغه مات
کړی دی؟»
کريستينا چې د يوه پوځي لور وه او هيڅکله يې د انګرېزانو د پوځي ماتې
په اړه څه نه و اوريدلي په متعجبه شوي لحن ورته وويل «زه نه پوهيږم چې ته
څه وايې -نه وايي چې اکبرخان د سترې بريتانيې پوځ ته په افغانستان کې ماتې

اصلاً زه نه پوهېږم چې ته ولې دا ډول فکر وکړې ده؟ دا کار ناشونی دی! کوئ.»

ویکتوریا سر ښکته کړ او چپ شوه او چې خوا ته وخوځاوه خو څه یې ورته ونه ویل.

د اکبرخان له خبرو وروسته اسیرانو یو بل په غېږ کښې نیول او یو بل ته یې مبارکیانې ویلې، خو کریستینا او ویکتوریا له ګڼې ګوڼې راووتلې او د سرای دروازې ته نږدې د اکبرخان مخې ته ودرېدلې.

کریستینا پر غږ وکړ چې «اکبرخانه، موږ یوه پوښتنه لرو.»

اکبرخان تم شو، زړه نا زړه و چې له دغو انګرېزو پېغلو سره بیا د خبرو لړۍ پیل کړي که نه. ده له ځانه سره پرېکړه کړې وه چې نور به له ویکتوریا او کریستینا سره بانډار نکوي، اندېښنه یې لرله چې د دوی تر منځ کوم ډول عاطفي او احساساتي اړیکې رامنځته نشي.

ویکتوریا چې اکبرخان پدې حالت کې ولید نو ورته یې وویل «موږ لومړی له تاسو مننه کوو چې زموږ د آزادولو زیری مو راکړ، او که یو څو شیبې وخت لرئ نو یوه لنډه پوښتنه هم راته ځواب کړئ.»

اکبرخان ویکتوریا ته وکتل او بیله ځنډه یې ورته وویل «مهرباني وکړئ. زه مو په خدمت کې یم.»

کریستینا وویل «ویکتوریا او زه پر یوې خبرې توافق نلرو او هغه دا ده چې آیا تاسو اړ شوي یاست چې موږ آزاده کړئ یا دا چې دا کار د خواخوږۍ له کبله کوئ؟»

اکبرخان وویل «تاسو څه فکر کوئ؟»

کریستینا بیا ورته وویل «البته چې زه فکر کوم چې زموږ ځواکمن پوځ تاسو دې کار ته اړ ایستلي یاست، خو نه پوهېږم چې زما خورلنې ویکتوریا نه له کومه دا فکر پیدا شوی چې ګواکې تاسو زموږ پیاوړی پوځ له ماتې سره مخامخ کړې او اوس غواړئ چې د شفقت له مخې موږ هم آزاده کړئ.»

اکبرخان ویکتوریا ته وکتل. په کتو کې یې ډول مهرباني او ستاینه لیدل کېدله،
«نو که زه ووایم چې د ویکتوریا خبره سمه ده. ته خو به نه ناهیلې کیږې؟» او
لدې خبرې سره پداسې حال کې چې شونډې یې موسکې وې، کریستینا ته
وکتل.

کریستینا لومړی د اکبرخان په خبرې سمه پوه نشوه. خوله یې پرانیسته چې
یو څه ووایي خو بیرته ژر یې شونډې سره کښیکاږلې او مکث یې وکړ.
«ستاسو پیژندګلوۍ ډېر خوشحاله کړم. مننه چې په تېرو څو اوونیو کې مو
زموږ سره حوصله وکړله. تاسو ته خوشحاله او نیکمرغه ژوند غواړم.» او لدې
ویلو سره اکبرخان په بیړه له سرای نه ووت.

*********

د جنورۍ د ۶ نېټې پر سهار وختي، د انګرېزانو شاوخوا شل زره کسیز لښکر
له چوڼۍ نه وتل پیل کړ. تر وتلو دمخه، د لښکر د مشر له امر سره سم، پوځیانو
خپلو کوټو او نورو تاسیساتو ته اور واچوه. امر شوی و چې هیڅ شی باید
افغانانو ته سم پرې نښودل شي. د انګرېزانو لښکر د خوردکابل د سړو واورو په
لور روان و. خو شاته یې د بي بي مهرو له سیمې سرې لمبې جګېدلې. دغه
ورځ ډېره سړه هم وه. آسمان تورو وریځو پوښلې و او واوره هم اورېدله. سواره
پوځیانو د کنګلې او ښویدونکې مځکې پر سر د پیاده سرتېرو په پله ډېر سوکه
روان و. د انګرېزانو لښکر تر څه باندې دوو میاشتو کلابندۍ وروسته راوتلی و
و پکښې د دغې مودې د کړاو نښې څرګندې وې - ډېر پکښې وچ کلک.
ږیرې خلې او پرېښانه معلومېدل. د لښکر ځینو سپاهیانو، لکه چې د خپلې
نومې راتلونکې نه یې خبره وي، پر لاره د سیمېزو خلکو په زورولو او پارولو
لاس پورې کړ. د دوی زړونه ډک وه او غوښتل یې چې په یو ډول نه یو ډول له
افغانانو غچ واخلي - مهمه نه وه چې دغه افغانان ولسي خلک، ښځې، ماشومان
یا د اکبرخان غازیان وه.

اکبرخان چې د چونۍ لمبې وليدلې نو خوا يې بده شوله او غازيانو ته يې ووېل «انګرېزان ډېر موذي او بې خيره خلک دي. دوی دلته ډېره موده واوسېدل او په پاې کې د کور ودانۍ په توګه همدغه ځاې وسوځاوه.»

غازيانو ډېر پر اکبرخان فشار راووړه چې پر انګرېزانو د بريدونو د پيل امر وکړي. خو اکبرخان به تل ويل «دښمن ماتې خوړلې ده. ماتې خوړلي دښمن سره نوره څه جګړه پاتې ده؟» خو غازيانو چې دانګرېزانو له ظلمونو او ناروااوو نه ډک زړونه لرل، نه يې شول زغملې چې دښمن دې په داسې دبدبې ووځي. د بابکرخيل، سلطان احمد خان، ميرآفتاب خان، خان محمد خان، محمد عثمان خان، نواب محمد خان او نواب جبارخان په څير ګڼو غازيانو ټينګار درلود چې دښمن بايد په پښو نه بلکې په ګونډو له افغانستان نه ووځي. دوی استدلال کاوه چې «ټپي شوی مار، تر روغ مار ډېر خطرناکه وي» او بايد د انګرېزانو لښکر ته داسې ګوزارونه ورکړل شي چې نور انګرېزان هيڅکله افغانستان ته د راتللو په فکر کې نشي. د غازيانو يو شمير مشرانو له وزيراکبرخان په پټه، پر انګرېزانو د بريدکولو ډلې جوړې کړلې چې پر لاره پر هغوی مرګوني بريدونه وکړي.

د انګرېزانو لښکر په لومړي ماښام بت خاک سيمې ته ورسيد. جنرال الفنستون د شپې لپاره د تم کيدلو امر وکړ. کولن مکينزي او شلټن چې تر الفنستون وروسته پوځي مشران ګڼل کيدل په بيړه جنرال ته ودريدل چې خپل امر لغوه کړي او لښکر ته د سفر د ادامې امر وکړي. مکينزي ويل «دا کوم سياحتي سفر ندی چې موږ په لومړی شپه دلته تم شو. پدې سړې هوا کې د دښمن په محاصرې کې موږ نشو کولای چې تم شو. بايد په بيړه لدې سيمې نه ووځو او لږ تر لږه ځانونه تر ننګرهار پورې ورسوو.»

خو الفنستون ته حالات بل ډول ښکاريدل. ده وويل «که زه د تم کيدلو امر ورنکړم، نيم لښکر به تر سبا پر لاره له منځه ولاړ شي. سپاهيان وږي او ستومانه دي، دوی نور د سفر کولو وس نلري.»

په اصل کې د انګرېزانو لښکر د شپې د تم کېدلو لپاره هیڅ نه و جوړ. سپاهیان چې به د یو څو شپو لپاره پر یوه ځای ودرېدل نو پښې به یې پر کنګل شوې مځکې وموښتلې او بیا به خوښېدلې به نشول. د سختې یخنۍ سربېره، واوره هم په چټکې اورېدله او هر څه چې به نه خوښېدی په ایله څو شپو کې به تر واورې لاندې پټ شو. دریمه ستونزه دا وه چې لښکریانو خواړه نلرل. بیله انګرېزانو چې پر آسانو او اوښانو سپاره و او له ځانه سره یې خوراکي توکي، درمل، شراب او اوبه لرلې، پاتي لښکریانو - هندوانو، بنګالیانو او نورو - هیڅ شی د خوړلو لپاره نلرل. په وچه ګېډه د یخنۍ احساس لا هم ډېر و او دوی پدې هم سم نه پوهېدل چې د ځان د تودولو لپاره څه وکړي.

د لښکر یو سر په بټ خاك او پاې یې په شینه سیمه کې و. د الفنستون له امر سره سم لښکریان ودرېدل او پیاده سپاهیانو ته امر وشو چې کېږدی ودروي او اور بل کړي. د کېږدیو درول اسانه کار و، خو د اور بلول سخت و. بوټي او لرګي نه و، هر څه پر مځکه کنګل شوي وه او د چخماق ډېرو نه نیولې بله هره وسیله چې یې وکاروله، د اور بڅرکي نه جوړېدل. انګرېزانو د آسانو پر سر دمه کوله او ځینو یې پداسې حال کې له ځانه سره راوړي خواړه خوړل چې پیاده غیرانګرېزو سپاهیانو ورته په زار-زار کتل. انګرېزانو په هندوانو او بنګالیانو کې دا حس پوره روزلی او پاللی و چې هغوي طبیعت/خداې د انګرېزانو د خدمت کولو لپاره پیدا کړي دي او په هیڅ وخت کې باید ځانونه له انګرېزانو سره په یو انډول کې ونه ګڼي.

له انګرېزانو سره یوه ډله افغان ساتونکي هم وه. پدغه ډله کې اکثریت قزلباشان و خو د ختیځ افغانستان نه هم یو شمیر پکښې وه. انګرېزانو له افغانانو سره د قراردادیانو په څېر چلند کاوه - دوې ته به یې پیسې ورکولې او کار به یې ترې اخیست. که څه هم افغانانو ښه کار کاوه، خو انګرېزانو هیڅکله پوره باور نه پرې کاوه او تل به یې دوې ته د شک په سترګه کتل. په همدغو افغانانو کې هم ځیني داسې کسان وه چې پخوا یې پر انګرېز پوځیانو بریدونه کړي وه.

افغانان د بنګالیانو او هندوانو په پرتله په ښه وضعیت کې وه. دوی د سیمې خلک وه او په چاپیریال ښه پوهیدل. لومړی همدغه افغانانو وه چې اور یې بل کړ او بیا نورو ډلو هم د دوی له اور نه لمبې یوړلې.

تیارې پر ټولې سیمې پوره وزرونه خپاره شوې وه او آن د واورې غتې پرخې چې اوریدلې نه لیدل کیدې چې د بت خاک له سر نه د غازیانو یوې ډلې پر انګریز لښکر بریدونه پیل کړل.

لومړی خال-خال ډزې وشوې او ورسره د غازیانو د «الله اکبر» نارې پورته شوې او بیا د ډزو شمیر ډېر شو. د انګریزانو د لښکر په سر کې بنګالي پیاده سپاهیان و چې هم په پښو مزل کې ډېر تکړه او هم د لارې په موندلو کې یې خاص استعداد درلود. دغه بنګالیان له اوله هم وچ کلک وه او د تېرو دوو میاشتو لوږو او سړو نور هم په جسمي ډول کړولي وه. بنګالیانو د جګړې کولو وس نه درلود او ډېر ژر د لښکر له سر نه حذف شول.

د لښکر په دوهمه لیکه کې هندوان و چې جسمي او روحي حالت یې لکه د بنګالیانو و. له بنګالیانو سره د هندو سپاهیانو یو ستر توپیر دا و چې ځینو یې ټوپکان او آسان لرل. د دوی تر شا، د لښکر په دریم پړاو کې، انګریزان و چې پر آسانو او اوښانو سپاره و او د ټوپک سربیره یې تمانچې هم لرلې.

جګړه ډېر ژر توده شوه او هندوانو او انګریزانو هم په ډزو پیل وکړ، خو دوی نه پوهیدل چې کوم لور ته او پر چا ډزې کوي. له یوې خوا تکه تور شپه وه او تر یو ګز وړاندې نه معلومیدل چې څه تېریږي، او بل جغرافیایي نابلدتیا وه چې د انګریز لښکر دفاعي حالت یې وران کړی و.

د غازیانو د الله اکبر د نارو سربیره د هغو بنګالیانو او هندوانو چغې هم لوړې شوې وې چې د غازیانو په ډزو او د تورو په وارونو پر مځکه لویدل.

کولن مکینزي د لښکر د سفر په پیل کې د دې ډول بریدونو اټکل کړی و خکه خو یې توپچي خواکونه په دریو برخو ویشلي وه چې د لښکر په مخ، مینخ او شاته نږدې موقعیت ونیسي چې په بیړه وکړای شي پر بریدکوونکو ګوزارونه وکړي. د توپ مرمۍ چمتو وې او مکینزي د ډزو امر ورکړ. انګریزانو د

... ګرځي وکړي، خو دغه
افغانانو څو ځلي ابدالیو د همدغه پیاوړو توپونو په مرسته ماتې ورکړې وې، لیکن اوس نه و ناڅاپه
لږه لږ په اخیستو، نه و خپله پرېکړه غازیانو په پوره سرعت لښکر په برید وه
چې د لوړې په واد ورکړي وروسته، غازیانو په انفرادي توګه په لښکر په یرغل لاس
ټول او کله چې سپاهیانو به د دفاع په نیت په ټوپکو ډزې پیل کړې، بریدګرو له منځه
په تیزۍ او په زیاته کمه په وړاندې شو، خو ټوله ځنډ په تورو بریدګرو

ګوازونه پیل کړل. په دې توګه د انګریزانو ټول لښکر په خوځښت راووست او خپلې
که څه هم د لوړې ټولګې د انګریزانو لکه غالبو ځکه چې نیښي ووهلې، لیکن
لږ کلي یې لیرې کړي، خو بیا هم غازیانو په بریدونو ته دوام ورکړ. د غرنۍ لارې
لښکر یې او بیا راوګرځېد او پل نیښې ووهلې، خپلو بریدونو ته دوام ورکړ. د لوړو سپاهیانو په راڅرګندېدلو سره
لږ وخت وروسته د لوړې سپاهیانو په راڅرګندېدلو سره د انګریز لښکر دننه د
بریدونه وکړل، خو د افغانانو د بریدونو له درېدلو سره د انګریز لښکر ډېر ځنډ وکړ
ژوبلو او زخمیانو ځینې چې خاموشه نه شول، تپیان په کنګل شوې ځمکه کې پاتې شول او
په لویه غرونه کې زخمیانو کالو، پاتې ټول چې یخني، لوږې او د تږې شیبې
په لاره ځینې یې زخمیان ژوبل او یا یې ناڅرګند ساتلي ووېلې.
وهم سخت کړولې وه، یا یې ژوبل او یا یې ناڅرګند پیل کړ. نني سفر تر پروني
انګریز لښکر تر دوه ساعته دم وروسته، بیا سفر پیل کړ. نني سفر تر پروني
سخت و. د ورځې لخوا هم په لښکریانو د غرونو له سرونو خال-خال ډزې
کیدې او د هر ځا چې به اذان و، ویده لګیده یا به تیښته شو یا به د همدغه ځای شو.
انګریزانو د مړو د وړلو وس نه درلود. هم له لوژیستیکي پلوه او هم د
روښنایي اندیښنو له کبله دوی ته ویل شوي و چې مړي پرېږدي خو تپیان له
خان سره واخلي. په مړو کې د انګریز او ناانګریزو توپیر دومره کیده چې د
انګریزانو مړي به یې ټوټې کړې، کمې تر واورو لاندې پټ شول او ملګرو به یې تر
پولو پښتنو ورپسته د دوعا په خیر یو خو جملې وویلې. د بنګالیانو، هندوانو
او نورو مړي لا څه ډول ساده تشریفاتو هم نه برخمن کیدل.
په دوهم ماښام، انګریزان پوهیدل چې یاغیان به بیا غلچکي بریدونه وکړي
نو یې د لښکر په پیل او پای کې دفاعي صفونه چمتو کړل. خو غازیانو دغه شپه
هم تکتیک بدل کړ. دوی په لښکر د مستقیمو بریدونو پرځای د غازیانو د

دودیز جګړه ایز تکتیک نه کارواخیست او د انګرېزانو پر پوځیانو یې چې دوهمه شپه یې تر لته بند پورې رسولې وه، د غرونو له سرونو غټې ډبرې راوښویولې. دې کار انګرېزان ډېر وارخطا کړل او پداسې یو احمقانه غبرګون یې لاس پورې کړ چې ستونزه یې خاتمه څو خلې نور هم ستره کړله. انګرېزانو توپچیانو ته امر وکړ چې د لته بند غرونه وولي او دې کار که څه هم د ګوتو په شمار غازیان ووژل، خو نورې سترې ډبرې یې هم له غرونو راجلا کړلې او پر انګرېز لښکر د واورو او ډبرو سیلاب رامات شو. لدې کار سره د انګرېزانو د لښکر نظم هم مات شو. هر چا هر لور ته منډې وهلې.

مکینزي او شولټن چې په لوړ غږ یې افغانستان ته ښکنځلې کولې د سپاهیانو د راټولولو هڅې کولې. د شولټن راسته لاس کې د ډیوید په نامه یو انګرېز پوځي پر آس سپور و. ډیوید په زړه غوني غږ شولټن ته وویل «د افغانستان طبیعت او غرونه لا زموږ سره دښمني کوي. دا څه ډول وحشت دی!؟»

شولټن یې لدې چې ورته وګوري وې وویل «دا نفرین شوی هیواد دی!»

د انګرېزانو دفاعي انتظامات چې مات شول، غازیانو بیا د مخامخ ډزو، غښیو او تورو بریدونه پیل کړل. بیا له هرې خوا نه د «الله اکبر» نارې د انګرېز د لښکریانو له چغو سره وپېچل شوې او د لته بند د سیمې پدې سړې شپې کې یې انګازې جوړې کړلې. طبیعت که هرڅومره دغه شپه ظالم و (هوا مرګونې سړه وه) خو د یوبل د وژلو لپاره د افغانانو او انګرېز لښکریانو له کرکې سره نشو پرتله کېدای. د طبیعي ناورینونو او وباوو په مهال بشر، ښایي، فطرتاً د یو بل لاس نیوی وکړي او خواخوږي وکړي، خو دغه شپه طبیعت له انسانانو سره او انسانان له یو بل سره په شخړه لویدلي وه. دغه شپه تر څلور زرو ډېر انسانان د انسانانو لخوا ووژل شول. ځیني یې افغانان، ځیني یې بنګالیان، ځیني یې هنداوڼ او یو شمیر یې انګرېزان و - خو دا ټول په ډلو د ویشل شوو انسانانو نومونه و، هغه ډول چې هر انسان خاته نوم لري.

د انګرېز لښکر پیاده ځواکونه د دغې شپې جګړې سخت ووېرول. ښایي همدغه لامل و چې سبا ته یې تر زرو ډېر بنګالیان او هندواڼ د لښکر له لیکو

وتښتیدل او غازیانو ته یې پناه یووړه. پدوې کې چې مسلمانان وه نو د تسلیمیدلو په مهال یې په لوړ غږ کلمه - لااله الا الله محمد رسول الله - ویله او نورو بیا همدومره زده کړي و چې د خان د ژغورولو لپاره «الله اکبر» ووايي.

انګریزان که له یوې خوا پر لښکر د بریدونو او تلفاتو له اړخه سخت اندیښمن و اوس د خپلو کسانو تسلیمیدلو نور هم وارخطا کړل. جنرال الفنستون، مکینزي، جیوفري او شولټن د سفر په دریمه ورځ بیړنی غونډه وکړه او پریکړه یې وکړه چې له اکبرخان نه مرسته وغواړي. دوو کسانو ته ماموریت ورکړل شو چې په بیړه کابل ته ولاړشي او د الفنستون لیک پخپله اکبرخان ته وسپاري.

د انګریزانو د ګڼو جګړو ګټونکي جنرال الفنستون ته دغه لیک لیکل ډېر سخت و. الفنستون اکبرخان ته ولیکل «زه د هغو پخوانیو تېروتنو له کبله ډېر خواښیني یم چې زموږ لخوا ترسره شوې، خو زه له تاسو هیله کوم چې زموږ سخت حالات درک کړئ او همکاري راسره وکړئ چې په سوله ایز ډول ستاسو له هیواد څخه ووځو. زه تاسو ته پوره ډاډ درکوم چې زموږ له خوا به هیڅا ته هیڅ ډول زیان ونه رسیږي او زه هیله لرم چې تاسو د خپل واک او نفوذ په کارولو سره موږ ته ورته ډاډ راکړئ.»

اکبرخان چې د انګریزانو ډېرې چلوټې او دوه مخي کړنې یې لیدلې وې، په فکر کې ډوب شو چې د الفنستون د لیک ځواب څه ډول ورکړي. یو ځلي به یې فکر وکړ چې انګریز جنرال بیا کومه چلوټه جوړه کړې او غواړي چې غازیان پکښې ایسار کړي، خو بیا یې هغه خبرونه په فکر کې راغلل چې په تېرو دوو ورځو کې ورته راسیدلي و او هغه دا چې انګریز لښکر په لاره کې تر سختو بریدونو لاندې راغلی. بلاخره یې له خان سره وویل «یو پوځي بل پوځي ته داسې درواغ نه وايي.»

اکبرخان خپل څو سوه جنګیالي راټول کړل او د انګریز لښکر پسې روان شو.

خو د انګرېز لښکر اذل بل ډول ټاکل شوی و. د اکبرخان تر رارسېدلو وړاندې، افغانانو خپل مرګوني بريدونه پر لښکر څو برابره زيات کړل. په يوې شپې کې يې تر پنځه زرو ډېر ووژل. د لښکر ځيني پياده سرتېري د افغانانو تر بريد وړاندې د سختې يخنی، لوږې او ناروغيو له کبله مړه شوي و. پاتې نورو يې بيا د جګړې کولو څه چې د ځان ساتلو وس نه درلود. دوی جسماً او روحاً مات شوي و او تا به ويل چې ساه يې صرف د کوم افغان واري ته تمه وه چې له بدن نه يې وباسي.

که څه هم د انګرېزانو لپاره اصلي سرخوږی د غازيانو بريدونه و چې نارينه پکښې په ښه کېدل، خو د هغو انګرېزو ښځو لپاره چې له لښکر سره وتلې دا ويره وه چې که د بريدګرو په لاس ورغلې نو څه به ورسره ونکړي!؟ پدوې کې کريستينا او ويکتوريا هم وې او دوی به نورو ته څه نا څه ډاډګيرنه ورکوله او د خپل اسارت د مهال خبرې به يې ورته کولې.

يو ځلي کريستينا نورو ته وويل «تر دې مرګوني سفر خو ښه دې چې موږ تسليم شو. اسارت تر دې ښه دی!» خو نورو ښځو بيا د افغانانو د وحشت کيسې اوريدلې وې او تر اسارت يې په سړو واورو کې مرګ باشرفه باله.

اکبرخان د انګرېز لښکر شاته هغه مهال راورسيد چې تر نيمايي ډېر سرتېري يې يا وژل شوي، يا اسير شوي او يا په هر لور تښتيدلي و. څو شيبو کې مکينزي او شولټن د لښکر د مشرتابه په استازيتوب يې له وسلو د اکبرخان کيږدی ته ورننوتل. دواړو پوځيانو د درناوي په توګه خپلې خولۍ له سره نه پورته کړې، يو ګام وړاندې ولاړل او بيا يې کيڼ ځنګونونه پر مځکه کېښودل او خاموشه پاتې شول.

دا لومړی ځل و چې انګرېز پوځيان د يوه سيمييز دښمن، هغه هم يوه آسيايي او بيا مسلمان، مخې ته پداسې درناوي وړاندې شول. يوازې څو مياشتې وړاندې ښايي هيچا داسې تصور هم نواې کړې چې د يوه افغان غازي مخې ته، داسې يو ځوک چې د سلګونو انګرېزانو په وژلو پړ بلل کيږي، به مشر انګرېز پوځيان په دومره حقارت او خوارې ګونډې ووهي.

اکبرخان د دې ډول تشریفاتو پلوي نه و. ور ولاړ شو، میکنزي یې تر لاس ونیوه او شولټن ته یې وویل «هیله کوم، راځئ دلته کښېنئ!» او بیا یې دواړه پوځیان خان ته نږدې کښېنول. د انګرېزانو له وضعیت نه له ورایه د دوی کړکیچن حالت ځرګندېده. اکبرخان پر حاضرباشو غږ وکړ چې ډوډې او تودې شیدې ورته راوړي.

مکینزي چې تر شولټن په پوځي رتبې او په عمر کې مشر و په خبرو یې پیل وکړ «موږ ستاسو عالیجناب نه د مرستې او خواخوږۍ تمه لرو. لکه چې وینئ له یوې خوا هوا ډېره ظالمه ده او له بلې خوا د ژمنو برعکس، پر موږ ډېر غلچکي بریدونه کیږي. موږ هماغسې چې مو له تاسو سره ژمنه کړې وه، له افغانستان نه وځو، خو هیله لرو چې موږ وتلو ته پرېږدئ او د بې ځایه وینې تویدلو مخنیوی وکړئ.»

اکبرخان ورته وویل «زه لدې کبله خواشینی یم چې هم دې هیواد ته ستاسو د راتګ په مهال ډېرې وینې وبهیدې او اوس مو له وتلو سره هم وینې تویږي. زه ډېر خواشینی یم چې زرګونه انسانان د څو ناپوه کسانو د شیطاني فکرونو له کبله ووژل شول. خو زه هیله لرم چې زموږ او تاسي راتلونکي نسلونه به زموږ له ترخو تجربو زده کړه وکړي.»

یو څو شیبې چپ شو او بیا یې وویل «اوس زه له تاسو سره څه ډول مرسته وکړم؟»

مکینزي ورته وویل «د وحشي یاغیانو د بریدونو په خپلو کې له موږ سره مرسته وکړئ!»

لدې خبرې سره د اکبرخان بڼه سره شوله، سترګو کې یې غوسه راځرګنده شوه او په بیړه یې وویل «تاسو له مه غواړئ چې ستاسو د خوندیتوب لپاره د خپلو خلکو په وړاندې وجنګیږم؟!»

دا ځلي شولټن ورته وویل «دغه وحشیان یوازې ستاسو په مرسته خپلې شو. زموږ سره کار وکړئ چې ککرۍ یې ورماتې کړو.»

اکبرخان د شولتن شنو سترګو ته په قهر وکتل خو په آرامه یې ورته وویل «که تاسو دوی وحشیان بولئ، نو ما ته هم وحشي وواياست. هو، ستاسو له انده ښايي د وطن، خپلواکي او عزت ساتنه وحشي توب وي. خو زموږ لپاره تاسو یرغلګر او غله یاست.»

مکینزي ورغبرګه کړله چې «اکبرخانه، ستاسو په ګټه ده چې زموږ سره مرسته وکړئ. تاسو ولې هم د خان او هم زموږ په زیان کار کوئ؟»

اکبرخان په خواب کې ورته وویل «زموږ او ستاسو ګټې په اصل کې متضاده دي. زه حیرانه یم چې تاسو ولې زموږ ګټې یوشان بولئ؟»

مکینزي - «یعنې تاسو پدې خونړۍ جګړې کې د خان ګټه وینئ؟ جګړه د وحشیانو کار دی، تاسو خو پخپله اصیل او پوه انسان یاست او پدې ښه پوهیږئ چې دغه جګړه ترهګري او جهالت ده.»

اکبرخان - «زموږ جګړه سپېڅلې ده، ستاسو یرغل ترهګري وه.»

مکینزي - «موږ وخوو او تاسو ته مو وویل چې پر تېرو کړنو پښیمانه یو، نو اوس جګړه د څه لپاره ده؟»

اکبرخان - «یوازې پښیمانه یاست؟! زموږ زرګونه بیګناه خلک مو ووژل، کورونه او کروندې مو راورانې کړلې، دربدره مو کړلو او یوازې پښیمانه یاست؟ ستاسو پښیماني زموږ د کوم رنځ دوا کولی شي؟»

مکینزي - «زه خواشینی یم چې جنرال الفنستون ته دا پیغام وړم چې اکبرخان له موږ سره همکاري نکوي.»

اکبرخان - «دا هم ورته ووایه هغه اکبرخان چې تاسو یې څو ځلي په وژلو کې ناکامه شوئ، اوس هم د خپل ولس تر څنګ ولاړ دی.»

د اکبرخان او دغو دوو انګریز پوځیانو ملاقات چې هغومره په ښه ډول پیل شوې و، په پایله کې هغومره وران ښکاریده او دواړې غاړې په قهر وې.

انګریز پوځیان چې په دودیز ډول پر استعمارشوو سیمو او خلکو یې امرونه کول، په نرمو سیاسي ادبیاتو ډېر نه پوهیدل. دوی د جګړو روزنه کړې وه او ټول

فکر یې پر دې راټولېده چې څنګه دښمن خوار او ذلیل کړي او له مخې یې ورک کړي.

اکبرخان ښه پوهېده چې انګرېزانو افغانان ډېر کړولي او غازیان و یرغلګرو ته ډک زړونه لري. د ده له انده، افغان جنګیالي اتلان و او د ستایلو وړ وه. همدغه په ګیډه وړي، په تشو لاسونو افغانان و چې د تاریخ ستره حماسه یې جوړه کړې وه. اکبرخان پر افغانان غازیانو د انګرېزانو د نیوکو او ملنډو هیڅ زغم نه درلود.

مکینزي او شولټن و جنرال الفنستون ته وویل چې اکبرخان نه یوازې چې د بلواګرو د بریدونه مخنیوی نکوي، بلکې له هغو سره خواخوږي لري. شولټن وویل «په اصل کې همدغه اکبرخان زموږ ستر دښمن دی. که دی نه واې، موږ به لدغه ډول کړکیچ سره مخامخ شوي نواې.»

خو ناروغه جنرال الفنستون پوهېده چې له روان کړکیچ نه د دوی د ژغورل کیدلو یوازنی لاره د اکبرخان له کیږدی تېرېږي.

الفنستون مکینزي ته وویل «زه غواړم پخپله لدې افغان سردار سره ووینم...» لابې خبره نه و بشپړه کړې چې مکینزي ورته وویل «ښاغلیه. دې کار ته اړتیا نشته. دا سرتمبه سردار یوازې زموږ د وژلو پسې دی. تاسو ولیدل چې څنګه په نامردی یې ښاغلی مکناټن وواژه. له اکبرخان سره ستاسو لیدنه به اصلا ستاسو د خوندیتوب لپاره مناسبه نوي.»

الفنستون مکینزي پرینبود چې خپلې ټولې خبرې بشپړې کړې او بیا یې په آرامه ورته وویل «مکینزي. زه ستا په اندیښنو ښه پوهیږم. خو موږ د اکبرخان له ملاتړ پرته لدې دوږخ نه د ژوندي وتلو لپاره بله لاره نلرو.»

مکینزي بې بیا خولې ته ورولوید «زه ستاسو د خوندیتوب له اړخه داډه نه یم...ښاغلي مکناټن هم غوښتل چې له اکبرخان سره خبرې وکړي. خو و مو لیدل چې څه پېښ شول.»

الفنستون وویل «که اکبرخان زموږ د وژلو پسې راغلي وي. نو څنګه شو چې ته او شولټن ترې ژوندي راغلاست؟»

پداسې حال کې چې انګرېز پوځي مشرانو له اکبرخان سره د بيا ليدلو په اړه خبرې کولې، له سروبي نه نيولې بيا تر لته بند، تيزين او خوردکابل پورې د غازيانو بيلابيلو ډلو پر انګرېز لښکر د يوه ستر بريد تياری بشپړاوه. د جنوری د ۱۲ د شپې په نيمايي کې افغانانو له خو اړخونو پر انګرېز لښکر پراخ او درانه بريدونه پيل کړل. بيا د انسانانو چغونارو او د توپکو او توپونو ډزو په سيمې کې د محشر غوغا رامنځته کړه. د دغې شپې جګړه تر پخوا هر وخت ډېره سخته وه او داسې ښکاريدل چې دواړې غاړې غوارې چې هر څه په همدغه شپه پای ته ورورسوي - يا دښمن ووژني يا پخپله ووژل شي.

پر مخکه سينه واوره په بيره د انسانانو، آسانو او اوښانو په وينو تکه سره شوه. انسانانو هر څه چې مخې ته ورتلل وژل به يې - دوست او دښمن ورک و، تا به ويل چې انسانيت پای ته رسيدلی او د انسانانو ماغزه پر بله اوښتي چې يوازې د يو څه امر کوي: ووژنه! د انګرېزانو روحيه بايللو پوځيانو د ژوندي پاتې کيدلو لپاره خپلې ورروستی هڅې کولې. افغانانو بيا داسې جګړه کوله چې تا به ويل د دښمن تر وژلو ډېر د خان د قرباني کولو لپاره راغلي وي. افغانانو پدې عقيده جګړه کوله چې که دښمن ووژني نو غازي به شي، که پخپله ووژل شي نو شهيد به شي - په دواړو حالاتو کې يې خانونه بريالي ګڼل.

جنرال الفنستون د توپونو د کارولو امر ورکړ خو مکينزي ورته د وړمې ورځې ناوړه پيښه ورپه ياد کړل چې د توپونو مرميو له غرونو نه برف کوچ او ډبرې پر لښکر راوښوېولې. الفنستون ورته وويل «د توپونو مخې هوارې مځکې ته کړې او سواره ياغيان په نښه کړئ.» د جنرال له امر سره سم، توپونه د ډزو لپاره چمتو شول او مکينزي په امر د انګرېز پوخ تر ټولو اغيزمنې وسلې يواربيا خپل کار وکړ او په څو شيبو کې يې څو سوه غازيان له منځه يوړل.

انګرېزانو چې د توپونو اغيزمنتوب وليد نو نور يې هم دغه تکتيک ته زور ورکړ. نم جن باروت و که د توپچيانو تېروتنه، د توپ يوه مرمی د انګرېزانو د لښکر په منځ کې وچاوديدله. له چاودنې سره سم، د انسانانو او آسانو د بدن غړي په هوا شول او بيا لکه د وينو باران چې وشي. له پورته نه د وينو څاڅکي

پر سیمه راولویدل. چاودنه دومره زوروره وه چې د خو شیبو لپاره یې تول شاوخوا کسان هک پک ودرول او جګړه په تپه ودریده. تر لنډې چوپتیا وروسته، د ټپیانو زګیروی پیل شو. د توپ مرمی د انګریزانو د لښکر په منځ کې او د ښځو د کاروان په سر کې لګیدلې وه. ځکه خو وژل شوې او ټپیانې تولې ښځې وې.

په وژل شوو کې یوه کریستینا وه چې څو چرې یې په ځیګر او غاړه کې لګیدلې وې او له آس نه یې غورځولې وه. د کریستینا د بدن کیڼ خوا تر واورې لاندې و، خو مخ یې پوره ښکاریده. شنې سترګې یې پرانستې وې خو سپین مخ یې. د یخې هوا له کبله و که د وینې د نشتون له کبله، تک شین ښکاریده. خوله یې داسې نیمه پرانیستې وه چې تا به ویل کومه خبره یې نیمه پاتې وې. سر یې ختیځې خوا (د برتانوي هند لور) ته و او سترګې یې لویدیځ ته (کابل خوا) وې - تا به ویل چې د دې انګریزې پیغلې سترګې لا هم د اکبرخان په لور دي.

ویکتوریا روغه رمټه پاتې شوې وه، خو مور یې لکه چې د توپ مرمی ژوندۍ خوړلې وې تری تم شوې وه. ویکتوریا ژړل. په اصل کې ټولو انګریزانو - نارینه او ښځو - ژړل. هیچا نور د جګړې وس نه درلود. انګریز لښکر روحاً او جسماً مات شوی و.

الفنستون د آس مخه راواړوله او د چاودنې سیمې ته ورغی، له رسیدلو سره سم له آس نه راوغورځید خو بخت یې اوښتی و او پښه یې وښویدله او لکه چا چې له پورته نه راغورځولی وي، پر مخکه ولوید. له لویدلو سره سم یې تر خولې ستره چغه پورته شوه او بیا ځای پرځای خاموشه پریوت. څو شیبې وروسته په سد کې شو او هڅه یې وکړه چې په پښو ودریږي خو راسته پښې یې له درد نه بیا چغه په وکړه. پښه یې ماته شوې وه.

انګریز جنرال، د واترلو د مشهورې جګړې اتل، ماته پښه د خوردکابل په کنګل شوي ډاګ کې پداسې حال کې ناست و چې لاسونه یې سرته نیولي و او په لوړ غږ یې ژړل او دا ساندې یې ویلې: «زه نور دا د ذلت ژوند نشم زغملی! زه نور دا ژوند نغواړم!»

مکینزي او یو بل پوځي له جنرال الفنستون سره مرسته وکړه چې پر آس کښیني. مکینزي و هغه بل پوځي ته وویل «جنرال د هغه کیږدۍ ته بوځه چې استراحت وکړي. ډاکټر برایډن هم وروله چې د روغتیا څارنه یې وکړي.»

۳۱ کلن ویلیام برایډن د انګریزانو په پوځ کې د جراح په توګه کار کاوه او د جراحی تر څنګ یې د نورو ناروغیو تشخیص او درملنه هم کوله. د الفنستون شدیده سینه-و-بغل او ماتې پښې ته په کتلو سره، ډاکټر برایډن وویل «بناغلیه، تاسو ډېر زیات استراحت ته اړتیا لرئ. زه به مو پښه وتړم، خو تاسو باید بیله پروټې او ګرمو مایعاتو خوړولو، بل هیڅ کار ونکړئ.»

الفنستون ورته په ناهیلی وکتل او په کراره یې ورته وویل «استراحت؟ پدې محشر کې ارام څنګه کېدای شي؟»

ډاکټر برایډن خپلې ګردۍ عینکې پر ستروګو سمې کړلې او بیا یې داسې چې الفنستون یې وانوري کرار وویل «حالات که هرڅومره خراب وي، تاسو یې خو په سمولو کې هیڅ ونډه نلرئ.»

د الفنستون دردونه مخ په ډېریدو و. له یوې خوا ټوخي ساه ایستلو ته نه پرېښود او له هر ټوخي سره به یې لکه په چړو چې په سینه او پښې وواهه، له درد نه به تاوراتاو شو. د شپې لخوا سړې تبې واخیست. له یوې خوا هوا سړه وه، او له بلې خوا سړې تبې له الفنستون نه عقل واخیست او په اپلاکو ویلو یې پیل وکړ. انګریز جنرال په لوړ غږ نارې وهلې «هاغه ده ملکه الیزابت راغله. سرتېرو تیار سئ! د ملکې په ویاړ ډزې وکړئ!»

مکینزي، شولټن او څو تنه نور انګریز پوځیان په یوې کیږدۍ کې راټول شوي و او د سبا د پلان په اړه غږیدل چې یو سپاهي رانوت او وې ویل چې د اکبرخان قاصد راغلی.

د اکبرخان د نوم له اوریدلو سره انګریز پوځیان په ښکاره ډول وارخطا شول. مکینزي سپاهي ته وویل چې قاصد راولي.

اکبرخان د انګرېز لښکر له بدې ورځې خبر شوی و. دی پدې هم خبر شوی و چې د انګرېزانو پخپلې چاودنې کې ډېرو ښځو او ماشومانو ته مرګ-ژوبله اوښتې وه.

قاصد انګرېز پوځیانو ته وویل «اکبرخان د انساني خواخوږۍ له کبله وړاندیز کوي چې خپل ټپیان او ناروغان موږ ته راولېږئ چې له مرګ نه وژغورل شي. موږ به ورته ګرم ځای او خواړه برابر کړو او هر کله چې روغ شول، بیرته به یې تاسو ته دروسپارو.»

شولټن وویل «اکبرخان که دومره زموږ د ژغورنې په فکر کې دی، ولې دا بریدونه نه درووي؟»

قاصد دې پوښتنې ته ځواب نه درلود. چُپ ولاړ و.

مکینزي وویل «اکبرخان ته ووایه چې موږ منندویه یو. موږ به پرې فکر وکړو او سبا ته به حال درکړو.»

انګرېزانو ته د اکبرخان وړاندیز داسې و لکه ترې ته چې د اوبو سلا وشي. دوی د خپلو ټپیانو، ناروغانو او ښځو او ماشومانو له اړخه سخت اندیښمن و.

انګرېزان که څه هم د جګړې په ډګر کې سخت ځپل شوي و، خو لا یې هم دومره غرور درلود چې ټوله دښمن ته نه تسلیمیدل. په دوی کې ځینو لاهم دا هیله لرله چې د خپلو وسلو په زور به د دښمن بریدونه په شا وتمبوي او تر جلال آباد پورې به ځانونه ورووسوي. د مکینزي په خبره چې په وارو یې کړې وه «بس چې له همدې ناوړه تنګی نه ووځو، هر څومره چې ننګرهار او پېښور ته ورنږدې شو، هوا به تودېږي او اراضي به زموږ جنګي تکتیکونو ته برابره شي.»

د مکینزي ارزونه سمه وه. که انګرېزان د سروبي او لته بند له درو وتلي وای او هوارې مځکې ته رسیدلي وای، نو نه یوازې چې د یخې هوا او واورې له شر نه به یو څه خلاص شوي وای بلکه د افغان بریدګرو د ځپلو وس به یې هم موندلی وای. انګرېز پوځ او ورسره پوځي تجهیزات اصلاً د هوارو مځکو د جګړې لپاره چمتو و.

سهار وختي انګرېز پوځیانو ته یو بل بد خبر ورکړل شو. د افغانانو کومه ډله چې دوی روزلې وه او تر دې دمه یې د دوی لپاره جګړه کوله، تښتېدلې وه. افغانانو له خان سره وسلې او نور امکانات وړي وه او څرګنده نه وه چې آیا اکبرخان ته تسلیم شوي که پر کوم بل لور تللي دي. د دغو افغانانو شمېر شاوخوا ۴۰۰ و او اکثریت یې په جګړه کې خورا تکړه وه. دوی دغه راز د سیمې په جغرافیا، ژبو او نورو ځانګړتیاو هم ښه پوهېدل او له انګرېزانو سره یې د سیمېزو شخړو په پېژندګلوي او هواري کې ډېره مرسته کوله. د جګړې له ډګر نه د افغانانو وتل د انګرېز لښکر نور هم ضعیفه او وارخطا کړ.

مکینزي د افغانانو د تېښتې د خبر له اورېدلو سره وویل «لعنت دي وي پر دې افغانانو. په دوی کې هېڅوک زموږ سره رښتوني دوستي نکوي.»

سهار وختي مکینزي او شولټن د جنرال الفنستون کېږدۍ ته ورغلل چې د اکبرخان د وړاندیز په اړه خبرې ورسره وکړي. د الفنستون حالت ته په لیدلو سره دغو دواړو انګرېز پوځیانو پرېکړه وکړه چې له ټپیانو او ښځو سره به خپل قوماندان هم اکبرخان ته وسپاري چې ساتنه یې وکړي.

انګرېزانو ۵۶ ښځې، ټپیان او ناروغان پر اسانو د لښکر شا ته د اکبرخان د کمپ په لور ولېږل. د دې کاراوان په سر کې یو انګرېز پوځي، هیو جانسن، پر آس و او ورپسې جنرال الفنستون د اوښ پر سر په یوې ډولۍ کې پروت و. په کاروان کې ویکتوریا هم وه. ویکتوریا چې د مور او کریستینا مېرېنې ورباندې ژور روحي ګوازرونه کړي و، د یخې هوا، نه خوړلو او نورو خواریو له کبله ډېره کړېدلې وه. دغې نازولې انګرېزې پېغلې له دوو اونیو راهیسې حمام نه و کړې، ببر سر یې و او د سترګو شاوخوا یې له ډېرې ژړا نه ښوړېدلې وې. د کاروان له بیلابیلو برخو نه د خلکو زګیروی او ژړا اورېدل کېدل، خو ویکتوریا خاموشه پر آس ناسته و او سترګې یې مخامخ د کابل لور ته نیولې وې.

اکبرخان تمه نکوله چې دې سهار کې به د انګرېزانو د پناه غوښتونکو کاروان ورشي. همدا تېره شپه قاصد ورته حال ورکړی و چې انګرېزان د ده د وړاندیز

په اړه سلامشوره کوي او بيا به احوال ورکړي، خو اوس تر احوال دمخه کاروان راورسيد.

اکبرخان چې د جنرال الفنستون حالت وليد نو يې ډېر زړه ورباندې وسو. خپلو حاضرباشو ته يې امر وکړ چې په بيړه د ده په کيږدۍ کې د جنرال د استراحت ځای برابر کړي. الفنستون د خبرو نه و، خو د مننې په بڼه يې اکبرخان ته سر او سترګې خوځولې. هيو جانسن چې له الفنستون او نورو انګرېزانو سره د اکبرخان خواخوږی او انساني چلند وليد، نو هکځ پک پاتي و چې ولی انګرېزان له اکبرخان سره په جګړه کې کښيوتلي و. هماغه شپه جانسن پخپلو ياداښتونو کې د اکبرخان د شخصيت او کړنو په اړه ځو پاڼې وليکلې. د جانسن ياداښتونه وروسته لندن ته ورسيدل او د بريتانيا د جګړې د موزيم په تاريخي اسنادو کې ساتل کيږي. د جانسن د ياداښتونو په يوې برخې کې ليکل شوي «ځوان اکبرخان له جنرال الفنستون سره - هغه پوځي مشر چې د اکبرخان هيواد باندې يې يرغل کړی و، د اکبرخان پلار يې له واکه غورځولی و، او اکبرخان يې د بخارا د توروځاګانو بند پورې رسولی و - داسې چلند وکړ چې تا به ويل له خپل يوه ناروغ ملګري سره يې کوي. هغه جنرال ته پاکې جامې ورکړې، سملاسي يې ګرمې شودې ورته ورکړې چې تود شي، بيا يې په خپلې کيږدۍ کې د هغه د استراحت لپاره ځای جوړ کړ.»

نه اکبرخان او نه ويکتوريا يو بل په لومړي نظر کې وپيژندل. اکبرخان د ښځو او ټپيانو لپاره د دوو غټو کيږديو د درولو امر وکړ چې سملاسي دوی پکښې آرام وکړي او بيا يې وروسته کابل ته د ليږدولو انتظام وشي.

دغه سهار سيمه ټوله په وريځو او غبار کې پوښتلې وه. انګرېزان چې د ټپيانو، ناروغانو او ښځو په راټولولو بوخت و، له دوو خواوو نه د افغانانو تر مرګوني بريدونو لاندې راغلل. افغان غازيانو چې د انګرېز له لښکر نه د افغانانو د تيښتې وارويدل او هوا يې هم د چريکي بريدونو لپاره مساعده وليدل، نو بيله ځنډه يې په پراخو بريدونو لاس پورې کړ.

افغانانو چې په تېرو څو ورځو کې له انګرېز لښکر نه بې ډېر باروت او توپکان په غنیمت اخیستي و، اوس یې همدغه تجهیزات پر انګرېزانو کارول. د نورو ورځو په څیر نن جګړه هم ډېره درنه او خونړۍ وه. انګرېزان چې روحاً مات شوي و، اوس یې فزیکي جګړه هم بایلله. دوی لدې ویرې توپونه نه کارول چې نه پوهېدل له ویشتلو وروسته څپل زیانمنوي که دښمن. ډېرو ته دا هم نه وه څرګنده چې اصلاً دښمن کومې خوا ته دی.

د وریځو او غبار په منځ کې انګرېز لښکریان لکه د مني پاڼې جوپه-جوپه پر مځکه لوېدل. تر مرګ دمخه د انسانانو وروستیو چغو په سیمه کې ویرونکې فضا رامنځته کړې وه. د انګرېزانو پیاده سرتېري هرې خوا ته پاشلي و او هر یو به هیښ ولاړ وه چې څه وکړي، تر هغو چې د وریځو او غبار له مینځ نه به یو غازي راڅرګند شو او د سترګو په رپ کې به یې یا د تورې یا د ساتول وارې وربانديې وکړ. پدې لړ کې له هرې خوا نه مردکی هم اورېدلې. انګرېزانو له ویرې هر لور ته ډزې کولې. د دوی په ډزو کې به تر نورو ډېر پخپله د دوی کسان وویشتل شول.

د ورځې تر نیمایي پورې چې غبار یو څه کم شو، مکینزي او شولټن متوجه شول چې له یوې خوا مځکه په مړو او ټپيانو پوښلې ده او له بلې خوا د جګړې په اړو-دوړ کې له لښکر نه چې څه کسان ژوندي پاتې و، سره جلا شوي دي. اصلاً یو شمیر لښکریانو لاره ورکه کړې وه او د جګړې د شدت په مهال په بل لور خوځیدلي وه.

د انګرېزانو باروت او مرمۍ هم خلاصې شوې وې - څه افغانانو په غنیمت وړې وې، څه هم دوی مصرف کړې وې. داسې ښکارېدل چې د جګړې شرایط باالعکس شوي و - افغانانو مرمۍ او ټوپکان لرل خو له انګرېزانو سره تورې او برچې پاتې وې.

مکینزي د شولټن په ګډون څو تنه پوځي افسران راټول کړل او وې ویل دمور ماتې خوړلې ده. آن که مور غواړو چې تسلیم نشو او جګړې ته دوام

ورکړو. هیڅ باروت او مرمۍ ندي راپاتې. موږ په ګډه باید وروستۍ پریکړه وکړو.»

شولټن وویل «هدف مو دا دی چې تسلیم شو؟»

مکینزي ورته وویل «نه. تسلیمیدل یوه لاره ده. بله لاره همدلته تر مرګ پورې دریدل دي. که تاسو کومه بله لاره لرئ، مهرباني وکړئ او ما هم پرې خبر کړئ.»

تامس، یو بل افسر، وویل «موږ باید جګړه یوې بلې ورځې ته وساتو. اوس که هرڅومره موږ وغواړو جګړه نشو کولای. باید له عقل نه کار واخلو او سمه پریکړه وکړو.»

په غونډه کې د ګوتو په شمار نورو پوځیانو هم د تامس د خبرې په تایید د «ییې!» غږ وکړ.

خو شولټن بیوار بیا په هیجاني غږ وویل «مرګ تر تسلیمیدلو وياړ دی. موږ نشو کولای چې دغو وحشیانو ته ځانونه تسلیم کړو. دوی به له موږ سره تر وژلو لابد چلند وکړي.»

هیو جانسن چې تر دې دمه چپه خوله ناست و وې ویل «زموږ مشر، جنرال الفنستون، تسلیم شوی او له هغه سره له تمو پورته ښه او انساني چلند شوی. زه فکر نکوم چې اکبرخان به زموږ سره وحشیانه چلند وکړي، نو...»

دمخه لدې چې جانسن خپله خبره بشپړه کړي مکینزي وویل «په یاد به مو وي چې د اکبرخان پلار دوست محمدخان په ډهلي کې ناست دی.»

شولټن نه و قانع او بیا یې وویل «تاسو دغه وحشي افغانان سم نه پیژنئ. دوی دوه مخي دي. ظاهراً به له تاسو سره غوره مالي وکړي، خو په اصل کې ستاسو د وینو څښلو ته تږي ناست دي. اکبرخان له ښاغلي مکناټن سره څه وکړل؟ هیر مو شول چې افغانانو ښاغلي برنس څنګه په وحشیانه توګه ووژه؟ د همدغه اکبرخان له لاسه موږ پدې کړکیچ کې لویدلي یو، اوس تاسو څنګه پر هغه باور کوئ؟»

د خو شیبو لپاره هیڅ خبرې ونکړي. تولو مکینزي ته کتل چې د تر تولو مشر پوځي په توګه وروستی خبره وکړي.

مکینزي په کراره په خبرو پیل وکړ «د جګړې هر اصل پر عقل ولاړ دی. جګړه په تشو احساساتو نه ګټل کیږي، او احساساتي جنګیالي تل جګړه بایلي. زموږ مخې ته دوې لارې شته. یوه یې اوسني حالات کې پاتې کېدل دي چې زما له انده خان وژنه ده. بله لاره ترخه او بدرنګه ده خو د ژوندي پاتې کېدلو یوازنۍ لار ده. زه پوهېږم چې تاسو له ما نه پریکړه غواړئ، خو زه د پریکړې واک تاسو هر یوه ته پرېږدم.»

********

جبارخان ویکتوریا ډېر ژر وپیژندله. مینه هم عجب احساس دی چې مین د خپل معشوق په پیژندنې کې سترګو ته اړتیا نلري. جبارخان پر دې انګرېزې پیغلې مین و، خو له هغه څه چې یې له اکبرخان سره د ویکتوریا د تیښتولو پر سر لیدلي و، بیا یې نغوښتل چې تکرار شي. لکه د نور افغان مشرانو په څیر چې خپل سر، مال او عزیزان یې د هیواد د خپلواکۍ په لاره کې قربان کړي و، جبارخان هم پر زړه غټه ډبره ایښې وه او پریکړه یې کړې وه چې د ویکتوریا مینه به یې د جهاد په وړاندې خنډ نشي.

اکبرخان د تېر په څیر پخپله پر انګرېز اسیرانو پوښتنه او ګرویږنه کوله. که څه هم چې په لومړۍ ورځ او شپه کې اکبرخان خپله ډېره پاملرنه د جنرال الفنستون ساتنې ته ورکړه، خو په سبا یې د نورو د احوال پوښتلو ته ورغی.

ویکتوریا د اکبرخان له خولې نه د «السلام اعلیکم» له اوریدلو سره سم سترګې ور واړولې او لکه پر مغزو چې یې زور اچوه چې کوم څه ورپه یاد شي سترګې یې کښیکاږلې او بیا یې په لوړ غږ وویل «اوه زما خدایه! ته اکبرخان یې؟»

اکبرخان هم چې د ویکتوریا مخ ته څیر شو نو یې وپیژندله او ورنږدې شو او وې ویل «هو. زه اکبرخان یم....او ته خو ویکتوریا یې!»

ویکټوریا ودریدله او په ژړغوني آواز یې وویل «وګوره پر موږ څه محشر ورځ تېرېږي. زما مور ووژل شوه. زما خورلڼې کریستینا هم ووژل شوه. ډېر نور بنه انسانان هم ووژل شول.» او نور یې زغم له لاسه ووت او په لوړ غږ یې ژړا پیل کړه.

اکبرخان یې مخې ته چپ ولاړ و. لومړی خل و چې ده پریکړه نشو کولای چې څه وکړي. که له خلکو شرم نه وای، نو اکبرخان به ویکټوریا په غېږ کښې نیولې وای او آرامه کړې به یې وای. خو دې سپهسالار چې انګرېز لښکرو ته یې ماتې ورکوله، دا یې نشو کولای چې یوې مظلومې ښځې ته خپله غیره او پاکه مینه ورکړي.

ویکټوریا په ژړا او سلګیو کې بیا په خبرو پیل وکړ «په زرګونه انسانان ووژل شول. دلته انسان بل انسان خوري. دا وحشت به ترکله روان وي؟ ولې انسانان دلته د یو بل وژلو پر ځای له یو بل سره مرسته او خواخوږي نکوي؟»

اکبرخان ه ویکټوریا ته د هغې د مور او د کریستینا د مړینې له کبله ډاډګیرنه ورکړه او بیا یې وویل «دلته انسانان بد ندي. جګړه له انسانانو نه رحم او عاطفه اخلي او پر ځای یې کرکه او قساوت ایږدي. جګړه دلته زموږ هیواد، زموږ کلیو او زموږ کورنو ته راوړل شوې ده، پر موږ تپل شوې ده. موږ هم جګړه نغواړو. دلته هم خلک آرامه ژوند غواړي. دلته هم انسانان مري - پلرونه، میندې، وروڼه، زامن، میړونه، ماندینې او عزیزان مري.»

بیا یې مخ نورو انګرېزانو ته کړ او وې یل «موږ ستاسو هیواد ته جګړه نده درووړې. تاسو دلته د جنګ لپاره راغلاست. اوس وینئ چې جګړه هم موږ کړوي هم تاسو ژړوي. موږ به له تاسو سره مرسته وکړو چې بیرته خپل هیواد ته ولاړ شئ. خو له تاسو هیله کوم چې خپلو خلکو او مشرانو ته ووایاست چې نور موږ ته جګړه رانوړي.»

اکبرخان بیا ویکټوریا ته ورنږدې شو او ترینه یې وپوښتل «موږ به ستاسو د خوندي ساتلو لپاره د هیڅ شي سپماوی ونکړو. تاسو اوس څه شي ته ډېره اړتیا لرئ؟»

ویکتوریا ورته وویل «اکبرخانه، لطفاً جګړه مکوه! مونږ بل هیڅ نغواړو. هیله کوم نوره جګړه مکوه!»

اکبرخان که څه هم چې د هوکړې په بڼه ویکتوریا ته سر وخوځاوه، خو په خیر یې هغې ته کتل او د هغې د لویدلو سترګو او زهیرې بڼې کښې یې د کوم ژور رنځ نښې لیدلې.

ویکتوریا ژور خپګان (ډیپریشن) او سخت والګي نیولې وه او لدې کبله چې له څو ورځو راهیسې یې سم خواړه او خوب هم نه و کړی، د وجود مقاومت یې هم تقریباً فلج شوی و. د اکبرخان په ملګرو کې څوک طبیب نه و چې په بیړه د جنرال الفنستون او ویکتوریا درملنه وکړي. اکبرخان خپل څو کسه وټاکل چې سبا سهار وختي انګریز جنرال له نورو سره یوځای کابل ته ولیږي او هلته یې د پالنې او درملنې هڅه وکړي.

په همدغه شپه د ویکتوریا تبه ډېره لوړه شوه او د زړه دربا یې دومره زوروه شوه چې خنګته یې ناستو کسانو اوریدله. انګریز پیغلې څو ساعته له سختې تبې، درد او ساه لنډۍ سره لاس او ګریوان وه او اپلاکې یې ویلې. «هاغه دی پلار مې راغی. ما ته یې له شاهي بڼ نه ګلان راوړي دي. پلاره، زه درپسې ډېره دیغ شوې ومه. ته چیرې وې؟ زه دې هیره کړې وم؟» بیا به یې سد سرته ورغی او چپ به شوله.

د اکبرخان د سهار آذان ورکاوه چې ویکتوریا ژبه پر خپلو وچو او چاودلو شونډانو تېره کړله، او په نسبتاً لوړ غږ یې وویل «اکبرخان! لطفاً اکبرخان راوغواړئ. هیله کوم.»

اکبرخان له آذان ورکولو ورسته د ویکتوریا د کیږدۍ په لور رهي شو، خو یو څلي ودرید او شاته یې مخ واړاوه او په لوړ غږ یې وویل «انډیوالانو جماعت ماته مه څنډوئ.»

اکبرخان چې د ویکتور بڼه ولیده نو یې څنګ ته کښناست او راسته لاس یې په خپلو دواړو لاسونو کې ونیوه. اکبرخان د ویکتوریا سترګو ته په ځیر کتل، ښایي لومړی ځل و چې د هغې خړو سترګو ته یې دومره ژور کتل. دواړه چپ

ړه، او د يو بل سترگو کې ډوب وه. کله نا کله ژبه او الفاظ د انسانانو تر منځ د عواطفو او احساساتو په بيان کې پاتې راځي. او خاموشي او پکښې شته انرژي واک اخلي. پدغسې حالت کې معنا او احساسات د الفاظو له محدوديت هاخوا د انسانانو تر منځ تبادله کيږي. دلته د اکبرخان او ويکتوريا تر منځ دغه حالت و، دوی يو بل ته په کتو کې ډېرې معناوې او احساسات تبادله کړل - هغه څه چې هيڅکله به نه وليکل شي او نه به ولوستل شي.

«اکبرخانه! اکبرخانه! اکبرخانه!» د کيږدۍ له بهر نه دغو نارو سره اکبرخان ټکان وخوړ. د ويکتوريا د لاس سوړوالی يې په خپلو ورغيو کې احساس کړ. د ويکتوريا خړې سترگې لا پرانيستې وې او ده ته يې کتل. اکبرخان سترگې پټې کړلې او بيا يې پرانيستلې. له دواړو سترگو نه يې د اوښکو څاڅکي په منډه راوبهيدلې. شونډې يې په خوځيدو شوې او د يوې شيبې لپاره يې يو څه ويل بيا يې راسته لاس د ويکتوريا پر تندي کيښود او کرار يې پر سترگو راتېر کړ. د هغې سترگې د تل لپاره پټې شوې.

که څه هم اکبرخان تل د دښمن مړي د هغو ژونديو ته ورسپارل چې پخپل ديني طريقه يې تکفين وکړي، خو د ويکتوريا لپاره يې په همدغه سيمه کې خاورو ته وسپارل. الفنستون نشو کولای چې د ويکتوريا د ښخولو په مهال له خپلې کيږدۍ راووځي، خو د اکبرخان تر شا يو بل کس ولاړ و - جبارخان.

د اکبرخان لپاره جگړه پای ته رسيدلې وه. انگريز لښکر ټوله له منځه تللې و او هيڅوک د جگړې لپاره د اکبرخان مخې ته نه و ولاړ. د اکبرخان په اصولو کې د ماتي خوړلي دښمن وژل نه راتلل ځکه خو پاتې لږ شمير انگريز لښکريانو سره يې جگړه نه کوله. اکبرخان د لغمان په لور د تللو امر وکړ. د دې کار سره يې د يو ډول ژور آرامښت احساس وکړ. خوښ و چې د ويکتوريا وروستۍ غوښتنه - «هيله کوم نوره جگړه مکوه!» - يې پوره کوله. اکبرخان د دې لپاره هم لغمان ته تلو چې انگريز اسيران په يوه خوندي ځای کې وساتي. په کابل کې د اکبرخان په نشتون کې شاه شجاع توانيدلی و چې د پېسو، القابو او

نورو امتیازاتو له لارې امین الله خان لوګری، نواب زمان خان او نور سیمیز ملکان او مشران پرخان راټول کړي.

له اکبرخان سره ډګرجنرال الفنستون او یو شمیر نور انګرېزان هم د لغمان په لور وخوځېدل. الفنستون څو اونۍ وروسته د اکبرخان په یوه میلمستون کې مړ شو او مړی یې، د اکبرخان په امر، په جلال آباد کې د انګرېزانو چونۍ ته ولیږدول شو او همالته خاورو ته وسپارل شو.

د اکبرخان له ستنیدلو دوه ورځې وروسته، د انګرېز د لښکر ټول پاتي شونې، د مکینزي او شولټین په ګډون، د افغان بریدګرو په چریکي بریدونو کې ووژل شول. یوازې ډاکټر برایډن وتوانید چې د آس په مرسته له سیمې نه وتیښتي او خان تر جلال آباده پورې وروسوي.

د افغانانو او انګرېزانو لومړی جګړه د انګرېز لښکر په پوره تباهی پای ته رسیدلې وه. د انګرېزانو شاوخوا پنځلس زره کسان وژل شوي وه. پدوی کې اکثریت هندوان، بنګالیان او نیپالیان وه چې هیوادونه یې د انګرېزانو تر استثمار لاندي وه. سلګونه انګرېزان هم وژل شوي وه.

د وژل شویو افغانانو شمیر هم زرګونو ته رسیده، خو هیڅا سره کره شمیره نه وه. یوازې همدومره څرګند و چې د سیمې هرې کورنۍ یو یا دوه شهیدان ورکړي و. داسې کورنی هم وې چې هیڅوک نه و ترې پاتي.

د جګړې اصلي ګټونګی او فاتح باید اوس په ټول افغانستان کې د ملي اتل په توګه نمانځل شوی وای خو اکبرخان نه په کابل نه په کندهار او نه هم د افغانستان په کوم بل ښار کې وستایل شو. نه چا کوم موقف یا منصب ورکړ، نه یې کوم مډال یا بل انعام واخیست. د ستایلو او ګرانولو پر ځای، په کابل کې توطیې جوړېدلې چې څنګه د اکبرخان مخه ونیول شي او له منځه یوړل شي. که څه هم انګرېزان له منځه تللي وه، خو د اکبرخان په ضد توطیې او ترېګنی ختمې نه وې.

شاه شجاع ته د جګړې د میدان خبرونه په منظم ډول ورتلل. شاه چې ځان يې د مسلمان ولس اولاامر باله، له هر لمانځه وروسته به يې د انګرېزانو د بریا او د اکبرخان د جهاد د ناکامۍ لپاره دوعاوې کولې. شاه یوازې پر دې اصل ایمان درلود چې په افغانستان کې دی د خدای استازی دی او د خدای په استازیتوب دی د هر کار حلال او حرام ټاکي. د شاه له انده، د ده او د ده د انګرېز ملاتړو په وړاندې هر ډول بغاوت او نافرماني، هیڅ ډول شرعي او اسلامي مشروعیت نشي ترلاسه کولی.

هر ځلې چې به خبرچیانو خبر راوړ چې د انګرېز لښکر ته زیان وراوښتی یا دا چې اکبرخان پرمختګ کړی، شاه شجاع به د ناهیلۍ په بڼه سترګې آسمان ته ونیولې او بیابه يې لاسونه د دعا په توګه پورته کړل او تر شونډو لاندې به يې خبرې پیل کړې. شاوخوا خلک به نه پوهیدل چې شاه چا ته دوعاوې کوي - اکبرخان ته که انګرېزانو ته.

که څه هم چې د شاه بهرني ملاتړو ماتې خوړلې وه او له کابل نه وتلي و، خو افغان ملکان او مشران د دې پر ځای چې د اکبرخان د جهاد ننګه وکړي، پر شاه راټول شول او یو له بل پسې يې بیعت ورته کاوه. همدغه د افغانانو عجیبه رویه او خصلت و چې شاه شجاع به تل انګرېزانو ته ویل چې «دا خلک په جهالت کې دومره ډوب دي چې اصلاً د انسانانو خطاب نه ورته کیږي. دوی لکه پسونه چې پر هر لور يې بیایې پر هماغه لور ځي.»

امین الله خان لوګري، د کوهستان ملایانو او نورو ملکانو او مشرانو چې پخوا يې د شاه او انګرېزانو په خلاف د جهاد ننګه کړې وه، اوس ټولو شاه ته بیعت تازه کړی و. شاه امین الله خان ته د وزیرۍ ژمنه کړې وه او نورو ملکانو او مشرانو ته يې هم د منصب، پیسو، القابو او مځکو د ورکړې ژمنې کړې وې. عجیبه خو لا دا وه چې هماغه شاه چې د انګرېزانو د لښکر په زور واک ته رسیدلی و، اوس يې د انګرېزانو له ماتې نه تر ټولو ستره سیاسي ګټه پورته کړې

وه. له اکبرخان او ورته نږدې مشرانو پرته، نور ټول مشران اوس پر شاه شجاع راټول شوي وه.

خو د نوي او کاذبه محبوبیت تر څنګ، شاه ته یو ستر سرخوږی هم پیدا شوی و. ملایانو او مذهبي مشرانو په پرله پسې توګه له شاه شجاع نه غوښتل چې د انګرېزانو د پاتو شونو په خلاف جهاد اعلان کړي او پخپله د مسلمانانو د لښکر مشري وکړي. شاه شجاع هیڅکله ځانته دا حق نه ورکاوه چې د انګرېزانو په ضد جهاد څه چې یوه خبره هم وکړي. شاه په ډهلي کې ناست انګرېز وایسرا د خان ولینعمت باله. پداسې حال کې چې خلکو له شاه نه غوښتل چې د ننګرهار په لور لښکر وباسي او د انګرېزانو پاتي شوني له افغانستان نه وشړي، شاه شجاع هره اوني ډهلي ته پټ لیکونه لیږل او له انګرېزانو نه یې غوښتل چې ډېر زر اضافي پوځیان راولیږي چې اکبرخان ته ماتي ورکړي.

شاه پخپلو لومړیو لیکونو کې انګرېزانو ته لیکلي و چې د اکبرخان په زرګونه «لبغړ» له منځه تللي او په ډېر بد پوځي حالت کې دي. په یوه لیک کې شاه د برتانوي هند د پوځ د استخباراتو مشر چارلز مکګریګو ته لیکلي و «تاسو یوازې لس زره پوځیان راولیږئ چې د ختیځ لور نه د اکبرخان پر لبغړو برید وکړي، موږ به وروباندې د شا لخوا نه برید وکړو او په ګډه به دغه فتنه له منځه یوسو. تاسو ته استدعا کوم چې وخت مه ضایع کوئ او بیړه وکړئ!»

شاه شجاع په ډهلي کې له راروانو سترو بدلونونو نه و خبر. لارډ اکلنډ چې په کابل کې د انګرېز لښکر سختې ماتې خبر واورید نو سملاسي پر کټ پریوت او دوه اونۍ یې په سختو تبو او دردونو کې تېرې کړې. اکلنډ نه یوازې چې د ډهلي خزانه د افغانستان پر جګړې تشه کړې وه بلکې د بریتانیا امپراطوری لپاره د ستر تاریخي پیغور سبب شوی و. په کابل کې د انګرېز لښکر د بوربنونکې ماتې خبرونه آن اروپا او امریکا کې د انګرېز پوځیانو پر حیثیت او شهرت منفي اغیز کړی و او هغې انګیرنې یې ناسمې ثابتې کړلې چې ګواکې انګرېز لښکر هیڅکله ماتې نخوري. لندن د لارډ اکلنډ ناکامي نشو بخښلای، ځکه خو یې ادوارد لا په برتانوي هند کې د نوي وایسرا په توګه وټاکه. د نوي وایسرا/ګورنر

جنرال لومړنی او تر ټولو مهم ماموریت دا و چې په هر ډول چې کیږي باید د افغانستان د ماتې جبران وکړي. لندن کې مشرانو ادوارد لا ته په ټینګه ویلي و چې «له افغانانو داسې غچ واخله چې اوه راتلونکي نسلونه یې هم انګریزانو سره بیا د جګړې زړه پیدا نکړي.»

پداسې حال کې چې شاه په بې صبرۍ د انګریز لښکر د بیا راتګ غوښتنې کولې، د پل خشتي د جومات امام او د کابل د علماو مشر میرحاجي، د میرمسجدي کشر ورور، له خپلو مریدانو او پلویانو سره د کابل-جلال آباد لارې ته د جهاد له تور علم سره راووت. میرحاجي اعلان کړی و چې هر څوک چې له ده سره جهاد ته نه ځي او په کابل کې پاتیږي، مرتد دی او په مسلمانانو کې نه شمیرل کیږي. د میرحاجي پلویانو د زیارتونو توغونه، پنجې او علمونه له ځانه سره وړل او په سر کې یې پخپله میرحاجي پداسې حال کې چې پرانیستی قرآن یې په لاسونو کې و، روان و.

شاه شجاع نور مقاومت نشو کولای. د اپریل پر ۴، شاه زړه نازړه له بالاحصار نه راووت او د سیاه سنګ په سیمه کې یې له راغونډو شوو مشرانو سره ولیدل. شاه له ځان سره دوه لکه روپۍ او لسګونه چپنې هم راوړې وې چې پر بانفوذه ملکانو او مشرانو باندې یې وویشي. د شاه له راتګ سره په سیاه سنګ ګې د الله اکبر نارې پورته شوې. د امین الله خان لوګري او نواب زمان خان بارکزي په ګډون د جهاد نږدې ټول مشران حاضر وه.

شاه خلکو ته اعلان وکړ چې دی به ورسره یوځای د جلال آباد په لور وخوځیږي او د ده په نشتون کې به شهزاده شاهپور د کابل د والي په توګه کار وکړي او د امین الله خان لوګري زوی، نصرالله خان لوګری، به یې معاون وزیر وي. شاه دغه راز تر ټولو ډیرې نغدې پیسې امین الله خان لوګري ته ورکړې او هغه یې ډیر وستایه. د شاه دې کار نواب زمان خان ډیر خوابشینی کړ. زمان خان چې د خپلو بارکزیو د کلک مخالفت سربیره یې شاه ته بیعت کړی و، ځان یې تر نورو ډیر د شاه د التفاتو او مهربانیو مستحق باله.

شاه د مازدیګر لمونځ هم په سیاه سنګ کې وکړ او بیا یې وویل چې سبا سهار وختي به له لښکر سره د جلال آباد په لور مزل پیل کړي. تر لمانځه وروسته، شاه شجاع د بالاحصار په لور ولاړ چې له خپلو ماندنیو سره خداي په اماني وکړي. دغه شپه پر شاه ډېره سخته تېره شوله او تر سهاره یې آرام ونکړ. ټوله شپه یې بدې فکرونو کې تېره کړله چې دی به څه ډول په جلال آباد کې د جنرال سیل سره جګړه کوي. شاه څو ځلې نفلونه وکړل او دوعاوې وکړلې چې له جګړې نه بچ شي.

د سهار آذان شوی وی چې شاه د جواهراتو کڅوړه په لاس د خپل خوب له خونې راووت او شاهي ډولۍ ته وخوت. تر وتلو دمخه یې پرده پورته کړله او د خپل دالان او دربار ودانی ته یې وکتل، بیا یې پرده خوشې کړله او دوعاوې یې پیل کړې.

د شاه سره بوازې شاوخوا شل کسه ساتونکي و. څکه نور مستخدمین او حاضرباشان یې سیاه سنګ کې ورته منتظر و. د شاه ډله د بالاحصار له غونډۍ پوره راکښته شوې نه وه چې ناېره د ډزو غږونه پورته شول، شاه خپل کیڼ اړخ کې پرده پورته کړله چې وګوري چې خبره ده خو په همدغه شیبه کې دوو لاسونو د ښي اړخ نه تر جامو ونیوه او د ډولۍ نه یې کښته راغورځاوه. لا پوره رښا نه وه چې شاه وګوري چې بریدګر څوک دي، خو یو څوک چې مخ یې پوښلي و له آس نه راټوپ کړل او د الله اکبر چغه یې وراباندې وکړه. بریدګر سملاسي شاه تر ګریوانه ونیوه، له مځکې نه یې راپورته کړ او سترګې په سترګو کې شو ورسره، بیا یې په زوره شا ته پورې واهه او د ټوپک دوې ډزې یې وراباندې وکړې. یوه مرمۍ د شاه په ځیګر غاړې ته نږدې او بله یې د زړه پر سر ولګېدل.

د شاه له وژلو سره سم بریدګر لکه مځکې چې وخوړل له سیمې نه ترې تم شول. څینو ساتونکو به چغو د بالاحصار خوا ته منډې کړلې، خو څینو نورو بیا د شاه ډولۍ ته منډې کړلې او د جواهراتو پر کڅوړې یې شخړه پیل کړه. د شاه درې شخصي حاضرباشان چې د یو څو شیبو لپاره هک پک پاتي وه، د شاه

مړي ته ودریدل او لومړی یې خو ځلې نارې وربانديې وکړې او بیا چې ډاډه شول چې هغه مړ دی نو له ګوتو نه یې ګوتمۍ راوایستلې او په بیړه یې خو ګزه لرې مخکه لړ وکیندله او هلته یې ښځې کړلې او بیا یې خو ډبرې شاوخوا د ښځې په بڼه وربانديې کېښودې.

د شاه شجاع مړی تر ۲۴ ساعتونو پورې په هماغه ځای کې پروت و. شهزاده شاهپور لدې ویرې چې بریدګر پر حرم برید ونکړي. د بالاحصار دروازې کلکې وتړلې. یوه ورځ وروسته چې دوه مستخدمین د شاه د مړي د ښخولو لپاره راغلل نو د هغه بې روحه جسد یې لخ لغړ وموند ځکه خلکو جامې هم ترې ایستلې وې. شاه شجاع الملک د ۵۶ کالو و چې ووژل شو.

د شاه ارمان د هغه تر مړینې وروسته پوره شو. تورنجنرال جورج پولوک له ۳۰ زرو سپاهیانو او جنګیالیو سره د پیښور له لارې جلال آباد ته راورسید. د انګرېز دې لښکر ته د غچ اخیستلو د لښکر نوم ورکړل شوی و او هر یوه ته ویل شوي و چې د افغانانو پر ماشومانو، ښځو، او زړو څه چې آن پر ځارویو او ونو بې باید رحم ونکړي او هر څه چې د ژوندي په توګه مخې ته ورځي، باید له منځه یې یوسي.

د انګرېزانو لخوا د افغانانو د ټول وژنې او بورینونکو جنایتونو کیسه به بیا وکړو.

**پای**

PDF کوونکی فتح الله فاتح

شماره:: 0766237048

مړي ته ودریدل او لومړی یې خو خلي نارې ورباندې وکړې او بیا چې داده شول چې هغه مړ دی نو له گوتو نه یې گوتمۍ راوایستلې او په بیړه یې خو گزه لرې مخکه لړ وکیندله او هلته یې ښخې کړلې او بیا یې خو دبرې شاوخوا د نښې په بڼه ورباندې کیښودې.

د شاه شجاع مړی تر ۲۴ ساعتونو پورې په هماغه ځای کې پروت و. شهزاده شاهپور لدې ویرې چې بریدگر پر حرم برید ونکړي، د بالاحصار دروازې کلکې وتړلې. یوه ورځ وروسته چې دوه مستخدمین د شاه د مړي د ښخولو لپاره راغلل نو د هغه بې روحه جسد یې لڅ لغړ وموند څکه خلکو جامې هم ترې ایستلې وې. شاه شجاع الملک د ۵۶ کالو و چې ووژل شو.

د شاه ارمان د هغه تر مړینې وروسته پوره شو. تورنجنرال جورج پولوک له ۳۰ زرو سپاهیانو او جنگیالیو سره د پیښور له لارې جلال آباد ته راورسید. د انگریز دې لښکر ته د غچ اخیستلو د لښکر نوم ورکړل شوی و او هر یوه ته ویل شوي و چې د افغانانو پر ماشومانو، ښځو، او زړو څه چې آن پر څارویو او ونو یې باید رحم ونکړي او هر څه چې د ژوندي په توگه مخې ته ورځي، باید له منځه یې یوسي.

د انگریزانو لخوا د افغانانو د ټول وژنې او بورنونکو جنایتونو کیسه به بیا وکړو.

**پای**

PDF کوونکی فتح الله مانځ

شماره:: 0766237048



هغه کتابونه چې ما PDF کړي دي

د حجاز کاروان

د زړو هنداره کوزه

د طرابلس زمریان

جنت کوټ

شپږ ستوری لمر

د نیشاپور ګرېت

له تکبیره تر فرباده

د دوندو لبوان

د اصفهان فاتح

وزیر اکبر خان: همدغه کتاب

ترڅېله وسه کوشش کوم چې نور کتابونه

هم PDF کړم: ستاسو ورور فاتح

په دعاګانو کې مو یاد ساتئ

## د ناول په اړه:

په ۱۹۳۹-۱۹۴۰ میلادي کلونو کې د افغانانو او انگرېزانو تر منځ د لومړۍ جگړې په ډگرونو کې د اتلولیو او سرښندنو ترڅنگ، په ځینو ځوانو زړونو کې د مینې گلونه هم غوړېدل. ډېری انگرېزان له یوه شل کلن افغان ځوان څخه وېرېدل، خو دوو انگرېزو پېغلو ورسره پاکه مینه کوله. د جگړې اتل اکبرخان مینې ته څه ځواب ورکړ؟ د رښتونو تاریخي پېښو په دې ناول کې یې ولولئ.

## د لیکوال په اړه:

اکمل داوي، خبریال او ژباړونکی دی. پر ټویټر د افغانستان او افغانانو په اړه خبرونه او خپل اندونه لیکي: @akmaldawi

ISBN 978-9936-647-31-2
9 789936 647312



تاریخي ناول

# اکبرخان

## مینه او جګړه

اکمل داوی